بسم الله الرحمن الرحيم

## کتاب پیژندنه

**د کتاب نوم:** احصائیه او احتمالات

**څانگه:** اداره او منجمنت

**مولف:** محبوبه مموزی او میره محمد شاه رفیعی

**ژباړن:** نورالله عماد

**د څار کمېټه:**

- محمد آصف ننگ د تخنیکي او مسلکي زده کړو معین
- ديپلوم انجنير عبدالله کوزابي د تعليمي نصاب رييس
- محمد اشرف وحدت په تعليمي نصاب کې د معينيت د مقام سلاکار

**د تصحیح کمېټه:**

- محمد احسان احسان
- شیرگل شینواری

**د گرافیک او ډیزاین څانگې مسئول :** محمد جان علیرضایي

**گرافیک او ډیزاین:** محمد سلیم خان

**چاپ کال:** ۱۳۹۲ لمریز کال

**تیراژ:** ۳۰۰۰

**چاپ ځل:** لومړی

**وېب پاڼه:** www.dmtvet.gov.af

**برېښنالیک:** info@dmtvet.gov.af

**کړ ISBN:** ۹۷۸۹۹۳٦۳۰۰٥۱٤

Ketabton.com

د چاپ حق د تخنیکي او مسلکي زده کړو له معینیت سره خوندي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی
دا عزت د هر افغان دی

کور د سولې کور د تورې
هر بچی يې قهرمان دی

دا وطن د ټولو کور دی
د بلوڅو د ازبکو

د پښتون او هزاره وو
د ترکمنو د تاجکو

ور سره عرب، ګوجر دي
پاميريان، نورستانيان

براهوي دي، قزلباش دي
هم ايماق، هم پشه يان

دا هيواد به تل ځليږي
لکه لمر پر شنه آسمان

په سينه کې د آسيا به
لکه زړه وي جاويدان

نوم د حق مو دی رهبر
وايو الله اکبر وايو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهنې وزير پيغام

**ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!**

د يوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پياوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زيار پورې تړلې دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هيواد انکشافي اهدافو ته د رسيدو لارې چارې طی کوي او د يوه نيکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمينوي.

انسان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انساني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د يوه سوکاله ژوند د اسبابو او ايجاباتو د تکميل لپاره خپل اغيزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

له همدې ځايه ده چې د يوه ژوندي او فعال انسان نقش، د خپل ژوند د چاپيريال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هيڅ حالت کې نه نفی کيږي او نه هم منقطع کيږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت مسووليت او مکلفيت لري چې د اسلامي ارزښتونو، احکامو او همداراز معقولو او مشروعو قوانينو ته په ژمنتيا سره، د افغانستان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، ځکه دغه ستر او سپيڅلي هدف ته د رسيدو په خاطر د انساني ظرفيت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنيکي کادرونو روزنه او پراختيا يو اړين مقصد دی. همدا په تخنيکي او مسلکي زده کړو مزين تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سيستماتيک ډول د هيواد انکشاف محقق او ميسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند تګ لاره، دولتداري او ټولنيز نظام د اسلام له سپيڅلو احکامو څخه الهام اخيستی، نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي بايد په علمي معيارونو داسې اساس او بنا شي؛ چې زموږ د کارګر نسل مادي او معنوي ودې ته پکې لومړيتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفيت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربيت او په سوچه اسلامي روحيې د هغوی پالنه نه يوازې پخپل ذات کې يوه اساسي وجيبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه يې وژغوري او د نورو له سياسي او اقتصادي احتياج څخه يې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه استادان او مربيون بايد په بشپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نيکمرغه افغانستان ارمان، يوازې او يوازې د دوی په پياوړو متو، ويښ احساس او نه ستړي کيدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنيکي زده کړو له امله کيدای شي په ډيرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصاب له ټولو ليکوالانو، مولفينو، ژباړونکو، سموونکو او تدقيق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهير کې د ټولو کورنيو او بهرنيو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرستو څخه د زړه له کومي مننه کوم. له درنو او پياوړو استادانو څخه رجامندانه هيله کوم چې د دې نصاب په ګټور تدريس او فعاله تدريب سره دې د زړه په ټول خلوص، صميمي هڅو او وجداني پيکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نيکمرغه، مرفه، پرمختللي او وياړمن افغانستان په هيله

**فاروق وردګ**
**د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| څپرکی | سرلیکونه | پاڼې |
| --- | --- | --- |
| لومړی | د احصائیې تعریف او اصطلاح | ۱-۸ |
| دویم | د احصائیوي څېړنو پړاوونه | ۹-۲٤ |
| درېیم | د پېښېدو (وقوع) بیا وېشنه او د فریکونسي وېشنه | ۲۵-٤۲ |
| څلورم | مرکزي (اوسط) میلان مقیاس | ٤۳-۷۸ |
| پنځم | د انحراف یا خورېدو (پراګندګۍ) مقیاسونه | ۷۹-۹۰ |

| | دویم برخه | |
| --- | --- | --- |
| | مقدمه: احتمالات | ۹۱-۹۲ |
| لومړی | د احتمالاتو مفاهیم | ۹۳-۱۰٤ |
| دویم | د احتمالاتو د سنجش بنسټیز قواعد | ۱۰۵-۱۱۰ |
| درېیم | د ترکیباتو تیوري | ۱۱۱-۱۱۸ |
| | سرچینې او اخیستنې | ۱۱۹ |
| | د ښوونیز نصاب د پراختیا د ریاست پیغام | ۱۲۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مقدمه**

له نفوس، توليدي او صنعتي موسساتو او د يو هيواد له محصولاتو څخه په دقيقه توګه معلومات لرل مبرمه اړتيا ده، چې له دې پرته د هر ډول ټولنيزو او اقتصادي پاليسيو طرح او تطبيق او د طرحه شوو پلانونو تحقق غير ممکن وي. د همدې اړتيا له مخې د پرمختګ او ودې په لور ګام په ګام ويښ او متمدن بشريت د معلوماتو او تخليص د راټولولو او له هغه څخه د نتيجه اخستلو په غرض له علمي ميتودونو او روشونو څخه استفاده کړې ده.

د حساب سيستماتيک مفاهيم او منظم تکامل انسان بريالی کړ تر څو د احصائيې او احتمالاتو د علم بنسټ کيږدي او د همدې علم په مرسته اوس هم زياتې ستونزې او مهم مسايل په اقتصادي او ټوليزو کارونو کې حلوي. د احصائيې او احتمالاتو تيوري چې نن ورځ د زياتره تعليمي ځانګو لکه اقتصاد، کرنې، کمپيوټر د مطالعې وړ ګرځول کيږي، توانيدلې د معاصر انسان د ټولنيزو فعاليتونو ټول اړخونه تر خپلې وړانګې لاندې راولې. په عمومي بڼه احصائيه د لوړو رياضياتو له يوې څانګې څخه ده چې د تاريخ له علم سره ډېر لرغونتوب لري.

له احصائيې څخه په استفادې کولای شو له محدودو معلوماتو څخه نسبتاً دقيقې نتيجې لاس ته راوړو. له دې پلوه متخصصينو احصائيه د هنر د تصميم نيونې په شان په نامعينو شرايطوکې تعريف کړې ده. زموږ ګران هيواد چې د تخنيکي او مسلکي بيا رغونې په حال کې دی، د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت د مسلکي او فني کادرونو او د مؤثرو او بريالیو اداري کارکوونکو روزنه يې د خپلو دندو له برخو څخه ګرځولې ده او هڅه کوي چې د ادارې او حسابدارۍ د انستيټيوټونو له لارې کارکوونکي وروزي تر څو وکړای شي په دولتي او خصوصي ادارو کې د کارونو د ادارې او لارښوونې په غرض، د کاري پلانونو د جوړونې او سمبالښت دندې سرته ورسوي. نو ځکه د هغوی خبريدل د احتمالاتو او احصائيې له اساساتو څخه او د هغه په کار اچونه په ورځنيو کارونو کې يو له مهمو اړتياوو څخه شمېرل کيږي. هيله لرو تر څو ګران محصلين د دغه اثر په مطالعې سره وکولای شي د احصائيې د علم په ارزښت ځانونه پوه کړي او وکړای شي د دندو د سرته رسولو پر وخت له هغې څخه مطلوبه ګټه واخلي.

په درناوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کتاب ټولیزه موخه:**

- د احصایې تعریف، د احصایوي پراوونو پېژندل، مرکزي میلان مقیاس او د انحراف یا خوریدو د مقیاسونو پېژندل.
- د احتمالاتو، د هغوی د بنسټیزو قواعدو او ترکیباتو د تیورۍ پېژندنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## د احصایې تعریف او اصطلاح

**ټولیزه موخه:**
د احصایې له اصطلاح او تعریف څخه بشپړه پوهه

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې محصلین کولای شي لاندې موضوعات تعریف او توضیح کړي:

1- په علمي بڼه د احصائيې مفهوم او د احصائيې د علم تعریف
۲- له ټولنې سره د احصائيې د اړیکو مفهوم
۳- د احصائيې تاریخچه
۴- د اقتصاد او پلان جوړونې په امورو کې له احصائيې څخه د استفادې موارد

احصائیه عربي کلمه ده چې معنا یې د ژوند د اړوندو مسایلو شمارل، نیول او کله هم شمېرل ښکاره کوي. د اقتصاد د پوهانو او د احصاپې د نظر خاوندانو په عقیده د Statistic کلمه د status له کلمې څخه مشتق شوې چې، له هغې څخه د قانوني وضعیت او قانوني موقف مفاهیم استنتاج کیږي. سربېره پر دې له نوموړې کلمې څخه د حکومت، حالت او وضعیت معنا هم اخیستل کیږي. د status علمي تفسیر د دولت او سیاستوالو د اړتیا وړ ارقامو او معلوماتو په کلمې منتج کیږي.

د احصائیې د علم په اړه بېلابېل تعریفونه ورکړل شوي، چې ځینې یې محدود مفاهیم او ځینې نور یې پراخ مفاهیم رانغاړي، مثلاً یو یې د ارقامو علم او بل یې د یوې پرمختللې یا پرمختګ په لور ټولنې د خصوصیاتو د موندلو مطالعې وسیله ښودلې. ځینو د زیاتو طبقاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بېلابېلو ګروپونو مطالعه، د احصائيې د علم د ښکاره ځانګړنو له جملې څخه ګڼلې ده، چې په ټولیزو اصولو سره، د کار وړ اطلاعات د دولت د کارکوونکو اوسیاستوالو د علمي څېړنو د استفادې په غرض ارزښتناک نقش لري. د احصائيې د مفهوم موضوع او اطلاق له کچې یا اندازې څخه عبارت ده یا په بل عبارت هغه څیزونه یا موضوعات، چې د شمار په قید کې د راتلو امکان و لري او د شمېرلو په مرسته  څرګندېدلای شي د هغه په علمي او پراخه مفهوم کولای شو احصائیه داسې تعریف کړو:

احصائیه د لاندې موضوعاتو په غرض د علم یا علمي طریقو له مجموعې څخه عبارت ده:

۱- د معلوماتو او شمېرو(اعدادو) راټولونه، لنډیز او ترتیب.

۲- د معلوماتو او شمېرو(اعدادو)څرګندول.

۳- د معلوماتو او شمېرو(اعدادو) مطالعه او تحلیل.

۴- د معلوماتو او شمېرو(اعدادو) نتیجه ګیري، تفسیر او څېړنه .

۵- د تحلیل شوو معلوماتو او شمېرو(اعدادو) په نظر د تصامیمو نیول.

په بل عبارت احصائیه د تحلیل شوو معلوماتو او شمېرو(اعدادو) په نظر د علم یا د علمي میتودونو له مجموعې څخه د ټولونې په غرض، په یو یا څو برخو کې د معلوماتو او شمېرو (اعدادو) د څرګندولو او تحلیل له انسجام او د هغه په اړه نتیجه اخیستنې او تصمیم نیونې څخه عبارت دی. په عملي ژوند کې د احصائيې له یوې ورځې نه بلې ورځې ته زیات او دایمي اهمیت د انکار وړ نه دی او په درملنه (طبابت)، بیالوژي، کیمیا، فزیک او بالاخره د طبیعي علومو په ټولو څانګو کې یې د منلو وړ اهمیت لاسته راوړی دی. همدارنګه د ذهني علومو نیمه برخه هم رانغاړي. په ځانګړی توګه په هغو علومو کې، چې د هغوی د بحث وړ توکی یا(اجزاوې) بشپړ وي او بشر د ټولنې(جمعیت) په توګه په دولتي، کلتوري او اقتصادي ژوند کې ځانګړی راول لوبوي او د دې علم له مرستې څخه سترګې نه شي پټولای.

### له ټولنې سره د احصائيې اړیکې:

د هرې ورځې په تېرېدو سره  بشر دننني ژوند مفاهیمو ته اړتیا پیدا کوي، چې د احصائیوي تحلیل شوو معلوماتو پر مخ ټینګ ولاړ وي او سربېره پر دې د احصائیوي مډرنو روشونو بنسټ ایښودنه د احتمالاتو د تیوریو د اساساتو له مخې شوې ده. د علومو په بېلابېلو څانګو لکه بیالوژي، طب، اقتصاد، اجتماعیات، ښوونې او روزنې،کرنې او صنعت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تل د استفادې وړ ګرځي. البته له احصائيې څخه په ځينو څانګو کې له يوې برخې څخه او په نورو څانګو کې له بلې برخې څخه ګټه اخيستل کيږي. له احصائيې څخه د علومو له څانګو څخه د يوې څانګې په توګه او له خاصو ميتودونو او روشونو څخه د يوې ساحې په توګه په لاندې ډګرونو کې په پراخه توګه کار اخيستل کيږي:

۱- د کرنې او صنعتي محصولاتو د توليد او توضيح په ډګرکې.

۲- د نفوسو،کورنيو او وګړو د خصوصياتو په ډګر کې.

۳- د مهاجرتونو، مسافرتونو او په هغه پورې د اړوندو حالاتوپه ډګر کې.

۴- د فزيکي، اقتصادي، ټولنيزو بنسټونو د ودانولو او د هغوی د ساتنې او څارنې په ډګر کې.

۵- د علومو په بېلابېلو څانګو کې د علمي څېړنو، مطالعاتو او سروې ګانو په ډګر کې.

۶- د سياست، رهبري د روشونو، ټاکنو او انساني حقوقو په ډګر کې.

۷- د مالياتو د ټولونې او ترانسپورت په ډګر کې.

۸- د ملي او نظامي خدماتو د ښوونې او روزنې او د نفوسو د جلب په ډګر کې.

۹- د ساينس او تکنالوژۍ په ډګر کې.

۱۰- د بېړنيو حالاتو اوچټکو مرستو، بيا رغونې او د اقتصادي پراختيا په ډګر کې.

**د احصائيې تاريخچه:**

احصائيې د دولتونو د اختصاصي علومو، پراختيا او پيدايښت له څانګو څخه د يوې څانګې په توګه ارتوالی او انکشاف پيدا کړی او اوږده سابقه لري. لرغونو مصريانو، بابليانو اوروميانو به د سرچينو او نفوسو مفصل ريکارډونه د دولت د کارونو په منظور ساتل. د ارسطو په وخت کې به احصائيه د دولتي، نفوس شمېرنې او ټکسونو په مسايلوکې په کار اچول کيده.

د روم په امپراتورۍ کې له هغې څخه د کار اخيستلو شواهد شته، د يوناني سکندر لپاره احصائيه د اهميت وړ وه. د هغه وخت امپراتورۍ د لومړي ځل لپاره د خپل دولت بيلانس سمبال کړ چې، خپل عساکر او بيړۍ به يې شميرلې. همدارنګه مصريانو او روميانو په بېلابېلو مواردو کې له احصائيوي روشونو څخه استفاده کړې ده. د بېلګې په ډول د يوناني فيثاغورث په وخت کې له اوسطو قواعدو او د وسطي حدودو سنجش څخه استفاده شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

احصائيه په ۱۶ او ۱۷ پیړۍ کې په ځانګړي توګه د قمار د لوبو د اوښتونکو ترمنځ مروجه وه ځکه چې هغوی په احتمال او چانس عقیده درلوده او ستونزې او مسایل به یې د هغې زمانې لویو علماوو لکه ګالیله(Galila)، کاردینو (Cardano)، برنولي او فرمت (Farmet) ته وړاندې کړل تر څو له هغوی څخه ځواب لاس ته راوړي. په عین وخت کې د احصائیې زیات پرمختګونه په اروپا کې رامنځ ته شول. لومړی جان ګرانت (John Grant) په انګلستان کې د ریاضیاتو له لارې د احصائیې په اړه مطالعه وکړه. په طبي احصائیو کې یې بیمې او اقتصاد په نشر ورسول. د نوموړي مطالعات وروسته په دقیقه توګه په قاعده کې د لویو اعدادو تر سرلیک لاندې د برنولي په مرسته توضیح او تشریح شول او وروسته یو اثر د پیارسون Pearson په مرسته خپور شو.

دیمایتر Demoiter عالم، د لومړي ځل لپاره په ۱۷۳۳کال کې توضیح جوړونه ونوموله. همدارنګه د نجوم په ساحه کې د احتمالاتو د تطبیق قوانین د لاپلاس Laplace او ګوس Gouss په مرسته تر سره شوې دي. د ۱۹ پیړۍ په پیل کې بلجیمي مشهور منجم او احصائیه پوه ادولت کواتلیت د لومړي ځل لپاره احصائیوي تیوري ګانې د علمي څېړنو په سر ته رسولو کې د میتود او روش په توګه د استفادې وړ وګرځولې. همدارنګه دVnapp په نوم یو عالم د عمر په بېلابېلو وختونو کې د انسانانو د مړینې په اړه احصائیه جوړه او خپره کړه. ګالتن Galton د بیولوژۍ په ساحه کې د وراثت په علم پورې اړوند مخصوصو مسایلو کې د احصائیوي روشونو تطبیق مروج کړ او انګلیسي احصائیه پوه رونالد فشر Ronand Fisher هم د کرنې په ساحه کې د علمي او تحقیقاتي تجربو د طرحې په اړه احصائیه په ښه توګه مروجه او پراخه کړه.

له تاریخي پلوه د احصائیې تیوري خپل پراختیایي پړاوونه د زیاتو علماوو په مرسته د نړۍ په بېلابېلو ځایونو کې وهلي دي. دا یو ستونزمن کار دی تر څو د بېلابېلو ځانګو د پوهانو لست چې د احصائیې په پراختیا کې یې مرسته کړې جوړ کړو! د احصائیې د تاریخچې په هکله زیاتوو چې:

۱- په چین او لرغوني هند کې د مسیح له میلاد څخه زرکاله وړاندې د نفوس سرشمیرنه او د شتمنیو، مالونو او نفوسو اندازه نیونه منځ ته راغلې ده.

۲- له میلاد څخه وړاندې د درې زره کلونو په شاو خوا کې مصریانو، بابلیانو او رومیانو د نفوسو او ځمکو ریکارد ساته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- له میلاد څخه ۳۵۰۰ کاله ترمخه په مصر کې د نفوسو سرشمېرنې رواج درلود، په کلیمیانو(ټپیانو) پورې اړوند یو کتاب((د اعدادوکتاب))په نوم چې د سړیو سرشمېرنه د سرتېرو د جلب په مقصد د جنګ لپاره رانغاړي.

۴- په اتلسمه پیړۍ کې دولت پیژندنه په پوهنتونونو کې تدریس کېده، دا څانګه یې د Statistics په نوم یادوله، چې وروسته د Arithmetician politics سیاسي حساب دانانو په نوم منځ ته راغله.

۵- په مصر کې د فرعون په وخت کې نغده کلنګ (خراج) او کلنګ یا خراج له خپله محصولاتو څخه اخیستل کېده، دا کلنګ د څو کلنو د منځنیو پیداوارو په اساس محاسبه او وروسته اخیستل کېده.

۶- د خُلفای راشدینو او حضرت عمرفارق(رض) په دوره کې د ځمکو تقسیم بندي د خلافت تر نظام لاندې منځ ته راغله. د حکامو د مالونو او جایدادو حساب اخیستنه او حساب ورکونه تر سره کېده.

دعراق له فتحې سره هم مهاله د خلکو شمېرنه منځ ته راغله. سعد بن وقاص (رض)د کرنیزو ځمکو اندازه کول پیل کړل.

۷- انګلیسي رونالد فیشرRonal Fisher چې تر ۱۹۶۲کاله ژوندی ؤ، د کرنې په ساحه کې څېړنې او د علمي څېړنو په برخه کې یې په بې ساري توګه احصائیې ته پراخوالی ورکړ.

په افغانستان کې له هغې دورې څخه چې، د مستوفیتونو نوم اخیستل کیږي، د حکومتونو معاملات له احصائیې سره او د احصائیې په کار اچونه د حکومتي (عامه) شتمنیو په راټولونه او سمبال کې څرګندوي.

په وروستیو کلونو کې احصائیه د یوه دسپلین په بڼه منځ ته راغله او په زیاتره علمي او نظري څانګو کې یې د ورځې په تېرېدو سره ډېر اهمیت تر لاسه کړی او د دې پیړۍ په نیمایي کې د احصائیې کورسونه په ترتیب سره د ښوونې او روزنې، اقتصاد او د روحیاتو په ډیپارټمنټونو کې او اوس د بېلابېلو هیوادونو د پوهنتونونو په زیاترو ډیپارټمنټونو کې تدریس او تعقیبیږي. د ۱۳۵۴ لمریز کال له پیل نه را په دې خوا احصائیوي رشتوي مضامین او د احصائیې او اکسونومتري څانګه (ډیپارټمنټ)د اقتصاد د پوهنځي په چوکاټ کې منځ ته راغلې، چې د اقتصاد پوهنځي د دې ډیپارټمنټ لومړني فارغان د ۱۳۵۶لمریز کال په پای کې ټولنې ته وړاندې شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**له احصائيې څخه ګټه اخيستنه او په پلان جوړونه او اقتصاد کې د هغې اهميت:**

څرنګه چې مخکې يادونه وشوه د احصائيې تاريخي لرغونتوب ډېرو تېرو زمانو ته رسيږي، د احصائيې پراختيا او د استفادې موارد هم بېلابېل پړاوونه وهلي او اوس هم د ودې په حال کې ده. په لرغونو ټولنو کې احصائيه د نفوس د شمېرلو، د مالياتو ورکړه او د مکلفيتونو د سرته رسولو په مقصد په کار اچول کېده. له حياتي احصائيې او د نفوسو د احوال ثبت سره مينه له دوو اړخونو زياته شوي. يو له دې اړخه چې د ساري ناروغيو تلفات او شيوع يې په سمه توګه وسنجول شي او پرې پوه شو. او بل له دې اړخه، چې نفوس د دولت مهم قدرت او عظمت په خاصه توګه نظامي قدرت پېژندل کېده. د حياتي (مړينه او زېږېدنه) احصائيو له ثبت او د نفوسو له احصائيې څخه وروسته، په اروپا کې زياتره په کليسا ګانو کې د کشيشانو په مرسته په دفترونو کې ليکل کيدې او دولتي څانګو هغه ته اعتبار ورکاوه. همدارنګه په اروپا کې اقتصادي احصائيې په خاصه توګه بهرني تجارت او قيمت بيه اوسپنو (فلزاتو)په تدريج سره اهميت ترلاسه کړ. احصائيوي معلومات، چې په غالب ګمان د دولت پټ رازونه پېژندل کېدل، په تدريج سره په ورځپاڼو او جريدو کې خپرې او په هر ځای کې ووېشل شوې. د احصائيوي معلوماتو د صحت او اعتبارپه اړه لازمې څېړنې ترسره شوې. په احصائېه او اقتصاد کې د رياضي او احتمالاتو شاملول د احصائيې په زياته پراختيا کې ځانګړي قدمونه وشمېرل شول. د احصائيوي علماوو لومړنۍ نړيواله جلسه په ۱۸۵۳ ميلادي کال کې د احصائيې د نړيوال کانګرس تر سرليک لاندې جوړه شوه.

د نړۍ په زياتره هيوادونو کې احصائيه د مهمې او بنسټيزې وسيلې په توګه د پلان جوړونې، کنترول او څارنې په امورو کې استعماليږي.

زموږ په هيواد کې هم د احصائيې مرکزي اداره د عظمی صدارت تر مسقيم اثر لاندې په ۱۳۵۲کال کې جوړه شوه او اوس د يوې خپلواکې ادارې په توګه په ځانګړي ډول د لاندينيو موخو په اړه فعاليت کوي.

۱- د هيواد له عيني شرايطو سره سم د اړتيا وړ علمي سيستم او د احصائيوی تمرکز تأمين او توسعه د علمي او نړيوالو معيارونه سره سم د انکشافي، اقتصادي، ټولنيزو او د ټولو مواردو د پلانونو او پروګرامونو د لارښوونې او استفادې د ترتيب په مقصد.

۲- د ادارې، موسساتو او ټولو وګړو د احصائيوي فعاليتونو د علمي او مسلکي لارښوونو لپاره نظارت چې، د احصائيوي معلوماتو او ارقامو په راټولولو اقدام کوي.

۳- په ملي سطحه د کمپيوټري خدماتو او فعاليتونو تمرکز او تنظيم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- د میتودولوژۍ تثبیت، د حیاتي وقایع د احصائیې ثبت او راټولونه او د هغه تدریجي عامول یا دودول په ملي سطحه.

۵- د هغو پروژو او پروګرامونو د کار د پرمختګ او تطبیق په اړوند چې د دولت په انکشافي پلانونو کې شامل دي د احصائیو او ارقامو راټولونه- د راپورونو د جوړونې او بررسۍ په منظور- او لازم وړاندیزونه په دې برخه کې ذیصلاح مقاماتو ته ورکول.

په لنډ ډول د نن ورځې احصائیه او احصائیوي معلومات د ژوند په ټولو مسایلو کې سر او کار لري د ارقامو او شمېرو استنتاج، تحلیل، ترتیب او جوړونه په ټولو امورو کې او په پلان جوړونه کې په عمومي توګه په کار اچول کیږي. د بېلګې په ډول د نفوسو احصائیه، حیاتي ځانګړې احصائیې، د تجارت احصائیه، بانکي احصائیه، د کانو او صنایعو احصائیه، د کرنې احصائیه، د مخابراتو او مواصلاتو احصائیې، د ښوونې، عامه روغتیا او ټولنیزو خدماتو احصائیه، مالي احصائیه، د ملي محاسباتو احصائیې او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د لومړي څپرکي د مطالبو لنډیز:**

**د احصائیې تعریف:** احصائیه د شمېرو او معلوماتو د راټولونې، لنډیز او ترتیب، او د نتیجه اخستنې د مطالعې او تحلیل او د راټولو شوو معلوماتو او شمېرو په اړه د تصمیم نیونې په غرض د علم یا علمي روشونو له مجموعې څخه عبارت ده.

**داحصائیې مفهوم:** احصائیه له کچې یا اندازې څخه عبارت ده یا په بل عبارت هغه څیزونه یا موضوعات دي، چې د شمېرې په قید کې راوړل شي او د شمېرلو په مرسته توضیح کړل شي.

**داحصائیې اړیکې له ټولنې سره:** د بشر ننني ژوند د ورځې په تېرېدو سره هغو مفاهیموته اړتیا پیدا کوي چې، په احصائیوي تحلیل شوو معلوماتو استوار دي او د علومو په بېلابېلو څانګو کې په کار اچول کیږي. په اقتصاد او پلان جوړونه کې د احصائیې د استفادې موارد او د هغه اهمیت زیات دی. څرنګه چې موږ ووېل د احصائیې تاریخي لرغونتوب ډېرو تېرو زمانو ته رسیږي، چې له احصائیې څخه انکشاف او د استفادې واردو هم بېلابېل پړاووونه وهلي او تر اوسه هم په وده کې ده.

**داحصائیې تاریخچه :**احصائیې د علومو له اختصاصي څانګو څخه د یوې څانګې په توګه انکشاف او پراخوالی پیدا کړی او اوږده سابقه لري.

## د لومړي څپرکي پوښتنې:

۱- په پښتو او انګلیسي کې د احصائیې لغوي معنا څه ده؟

۲- د هغو مفاهیمو نوم واخلئ چې د Status له کلمې څخه اخیستل شوي؟

۳- احصائیه په علمي او پراخ مفهوم سره تعریف کړئ ؟

۴- د احصائیې اهمیت په ټولو مالي مسایلو کې په عمومي توګه او د پلان جوړونې په اړه په لنډ ډول ولیکئ؟

۵- د احصائیې د علمي تاریخچې په اړه لنډ توضیحات ورکړئ؟

۶- د احصائیې تاریخچه د کابل پوهنتون په اقتصاد پوهنځي کې ولیکئ؟

۷- له احصائیې څخه په استفادې د احصائیې جوړونې دندې تشریح کړئ؟

۸- په لرغونو ټولنو کې له احصائیې څخه دکومو مقصدونو لپاره کار اخیستل کېده؟

۹- د هغو مهمو علماوو او پوهانو نومونه واخلئ چې، د احصائیې د علم په انکشاف کې یې ښکاره ونډه درلوده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

## د احصائیوي څېړنو پړاوونه

**ټولیزه موخه:**

داحصائیوي عملیو او څېړنو د پړاوونو پر مفاهیمو پوهېدل

**د زده کړې موخې:** په دې څپرکې کې زده کوونکي باید له لاندې موضوعاتو سره آشنایي پیدا کړي:

۱- د احصائیوي عملیو او څېړنو د پړاوونو زده کول.

۲- د شمېرو څرګندول د احصائیوي بڼو (شکلونو) په وسیله سره.

۳- د احصائیوي جدولونو توضیح او ترتیب کول.

۴- د احصائیوي ګرافونو د مفهوم توضیح او انځور کول.

۵- دخطي او غیرخطي ګرافونو ترتیبول.

څرنګه چې په مخکني څپرکي کې وویل شول احصائیه له علمي لارو او روشونو سره سر او کار لري چې، د هغو په اساس شمېرې او معلومات راټولې، ترتیب، لنډې، تحلیل او څرګندیږي او نظر هغه ته نتیجه ګیري او تصمیم نیونه کیږي.

د دې عملیو د ترسره کولو لپاره باید لاندې پړاوونه ترسره شي:

۱- د موخې ټاکل یا تثبیت چې، څېړنه یا تحقیق په همدې منظور ترسره کیږي.

۲- د تجربې طرحه یا ټاکل .

۳- د شمېرو او معلوماتو راولونه.

۴- د شمېرو او معلوماتو ترتیبول.

۵- نتیجه ګیري او تصمیم.

اوس په لنډه توګه د دې هر یوه په څرګندولو پیل کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د موخې تثبیت یا ټاکل:**

احصائیوي تحلیل په شمېرو او ارقامو پیل کیږي. څېړونکي باید له هرڅه نه د مخه څرګنده کړي چې، د اړتیا وړ شمېرو او معلوماتو د راټولونې په غرض کومه موضوع څېړي. نو په دې اساس هغه باید پوښتنه او ستونزه په دقیقه او څرګنده توګه طرحه او وټاکي چې، څه ډول شمېرې او معلومات د اړتیا وړ دي.

باید څرګنده کړو چې، د احصائیوي پایلو کیفیت او څرنګوالی چې لاس ته راځي د راټولو شوو شمېرو په مناسبوالي او ثقه والي باندې متکي دي چې، په خپل وار سره د طرحې شوې ستونزې په سم تشخیص او طرحې پورې اړه لري.

په احصائیه کې د هغو شمېرو مجموعه چې د یوې طرحې شوې ستونزې په اړه کېدای شي راټولې شي د ټولګي(جماعت) په نامه یادیږي. د بېلګې په ډول که د یوه مملکت په قوای کار کې د بېکارۍ د فیصدي  موندنه په یوه ټاکلي زمان کې طرحه شوې ستونزه وي، په دې صورت کې ټولګی (جماعت)، خپلې ټولې کتنې(مشاهدات) په هماغه مملکت او په هماغه زمان کې د ټولو بېکارو او یا په کار اخته کارګرانو په اړه رانغاړي.

باید یادونه وکړو چې یو احصائیوي ټولګی یا جماعت د یوې ځانګړې ستونزې په اړه د کتنو (مشاهداتو) مجموعه رانغاړي.

**د تجربې طرح یا ټاکل:**

که چېرې د پام وړ ستونزه په دقیقه توګه طرح شوه، څېړونکي باید تصمیم ونیسي چې اړوندو کتنو مجموعه ټوله یا د هغې یوه برخه مطالعه کړي. که چېرې ټول  (جماعت) مطالعه کړي په « ټولیزشمار» سره او که چېرې تاسې د هغه یوه برخه ووینی، اړوند ګړنلاره د «نمونه ګیرۍ» په نوم یادیږي. ټولیز شمار عملاً  زیات وخت او زیات لګښت غواړي او حتی د هغه تطبیق ځینې وخت د امکان وړ نه وي نو د هغه په ځای ناچاره باید د نمونه اخستنې له لارې مطالعه ترسره شي. په نمونه اخستنې کې هڅه کیږي ترڅو د نمونه یې شمېرو په اساس چې، له ټولګي (جماعت)څخه نمونه ګیري شوې ده تصمیم ونیول شي، نو په دې اساس نښه یا سمپل باید له اړوند ټولګي(جماعت) څخه استازیتوب وکړي. د احصائیوی ځانګړې برخې داسې نښې یا نمونې اخیستل، احصائیوي تیوري جوړوي او داسې پوښتنې لکه نمونه اخستنه باید تر کومې اندازې لویه وي، څه ډول شمېرې باید راټولې شي، دا شمېرې څه ډول راټولې شي، چې دا ډول پوښتنې د احصائیې په هغې څانګې پورې اړوندیږي چې، د ((تجربې طرح)) یا د نښې د طرحې په نوم یادیږي، د نښې طرح باید په

(c) ketabton.com: The Digital Library

بشپړ دقت سره ترسره شي، پرته له دې نه شو کولای مطلوبې نتیجه اخستنې ته ورسیږو. د نمونې طرح کېدای شی په بېلابېلوبڼو تر سره شی لکه ناڅاپی یا تصادفی نمونه ګیری او غیر ناڅاپي یا غیر تصادفي نمونه اخستنه، په خپل وار سره اتفاقي نمونه ګیري په مختلفو بڼو اتفاقي ویشل کیږي. لکه ساده ناڅاپي یا اتفاقي نمونه ګیري او مقیده ناڅاپي یا اتفاقي نمونې طرح کیدای شي په بېلابېلو بڼو تر سره شي. لکه ناڅاپي(یا تصادفي) نمونه ګیري ونه ګیري، یواړخیزه، دوه اړخیزه او څو اړخیزه او مکرره نمونه ګیري، همدارنګه غیر اتفاقي نمونه ګیري د توپیر لرونکي یا تفاوتي نمونه ګیری په بڼه په صحیح او ډاډ سره نیول کیږي چې هر یو د دغو نمونه ګیری لارې د ځانګړو ښېګڼو یا مزایاوو او نیمګړتیاو لرونکې دي چې تر یوه حده پورې د کتنو یا مشاهداتو په ډول او د احصاییوي سروې په موخې پورې اړه لري

**د احصائیوي شمېرو او معلوماتو راټولونه:**

د احصائیوي څېړنو درېیم پړاو له طرحې شوې تجربې سره سم د شمېرو او معلوماتو له راتولونې څخه عبارت دی. دا پړاو نظر بل هر یو احصائیوی څېړنیز پړاو ته زیات وخت او زیات لګښت غواړي. او دا پړاو هغه وخت ښو پایلوته رسیږي چې، په دې اړه شخصي قضاوتونه دخیل نه وي.

په عمومي توګه د معلوماتو ترلاسه کول او د شمېرو راتولونه په دوه بڼو تر سره کیږي.

**مستقیم او غیر مستقیم:**

په مستقیمه بڼه څېړونکی کولای شي شمېرې او معلومات د ملاقاتونو، مصاحبو، سروې (نمونوي یا بشپړه) او کتنو یا مشاهداتو له لارو راټولې کړي.

په غیر مستقیمه بڼه څېړونکی کولای شي معلومات د مکتوب، پوښتنپاڼو (استعلام)، فورمو، د نشراتو د سرچینو له اخځلیکونو څخه په استفادې او داسې نورو په مرسته لاسته راوړي. باید څرګنده کړو چې د شمېرو او معلوماتو په راټولونه کې به ښه دا وي تر څو وخت سموالی او اقتصاد په نظر کې ونیول شي.

**د احصائیوی شمېرو سمبالول:**

د موخې له سمبالولو، تثبیت یا ټاکلو څخه وروسته، د تجربې یا نمونې طرح او د شمېرو راټولونه باید سمبال، لنډه او تصنیف شي.که چېرې راټولې شوې شمېرې اوږدې وي باید هغوی د سمبالولو په غرض لنډې کړای شي. د بېلګې په ډول سمې یا صحیحی شمېرې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰,۱۰۰,۱۰۰۰ او داسې نور په واحدونو لنډې (خلاصه) شي، يا اوړدو اعشاري خانو ته دې له امکاناتو سره سم ډېرو نږدې لومړۍ، دويمې او دريمې خانو ته تقرب ورکړل شي.

له لنډيز وروسته شمېرې بايد واضحې او د لوستلو وړ وليکل شي او د آسانولو، ښه لوستلو او تحليل په غرض سمبال شي. د شمېرو سمبالول او تصنيف په بېلابېلو لارو تر سره کېدای شي.

که چېرې شمېرې د کميت او اندازې په نظر سمبال او تصنيف شي کومه لړۍ يا سلسله چې په لاس راځي (د پېښې د بيا وېشنې) يا د فريکونسي وېشنې په نوم ياديږي، چې په دريم څپرکي بد کې تشريح شوي.

همدارنګه که شمېرې د زمان يا مهال له مخې سمبال شي، اړوندې لړۍ يا سلسلې به سربېره پر جغرافيايي، محيطي،کيفيتي، جنسي او د ټولو خصوصياتو د موقعيت او شرايطو له مخې يوه زماني لړۍ يا سلسه لنډه او څرګنده وي.

د شمېرو څرګندول کېدای شي د احصائيوي بېلابېلو بڼو (شکلونو) لکه جدولونو، ګرافونو او زياترو هندسي بڼو په مرسته ترسره شي. د څېړنو په څلورم پړاو کې ځينې وخت د تشريحي يا توصيفي احصائيې په نوم هم ياديږي.

**نتيجه ګيري او تصميم:**

که چېرې د ټول ټولګي (جماعت) نمونه يا تجربه راونغاړي، يعنې احصائيوي څېړنه په يوه سروې کې د کُلی شمار په بڼه وي، د نظر وړ سروې د وروستی پړاو تشريحي احصائيه يعنې څلورم پړاو، چې پورته يې يادونه وشوه جوړوي. په بل عبارت په څلورم پړاو کې د ټولګي (جماعت) خصوصيات او مشخصات توضيح او تشريح شوي او نظر هغه ته د طرح شوې ستونزې په اړه تصميم نيول کيږي. په خلاف د دې که چېرې سروې نمونوي وي او يواځې له مجموعې څخه يوه برخه غوره کړي، په دې حالت کې تشريحي احصائيه د څېړنې وروستی پړاو نه دی، بلکې د زياتو مطالعاتو او احصائيوي عمليو غوښتنه کوي. ځکه د يوه ټولګي(جماعت)د نمونې له مطالعې او تحليل څخه موخه د هماغه ټولګي (جماعت) په اړه نتيجه ګيري اوتصميم نيونه ده. نو ځکه د نمونوي سروې ګانو په صورت کې د څېړنې او احصائيوي عمليو وروستی پړاو د شمېرو د نمونو په نظر له نتيجه ګيرۍ څخه عبارت دی.

د احصائيوي بڼو (شکلونو) په مرسته د شمېرو څرګندول:

احصائيوي شمېرې او معلومات له راټولونې، سمبالونې، يووالي (توحيد) او تصنيف څخه وروسته بايد څرګندې شي، د شمېرو څرګندېدل په عمومي توګه په دوو لارو ترسره کيږي. په شفاهي يا لفظي ډول او د احصائيوي بڼو په وسيله په ليکلې بڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

احصائیوي بڼې (شکلونه) ډېرې دي خوپه عمومي توګه په دوه ډلو وېشل کیږي:

**احصائیوي جدولونه او احصائیوي ګرافونه:**

**احصائیوي جدولونه او د شمېرو جدول بندي:**

جدول بندي د پرتلنې او تحلیل په غرض د شمېرو او معلوماتو د سیستماتیک او منظمو سمبالولو څخه عبارت دی.که څه هم احصائیوي جدولونه د موخې او ستونزې د لیکل شوو شمېرو په نظر زیات دي اما په عمومي توګه په دوه ډوله ویشل کیږي، عمومي جدولونه او خصوصي جدولونه.

په عمومي جدولونو کې لومړنۍ شمېرې یا اصلي شمېرې سمبال او لیکل شوي او د عمومي مقصدونو لپاره په کار اچول کیږي، په داسې حال کې، چې د شمېرو او معلوماتو خصوصي جدولونه، سمبال او خلاصه شوې د مشخصو مقصدونو لپاره د استفادې وړ ګرځي.

د یوه احصائیوي جدول په سمبالولو او جوړولو کې باید لاندې ټکي په پام کې ونیول شي.

**عنوان:** هر احصائیوي جدول باید د یوه عنوان یا سرلیک لرونکی وي، د جدول سرلیک باید په ښکاره او لنډ ډول او د هغه په پورتنۍ برخه کې ولیکل شي او باید درې شیان څرګند کړي:

الف- په جدول کې د لیکل شوو شمېرو محتوی او د بحث وړ موضوع.

ب- هغه ځای چې شمېرې رانغاړي.

ج- هغه وخت یا مهال چې د هغې په وسیله لیکل شوې شمېرې رانغاړل شوي دي.

د سرچینې یا اخځلیک:که چېرې لومړنۍ یا اصلي  شمېرې د لومړي ځل لپاره د څېړونکي په مرسته راټولې شوې وي کېدای شي پرته د اخځلیک یا سرچینې له یادولو څخه په یوه جدول کې ولیکل شي، که چېرې لیکل شوې شمېرې لومړنۍ شمېرې نه وي باید د هغوی سرچینې او مأخذونه د جدول په ښکته برخه کې او له لمن لیک څخه مخکې ولیکل شي.

یادښت یا لمن لیک:که چېرې په یوه جدول کې لیکل شوې شمېرې زیاتې تشریح او توضیح ته د یادښتونو او لمن لیکونو په بڼه اړتیا پیدا کړي، دا یادښتونه باید په وضاحت سره د جدول په ښکته برخه کې خو له اخځلیک او سرچینې څخه وروسته ځای پر ځای شي.

د جدول خانې (ستون) او قطارونه: هر احصائیوي جدول خانې (ستونونه) او قطارونه لري چې، د هغوی اندازه په هماغه جدول کې د لیکل شوې موضوع په څرنګوالي، د شمېرو او معلوماتو په اندازې پورې مربوطیږي. د جدول خانې او قطارونه باید د زیات وضاحت لپاره د فرعي سرلیکونو لرونکی وي. که چېرې د خانو او قطارونو شمېر زیات وي ښه به وي، د آسانۍ د څرګندولو او پرتلنې لپاره تصنیف او نمره بندي شي. څرنګه چې په ۱-۲ جدول کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیدل کیږي څلور خانې دي چې، دویمه خانه په وار سره په پنځو نورو فرعي خانو باندې وېشل کیږي سربیره پر دې دا جدول شپږ  قطاره و نه لري.

د کچې (مقیاس) واحد: په جدول کې باید د مقیاس واحد یا واحدونه په څرګنده توګه د جدول تر اصلي عنوان لاندې او یا د هرې خانې تر فرعي عنوانونو لاندې ولیکل شي. د بېلګې په ډول څرنګه چې د ۱-۲جدول ټولې لیکل شوې شمېرې په فیصدۍ سره سنجول شوي دي په دې حالت کې یوازې د مقیاس یو واحد (فیصدۍ) شتون درلود او د جدول تر اصلي عنوان لاندې څرګند شوي دي. په جدول کې باید د امکان تر حده هڅه وشي ترڅو ګډ واحد په کار واچول شي، د بېلګې په ډول که لومړنۍ شمېرې په کیلو ګرام، ټن، من، پاو او داسې نورو چې، ټول د وزن مقیاس دي، راټولې شوې وي ښه به وي دا ټول په یوه ګډ مروج مقیاس باندې لکه کیلو ګرام تبدیل او په جدول کې څرګندې شي.

په جدول کې د شمېرو ترتیب: په یوه جدول کې لیکل شوې شمېرې باید په وضاحت او پوره دقت سره خلاصه، ترتیب، توحید او په اړوند جدول کې ولیکل شي. ترڅو د پرتلنې او تحلیل لوستل آسانه کړي او اړوندې شمېرې کولای شو د لاندینیو بڼو څخه د یوې بڼې په توګه ترتیب او ډلبندي کړو.

- د الفبا د تورو له اړخه (مثلاً الف - ب - ج - د - او داسې نور)
- د زمان یا مهال له نظر ه(لکه  ورځ، میاشت، کال او داسې نور)
- د اداري واحدونو او جغرافیایي موقعیت په نظر (لکه ولسوالۍ، ولایت، هیواد، شمال، سوېل(جنوب) او داسې نور.
- د دموګرافیکي خصوصیاتو له نظر ه(لکه نظر سن، جنس، مورنۍ ژبې او داسې نور).
- د فزیکي، بیالوژیکي، تخنیکي  او داسې نورو خصوصیاتو له نظره.
- د بل تعامل یا مشخصاتو او خصوصیاتو له نظره.

په ۱-۲ جدول کې د خانو(ستونو) ترتیب د پرمختللو هیوادونو د خصوصیاتو او د هغوی د جغرافیایي موقعیت په نظر تر سره شوي څرنګه چې د جدول قطارونه د زمان یا مهال یعنې د ۱۹۶۰-۱۹۸۱ کلونو په نظر سمبال شوي دي.

**غونډ (مجموع):** په عمومي توګه د یوه جدول خانې او قطارونه د هغه جدول د لیکل شوو شمېرو د مجموعې لرونکي دي، البته د خانو او قطارونو د شمېرو په مجموع کولو کې د ګډ مقیاس واحدونه شرط دي. ځکه نشو کولای د مقیاس توپیر لرونکي او بېلابېل واحدونه غونډ (مجموعه) کړو. د دې شرط د شتون په صورت کې د یوه جدول د قطارونو او خانو(ستونونو) مجموع معمولاً د هغه د مخالف لوري په آخر کې ښودل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۱-۲ جدول کې د خانو او قطارونو د مجموعې اخیستل کوم مفهوم نه لري نو ځکه نه ده ښودل شوې. باید زیاته کړو که چېرې د جدول شمېر زیات وي هر جدول باید د تړاو او موضوع له پلوه نمره بندي شي، د جدول هره برخه په خاصه توګه د جدول د آخري خانو او قطارونو فرعي سرلیکونه (عنوانونه) یعنې د مجموعې قطار باید په څرګند ډول خط کشي شي.

بېلګه: لاندې جدول په پام کې نیسو.

د هیواد د منسوجاتو د تولیداتو اندازه په ۱۳۸۰-۱۳۸۲ کلونوکې(ارقام په ملیون متر)

| دجنس / ډول / کال | نخي منسوجات | سندي منسوجات | پشمي یا وړین منسوجات |
|---|---|---|---|
| 1389 | 26.5 | 10.8 | 0.2448 |
| 1381 | 31.9 | 6.8 | 0.2769 |
| 1382 | 37.8 | 6.8 | 0.2866 |

۱-۲ جدول د پرمختللو هیوادونو د داخلي مجموعي محصولاتو د ودې روش په ۱۹۶۰-۱۹۷۹ کلونوکې او په کلنۍ فیصدي باندې د ۱۹۸۰-۱۹۸۱ کلونو وړاندوینه.

| کال | د پرمختګ په حال کې هیوادونه | | | | | د پرمختګ په حال کې مصهیوادونه دنفتو صادراتوونه | هغه هیوادونه چې پرمختګ یې کړی دی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | په عمومي توګه | افریقا | لاتینه امریکا | دآسیاسوهیل اولویدیځ | د آسیاختیځ | | |
| 196-1970 | 0.5 | 4.6 | 5.5 | 4.7 | 8.7 | 5.2 | 3.1 |
| 1970-1980 | 6.2 | 5.3 | 5.9 | 5.4 | 9.0 | 5.4 | 3.1 |
| 1978 | 5.2 | 4.8 | 4.6 | 6.8 | 3.2 | 5.3 | 3.3 |
| 1979 | 5.3 | 5.3 | 6.3 | 4.8 | 3.0 | 5.2 | 2.4 |
| 1980 | 5.9 | 6.1 | 5.8 | 5.3 | 7.0 | 5.7 | 2.6 |
| 1981 | 6.0 | 6.3 | 5.6 | 6.1 | 7.0 | 5.4 | 3.4 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سرچینه:** د سکرتریت UNCTA ځانګې دې د ملي او نړیوالو رسمي شمېرو او سرچینو په اساس ولیدل شي.

**احصائیوي ګرافونه:** ګرافونه د دوو یا زیاتو متحولو تر منځ د اړیکو له جولیز (شکلي) څرګندولو څخه عبارت دی. د ګرافونو ډولونه او بڼې ډېرې زیاتې دي چې د متحول په ډول او شمېر، د شمېرو په څرنګوالي او د ستونزو په ډول پورې اړوندیږي چې، په بېلابېلو بڼو نظر موخو ته په خاصه توګه انځور څرګندیږي. په دې ځای کې څو ډوله ساده ګرافونه او معمولي ګرافونه او چارتونه په وروستي څپرکي کې توضیح کیږي.

**خطي ګرافونه:** په دې ډول ګرافونوکې څرنګه چې د هغوی له نوم څخه څرګندیږي د متحولو تر منځ خطی اړیکې دي. د شمېرو بدلونونه او تحولات د مستقیمو کرښو په مرسته ښودل کیږي. د بېلګې په ډول که چېرې اړیکې د تابع متحول y او خپلواک متحول (تابع کوونکی) X خطي وي دا ډول اړیکې معمولاً د مستقیمې کرښې د یوې معادلې په وسیله په لاندې بڼه څرګندیږي:

$Y=a+bx$

په دې ځای کې b,a ثابت دی، لومړنی یې د عمودي قاطع په نوم او دویم یې دx ضریب په نوم یادیږي.

۱ بېلګه- د $y=-5+2x$ معادلې ګراف انځور کړئ.


د دې معادلې ګراف څرنګه چې په بڼه کې ښودل شوی دی کولای شو په دوه لارو انځور کړو.

**لومړی:** د x د توپیر لرونکو ارزښتونو په وضع کولو سره د y ارزښتونه پیدا کوو. دا ارزښتونه د x او y د وضعیه کمیاتو په محورونو کې په لیک نښو (نقطه ګذاري) په نښه کوو.

| X | -3 | -2 | -1 | 0 | 1 | 2 | 3 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Y | -11 | -9 | -7 | -5 | -3 | -1 | 1 |

څرنګه چې د x او y د ذکر شوو ارزښتونو له هرې جوړې څخه د (x,y) یو ټکی جوړیږي. د دې ټکو د موقعیت په ټاکلو سره د هغوی په ګراف او نښلولو(اتصال)کې مطلوب مستقیم خط انځور کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




دا معادله ځیني وخت د y=ax+b په بڼه څرګندیږي، چې البته د مفهوم له پلوه له ۱-۲ معادلې سره بې تفاوته ده.

**دویم:** څرنګه چې ورکړل شوې معادله د مستقیمې کرښې یوه معادله ده او د اړوند مستقیم خط د انځورولو لپاره بسنه کوي ترڅو دوه ټکي چې په هغوی کې د x,y په محورونو پورې اړوند مستقیم خط قطع کوي، وټاکو. یعنې که په یادې شوې معادله کې x=0 وضع شي y=-5 ده او په لنډه توګه که y=0 وي $x=\frac{5}{2}$ کیږي.


دا دوه ټکي (50-) او $(\frac{5}{2},0)$ چې په ګراف کې په ترتیب سره د A او B په تورو ښودل شوې دي. د دغو دوو ټکو له نښلېدو څخه او د هغه امتداد ادوو خواوو ته مطلوبه مستقیمه کرښه انځوروي.

که څه هم دواړه یادې شوې طریقې یوې نتیجې ته رسیږي خو دویمه طریقه آسانه ده لږ وخت او لږه عملیه غواړي. باید زیاته کړو چې، په پورتني مثال کې د x او y تر منځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړیکه یوه مستقیمه خطي اړیکه ده ځکه مستقیمه کرښه په صعودي (لوړېدونکي) پورې اړونده ده. د x ارزښت له زیاتېدو سره د y تابع هم لوړ ارزښتونه اختیاروي. په بل عبارت ځرنګه چې د x ضریب اشاره یعنې b مثبت دی. x او y له یو بل سره یوه مستقیمه خطي اړیکه لري.

Y=2x-5





**غیر خطي ګرافونه:** د احصائیوي معلوماتو د ځرګندولو بله بڼه د غیرخطي ګرافونو په بڼه ده. هغه معادلات چې په دې ډول ګرافونو پورې مربوطیږي له دویمې درجې معادلې $y=ax^2+bx+c$ ځخه عبارت دی. له دې ډول معادلاتو ځخه حاصل شوي ګرافونه په غیرخطي بڼه کې لاس ته راځي. دا ډول معادلات کولای شو د قیمت ګذارۍ یا هم د هغه د معادل جذرونو د پیدا کولو له لارې پیدا کړو.

**بېلګه:** د لاندې معادلې ګراف پیدا کړئ. $y=x^2-2x-8$


| X | -2 | -1 | 0 | 1 | 2 | 3 | 4 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Y | 0 | -5 | -8 | -10 | -8 | -5 | 0 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲ بېلګه** – د $y=-x^2-2x-1$ تابع ګراف انځور کړئ.

| X | -3 | -2 | -1 | 0 | 1 | 2 | 3 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Y | 4 | -1 | 2 | -1 | -4 | -9 | -15 |



(c) ketabton.com: The Digital Library

**دریمه بېلګه:** د $y=-8-2x+x^2$ معادلې څخه په دې ځای کې پوهیږو چې د y د محور منحني د y=-8 په نقطه کې قطع کوي ځکه چې x=0 او y=-8 کیږي خو د x محور د منحني د ټکو د تشخیص او تثبیت لپاره باید y=0 وضع شي. په دې صورت کې به ولرو.

$X^2-2x-8=0$

په دې ځای کې مجبور یو د دې معادلې جذرونه پیدا کړو. د معادلې جذرونه کولای شو په لاندې طریقو پیدا کړو.

که چېرې په یوه معادله کې د جذرونو تشخیص ساده وي، کولای شو معادله په دوو قوسونو تجزیه کړو داسې چې د دوو مطلوبه اعدادو حاصل د a د عمودي قاطع ارزښت سره مساوي او د هغه د جمع حاصل د b ارزښت سره مساوي شي. د پورتنۍ معادلې پر بنسټ کولای شو داسې ولیکو.

$(x-4)(x+2)=0$

چې په نتیجه کې $X_1=-2$ او $X_2=4$ به وي.

که په نورو حالاتو کې تجزیه په قوسونو باندې ستونزمنه وي په عمومي توګه له لاندیني فورمول څخه استفاده کوو.

$$X_{1,2}=\frac{-b\pm\sqrt{b^2-4ac}}{2a}$$

نظر فرمول ته هم د معادلې جذرونه عبارت دي له:

$$X_{1,2}=\frac{-2\pm\sqrt{4-32}}{2}=\frac{2\pm 6}{2}$$

$X_2^2\ 4=$ $\qquad X_1=-2$


د معادلې د جذرونو سربېره د x لپاره متفاوت ارزښتونه وضع کوو د y اړوند ارزښتونه پیدا کیږي.

| X | -3 | -2 | -1 | 0 | 1 | 2 | 3 | 4 | 10 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Y | 7 | 0 | -5 | -8 | -9 | -8 | -5 | 0 | 72 |

اوس نظر پورته معلوماتو ته کولای شو د ورکړل شوې معادلې ګراف انځور کړو.

$Y=-8-2x+x^2$

(c) ketabton.com: The Digital Library




څرنګه چې ليدل کيږي مطلوبه منحني د يوه پارابول په بڼه ده، په پيل کې لوېدونکې (نزولي) د y=-9 له اصغري ارزښتونو څخه وروسته د دويم ځل لپاره لوړيږي (صعود کوي).


نوټ: که چېرې د $x^2$ ضريب منفي وي د پارابول خوله مخ ښکته خلاصيږي او که چېرې د$x^2$ ضريب مثبت وي د پارابول خوله مخ پورته خلاصيږي.

احصائيوي نور ګرافونه: په احصائيوي ګرافونو کې هم لکه الجبري توابع په عمومي توګه متحولې تابع په عمودي محور کې او خپلواک متحول يا تابع کوونکی په افقي محور کې ښودل کيږي.


بېلګه: د يوه هيواد نفوس په تېرو شپېتو کلونو کې په لاندې ډول ورکړل شوی.

| X | 1300 | 1310 | 1320 | 1330 | 1340 | 1350 | 1360 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Y | 12 | 15 | 18 | 22 | 28 | 33 | 37 |

(c) ketabton.com: The Digital Library





پورتني معلومات کولای شو په بل ګراف کې د عمودي مستقیمو کرښو په بڼه انځور کړو.




(c) ketabton.com: The Digital Library

**بېلګه:** فرض کړئ د یوه هیواد ۴۵ فیصده واردات مصرفي مواد، ۳۵ فیصده اومه مواد، ۲۰فیصده نور ماشین آلات جوړوي دا معلومات کولای شو د یوې دایرې په مرسته څرګند کړو.




یا کولای شو پورتني معلومات په یوه مستطیل یا مربع کې څرګند کړو.




**د دویم څپرکي د مطالبو لنډیز**

د احصائیوي څېړنو پړاوونه پنځه دي.

۱- د موخې ټاکل یا تثبیت.

۲- د تجربې طرح یا ټاکل.

۳- د شمېرو او معلومـــاتو راټولونه.

۴- د شمېرو ترتیبول.

۵- نتیجه احستنه او تصمیم نیونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د احصائیوي بڼو په وسیله د شمېرو ځرګندول په احصائیوي جدولونو او احصائیوي ګرافونو کې شامل دي.

احصائیوي جدولونه د پرتلنې او تحلیل په غرض د اعدادو او معلوماتو له سیستماتیک او منظمو ترتیبولو څخه عبارت دي.

**احصائیوي جدولونه په دوه ډوله دي:** عمومي جدولونه او خصوصي جدولونه احصائیوي جدولونه څو ځانګړې ټکي لري:

عنوان یا سرلیک، اخځلیک او سرچینه، یادښت او لمن لیک، د جدول خانې (ستونونه) او قطارونه، د مقیاس واحد، په جدول کې د شمېرو ترتیب، ټولګه (مجموع).

**احصائیوي ګرافونه:** د دوو یا زیاتو متحولو تر منځ د اړیکو له جولیز (شکلي) ځرګندولو څخه عبارت دي. بڼې او شمېرې یې زیاتې دي، چې د هغوی له جملې څخه خطي او غیرخطي ګرافونه معمول دي.

**خطي ګراف:** معادله یې $y=ax+b$

**غیر خطي ګرافونه:** معادله یې $y=ax^2+bx+c$

او پرته له دې کولای شو احصائیوي معلومات په هندسي بڼو کې لکه دایره، مستطیل، مربع او داسې نورو کې هم وښیو.

## د دویم څپرکي پوښتنې

۱- یو احصائیوي جدول څه ته وایي او باید څه ځانګړتیاوې ولري؟

۲- احصائیوي ګرافونه څه دي او د هغوی نوم واخلئ؟

۳- د خطي ګراف معادله ولیکئ؟

۴- د(0,4) او (3,-5) او (-2,-4) او (3,-4) او (0,0)او (-5,10) ټکي په یو وضعیه کمیت کې نقطه ګذاري کړئ؟

۵- د y=2x-4 د معادلې ګراف انځور کړئ؟

۶- د y=-2x2-3x=1 منحني معادله انځور کړئ؟

۷- د یوه بانک ٪۲۵ غونډ (مجموعي) پورونه اوږد مهاله پورونه، د هغه 15 فیصده منځ مهاله پورونه او د هغه 60 فیصده نور لنډ مهاله پورونه جوړوي، دا معلومات د یوې دایرې او یوه مستطیل یا مربع په وسیله ځرګند کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درېیم څپرکی

## د پېښېدو (وقوع) بیا وېشنه او د فریکونسي وېشنه

**ټولیزه موخه:**

د فرېکونسي توضیح او تشریح او له هغه څخه د ګټې اخیستلو پړاوونه:

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې زده کوونکي له لاندې مفاهیمو سره آشنایي پیدا کوي.

۱- د فریکونسي د وېشنې مفهوم او تعریف
۲- د فریکونسي په ویشنه کې د لومړنیو شمیرو د راټولونې، یوالي(توحید)او انسجام
۳- د فریکونسي په وېشنه کې د شمېرو تصنیف
۴- د فریکونسي د جدول تخنیکي مفاهیم او اصطلاحات
۵- د فریکونسي د وېشنې ګرافیکي څرګندونه په تحول، هستوګرام، بارچارت، بارګراف، پای ګراف، د خط ماتی او تصویري ګراف یا سمبولیک ګراف په تحول
۶- د احصائیوي ګرافونو ګټې

**مفهوم:** د مسلکي احصائیوي تصمیمونو او نتیجه ګیري په راټولو شوو شمېرو، ارقامو او طرحه شوو ستونزو باندې متکی دي. د راټولو شوو شمېرو ډول به په طرحه شوو ستونزو پورې اړوند وي، د شمېرو او معلوماتو په څرنګوالي پورې اړوند د شمېرو تشریحي مقیاسونه او معیارونه کولای شو په دوامداره توګه یا پرته له دې چې د مهال عامل په پام کې ونیسو په خپل وار سره راټول کړو. په راټولو شوو شمېرو سربېره امکان لري یو، دوه یا زیاتره متحوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

را ونغاړي. لکه اعداد د یو شمېر وګړو د قد، وزن یا عمر په اړه، د یوشمېر کارګرانو مزد یا اجوره یا د یوه ګروپ مامورینو معاش، په یوه مضمون کې د یوه ټولګي د محصلینو د آزموینې نمرې او داسې نور، ټول اعداد یو متحوله دي. یا اعداد د وګړو په لګښت او عاید پورې اړوند، د محصلینو قد، وزن، د یوې پېرودل شوې متاع قیمت او اندازه، د یوه هیواد واردات او صادرات او داسې نورې بېلګې دوه متحوله اعداد دي.

په زیاتره مواردو کې د دوو یا زیاتو متحولو تر منځ اړیکې په احصائیه کې د بحث وړ ګرځي.

د یو متحوله اعدادو ویشل او تشریح چې د زمان عامل په هغه کې ذیدخل نه وي، د مقیاس او اندازه ګیرۍ دوه ډوله ځانګړې نمرې مني. دا مقیاس د بحث وړ اعدادو له اوسط ګیرۍ او انحراف یا پراګندګۍ څخه عبارت دی.

که چېرې اعداد څرنګه چې مخکې هم وویل شو د هغوی کمیت او اندازې ته په کتو ترتیب او توضیح شي دغه عملیه د پېښېدو (وقوع) بیا وېشنې یا د فریکونسي وېشنې په نوم یادیږي.

**د فرېکونسي په وېشنه کې د لومړنیو اعدادو راټولونه، توحید او انسجام:**

د شمېرو را ټولونه په مستقیمه یا غیرمستقیمه توګه معمولاً په اتفاقي یا په تیت ډول تر سره کیږي، لومړني اعداد له را ټولونې وروسته باید ترتیب، توحید او لنډې کړی شي تر څو د نتیجه ګیرۍ او تحلیل څرګندوند آسانه کړي. د بېلګې په ډول یوه احصائیوي ستونزه داسې طرحه شوې تر څو په یوه ښار کې د کورنیو د کلني عاید د څرنګوالي په اړه په خاصه توګه څېړنه او تصمیم نیونه ترسره شي. په دې هکله یوه نمونوي سروې طرحه او تطبیق کیږي. نظر دې سروې ته د ۱۴۲ کورنیو د عایدتو په اړه معلومات د نمونې په ډول راټولیږي. فرض کړئ چې راټول شوي معلومات هغه اعداد دي چې، د هغه لومړنۍ بڼه د ۱-۳ په جدول کې څرګنده شوې ده.

۱-۳ جدول په لومړي سر کې داسې کوم مفهوم نه شي افاده کولای، البته له یو څه دقت څخه وروسته کولای شو ډېر کوچنی او ډېر لوی عدد په دې جدول کې تشخیص کړو یا حتی د اعدادو اوسط د مجموع په اخستلو او د هغوی په اندازه باندې تقسیم کړو. له دې څخه زیات نه شو کولای له دغه جدول څخه ګټه واخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| 3-1 جدول په1385کال کې 142 کورنيو وسطي عايد( زر افغانۍ) | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 68000 | 68031 | 67785 | 67480 | 68047 | 67050 | 66029 |
| 66071 | 67092 | 67488 | 67800 | 68060 | 67046 | 68070 |
| 69500 | 69537 | 69482 | 69456 | 67471 | 67880 | 68997 |
| 66100 | 66144 | 67812 | 68089 | 67513 | 67120 | 68110 |
| 67819 | 67531 | 67136 | 67152 | 67200 | 67170 | 66952 |
| 67246 | 67750 | 67960 | 68990 | 68976 | 68927 | 68853 |
| 68820 | 68450 | 68302 | 68200 | 68150 | 66210 | 66290 |
| 67204 | 67177 | 67830 | 67540 | 67850 | 67548 | 68151 |
| 67168 | 67851 | 67177 | 69937 | 69202 | 69150 | 68950 |
| 67940 | 67752 | 67440 | 66930 | 66217 | 67740 | 66931 |
| 66341 | 66336 | 67217 | 67548 | 67850 | 68217 | 68291 |
| 67878 | 67550 | 67230 | 66400 | 68910 | 67920 | 67730 |
| 67412 | 66920 | 66402 | 67710 | 67922 | 67910 | 68870 |
| 68841 | 68800 | 66914 | 69836 | 69453 | 68778 | 67901 |
| 66867 | 67381 | 67680 | 66840 | 67320 | 67680 | 67877 |
| 66730 | 66827 | 66810 | 67320 | 67664 | 67860 | 68641 |
| 69609 | 69650 | 68333 | 67891 | 66532 | 67247 | 66600 |
| 67571 | 66709 | 67250 | 67584 | 67800 | 68398 | 69734 |
| 69242 | 68600 | 66802 | 69210 | 66700 | 69120 | 69200 |
| 68470 | 69172 | 66750 | 67281 | 67609 | 67830 | 67849 |
| | | | 67250 | 67291 | | |

په پورتني جدول کې له ورکړل شوو شمېرو څخه د ښې او زياتې ګټې اخيستلو لپاره بايد هغوی په منظمه توګه ترتيب او لنډې کړو. د هغوی په افاده کولو پورې اړوند د اعدادو د خلاصه کولو يوه لار د ۱۰۰۰ په واحدونو باندې ده. د زياتې آسانۍ لپاره په ۱۰۰۰ واحدونو باندې د اعدادو له ترتيب او خلاصه کولو څخه وروسته د اعدادو په اعشاري تحليل او ښکاره کولو کې له درې خانو څخه يې دوو خانو ته اختصار پيدا کړي، څرنګه چې د اعشارې دريمه خانې ته د اعشارې دويمې خانې تقرب ورکړل شوی دی. که چېرې په دې تقرب کې د دريمې خانې شمېره له ۵ پنځوڅخه کوچنۍ وي له هغه څخه تيرېږو او که دا شمېره له ۵ پنځو څخه لوړه وي وروستۍ شمېره يعنې د اعشارې دويمه شمېرې ته د يوه په زياتيدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارتقاء ورکول کیږي، د بېلګې په ډول:

د ۶۶،۰۲۹ شمېره په ۶۶،۰۳ او د ۶۹،۲۴۲ شمیره په ۶۹،۲۴ لنډېږي (مختصر) شوې دي.

د ۱-۳ جدول اعداد له ترتیب او لنډیز وروسته په ۲-۳ جدول کې څرګند شوي دي.

باید ووایو چې کولای شو اعداد په (صعودي) توګه ترتیب کړو، یعنې له کوچني عدد څخه پیل او په ترتیب سره په لوړ عدد سره یې پای ته ورسوو. یا برعکس کولای شو اعداد په ناقصه توګه ترتیب کړو، څرنګه چې لوړې شمېرې لومړی او په ترتیب سره، اعداد یو پر بل پسې لیکو تر څو کوچني عدد ته ورسیږو. د۱-۳ جدول اعداد البته له لنډیز څخه وروسته په یا صعودي ډول ترتیب او په ۲-۳ جدول کې ترتیب شوې دي.

| 2-3 جدول په1385 کال کې  د 142 کورنیو وسطي عاید  (زر افغانۍ) | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 66.03 | 66.91 | 67.32 | 67.71 | 67.90 | 68.30 | 69.15 |
| 66.07 | 66.92 | 67.38 | 67.73 | 67.91 | 68.33 | 69.15 |
| 66.00 | 66.93 | 37.41 | 67.74 | 67.92 | 68.40 | 69.20 |
| 66.14 | 66.95 | 67.44 | 67.75 | 67.92 | 68.45 | 6920 |
| 66.21 | 67.05 | 67.47 | 67.75 | 67.94 | 68.47 | 69.21 |
| 66.29 | 67.09 | 67.47 | 67.78 | 67.96 | 68.60 | 69.24 |
| 66.34 | 67.12 | 67.48 | 67.79 | 68.00 | 68.64 | 69.45 |
| 66.37 | 67.13 | 67.49 | 67.80 | 68.03 | 68.73 | 69.46 |
| 66.40 | 67.15 | 67.51 | 67.80 | 68.05 | 68.78 | 69.48 |
| 66.42 | 67.17 | 67.53 | 67.81 | 68.05 | 68.80 | 69.50 |
| 66.53 | 67.18 | 67.54 | 67.82 | 68.06 | 68.82 | 69.54 |
| 66.60 | 67.20 | 67.55 | 67.83 | 68.07 | 68.84 | 69.61 |
| 66.71 | 67.20 | 67.55 | 67.83 | 68.01 | 68.85 | 69.65 |
| 66.75 | 67.22 | 67.55 | 67.85 | 68.11 | 68.87 | 69.73 |
| 66.78 | 67.23 | 67.58 | 67.85 | 68.15 | 68.91 | 69.84 |
| 66.80 | 67.25 | 67.61 | 67.85 | 68.15 | 68.93 | 69.94 |
| 66.81 | 67.25 | 67.65 | 67.86 | 68.17 | 68.95 | |
| 66.83 | 67.28 | 67.66 | 67.88 | 68.18 | 68.98 | |
| 66.84 | 67.29 | 67.68 | 67.88 | 68.20 | 68.99 | |
| 66.87 | 67.32 | 67.68 | 67.89 | 68.22 | 69.00 | |
| | | | | 68.29 | 69.12 | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شمېرو تصنيف

که چېرې د شمېرو تعداد لږ وي يا د نمونې اندازه کوچنۍ وي، د شمېرو ترتيب د ۲-۳ جدول په بڼه او د هغه څرګندول په نسبتاً آسان او ګټور وي، خو که چېرې د اعدادو شمېر ډېر زيات يا نمونه يې نسبتاً لويه وي، د شمېرو ترتيب د نوموړي جدول په څېر ستومانه کار دی او زيات وخت هم غواړي. سربېره پر دې له نسبتاً محدودې استفادې پرته نه شو کولای له هغه څخه نور کار واخلو.

نو ځکه لازمه ده چې شمېرې په خلص او لنډ ډول داسې ترتيب شي تر څو د هغه څرګندول آسانه شي او کېدای شي زيات او ژور تحليل تر سره شي تر څو د شمېرو پېچلی خصوصيت او اړيکې کشف او توضيح شي. د شمېرو د څرګندولو لنډيز او په عين حال کې ساده کول د هغوی د خاصيت او څرنګوالي له لاسه ورکولو پرته، د پېښېدو د بيا وېشنې (د فريکونسي د وېشنې) اساسي موضوع ده. يعنې شمېرې د صنفونو په بڼه چې، ځينې يې د (صنف، پوړ، ګروپ او ډلې په نوم هم يادېږي) ترتيب شوي. د اړوندو کتنو (مشاهداتو) او واقعاتو د پېښې يا وقوع (فريکونسي) تکرار او زياتوالی په هر صنف کې تثبيت او وټاکل شي.

په هغه جدول کې چې شمېرې په دې بڼه ترتيب، تصنيف او څرګندېږي د بيا پېښې جدول (جدول تکرار وقوع) يا د (فريکونسي جدول)په نوم يادېږي.

په لومړنۍ بڼه د ټاکل شوو صنفونو په نظر د راټولو شوو شمېرو د وېشلو لپاره کولای شو د خط بندي له پاڼې (يا په عاميانه عبارت له چوب خط) يا د ثبت له فورمې څخه ګټه واخلو. په دې پاڼه کې لکه ۳-۳ جدول د هر ټولګي په وړاندې هغه شمېرې چې په هغه پوړې اړونديږي خط کوو. په بل عبارت د هغو کورنيو شمېر چې، د هغو وسطي عايد په هر ټولګي کې شامليږي، د هماغه ټولګي په وړاندې خط کوو، له دې خطونو څخه وروسته (دکورنيو تعداد) شمارو او د جدول په بله خانه کې يې په عدد څرګندوو. دا اعداد (د هر ټولګي په وړاندې د ثبت شوو خطونو شمېر) د ټولګي د بيا پېښېدلو (تکرار وقوع) يا فريکونسي څخه عبارت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳-۳ جدول په ۱۳۸۵کال کې د ۱۴۲ کورنیو ارو د کلنۍ وسطي عاید خط بندۍ پاڼه

| کورنیواره اندازه | چوب خط | کلنی وسطي عاید (زر افغانۍ) |
|---|---|---|
| 10 | 𝍸 𝍸 \| | 66.00-6649 |
| 15 | 𝍸 𝍸 𝍸 | 66.50-66.99 |
| 25 | 𝍸 𝍸 𝍸 𝍸 𝍸 | 67.00-67.49 |
| 40 | 𝍸 𝍸 𝍸 𝍸 𝍸 𝍸 𝍸 𝍸 | 67.50-67.99 |
| 20 | 𝍸 𝍸 𝍸 𝍸 | 68.00-68.49 |
| 14 | 𝍸 𝍸 \|\|\|\| | 68.50-68.99 |
| 11 | 𝍸 𝍸 \| | 69.99-69.49 |
| 7 | 𝍸 \| \| | 69.50-69.99 |
| ۱۴۲ | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴-۳ جدول په ۱۳۸۵کال کې د ۱۴۲ کورنيو ارو دکلني وسطي عايد ثبت پاڼه

| 66.00<br>66.49 | 66.50<br>66.99 | 67.00<br>67.49 | 67.50<br>67.99 | 68.00<br>68.49 | 68.50<br>68.99 | 69.00<br>69.49 | 69.50<br>69.99 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 66.03 | 66.53 | 66.05 | 67.51 | 68.00 | 68.60 | 69.00 | 69.50 |
| 66.07 | 66.60 | 66.09 | 67.53 | 68.03 | 68.64 | 69.12 | 69.54 |
| 66.10 | 66.71 | 66.12 | 67.54 | 68.05 | 68.73 | 69.15 | 69.61 |
| 66.14 | 66.75 | 66.14 | 67.55 | 68.06 | 68.78 | 69.17 | 69.65 |
| 66.21 | 66.78 | 66.15 | 67.55 | 68.07 | 68.80 | 69.20 | 69.73 |
| 66.29 | 66.80 | 66.17 | 67.55 | 68.09 | 68.82 | 69.21 | 69.84 |
| 66.34 | 66.81 | 6..18 | 67.57 | 68.11 | 68.84 | 69.24 | 69.94 |
| 66.34 | 66.83 | 66.20 | 67.58 | 68.15 | 68.85 | 69.25 | |
| 66.37 | 66.84 | 66.20 | 67.61 | 68.15 | 68.87 | 69.46 | (7) |
| 66.40 | 66.87 | 66.22 | 67.65 | 68.17 | 68.91 | 69.48 | |
| 66.42 | 66.91 | 66.23 | 67.66 | 68.18 | 68.93 | | |
| | 66.92 | 66.25 | 67.68 | 68.20 | 68.95 | (11) | |
| (10) | 66.93 | 66.25 | 67.71 | 68.22 | 68.98 | | |
| | 66.93 | 66.28 | 67.73 | 68.29 | 68.99 | | |
| | 66.95 | 66.29 | 67.74 | 68.30 | | | |
| | | 66.32 | 67.75 | 68.33 | (14) | | |
| | (15) | 66.38 | 67.75 | 68.40 | | | |
| | | 66.41 | 67.78 | 68.45 | | | |
| | | 66.44 | 67.79 | 68.47 | | | |
| | | 66.47 | 67.80 | | | | |
| | | 66.47 | 67.80 | (20) | | | |
| | | 66.48 | 67.81 | | | | |
| | | 66.48 | 67.82 | | | | |
| | | | 67.83 | | | | |
| | | (24) | 67.83 | | | | |
| | | | 67.85 | | | | |
| | | | 67.85 | | | | |
| | | | 67.85 | | | | |
| | | | 67.85 | | | | |
| | | | 67.86 | | | | |
| | | | 67.86 | | | | |
| | | | 67.89 | | | | |
| | | | 67.90 | | | | |
| | | | 67.91 | | | | |
| | | | 67.92 | | | | |
| | | | 67.92 | | | | |
| | | | 67.94 | | | | |
| | | | 67.96 | | | | |
| | | | (40) | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۴-۳ جدول کې د ثبت د فورمې د سمبالولو طريقه ښودل شوې ده. په دې عمليه کې ټولګي په افقي بڼه (د جدول د خانو د عنوان په څېر) د جدول په پورتنۍ برخه کې سمبال شوي دي او هغه شمېرې يا اقلام چې په هر ټولګي پورې اړونديږي تر هماغه ټولګي لاندې ثبت شوي دي. وروسته د هر ټولګي د اقلامو تعداد شمېرل کيږي او د هغوی مجموع د هماغه ټولګي د اړوندو اقلامو په پای کې د دوو لېنديو په منځ کې ليکل شوي دي، دا مجموعې د هر ټولګي فريکونسي جوړوي.

که څه هم د ثبت فورمې د خط بندۍ په پرتله زيات کار غواړي، خو د زيات کار په لرلو سره ښه والی هم لري.

**الف-** هغه اقلام چې سهواً ثبت شوي کېدای شي په آسانۍ سره اصلاح يا نورو اړوندو خانو ته ولېږدوي.

**ب-** که لومړني ټولګي د قناعت وړ نه وي کولای شو هغه په آسانۍ سره د دوهم ځل لپاره تصنيف کړو.

**ج-** هغه عدد چې د ټولګي په وسط کې ځای پرځای شوی، کولای شو په ښه توګه د هماغه ټولګي له اوسط سره پرتله کړو.

په ياد بايد ولرو چې کولای شو د خط بندۍ پاڼه او د ثبت فورمه نظر لومړنيو شمېرو ته تشکيل کړو. او که شمېرې ترتيب شوې وي کار به په مراتبو سره آسان شي.

د ۳-۳ جدول د خط بندۍ د پاڼې پايلې او يا د ۴-۳ جدول د ثبت فورمې اوس کولای شو د فريکونسي په يوه جدول کې لکه د ۵-۳ جدول څرګند کړو.

۵-۳ جدول په ۱۳۸۵کال کې د ۱۴۲ کورنيو ارو دکلني وسطي عايد فريکونسي جدول

| کلنی وسطي عايد (زر افغانۍ) | دکورنيو ارو اندازه (فريکونسي) |
|---|---|
| 66.00-6649 | 10 |
| 66.50-66.99 | 15 |
| 67.00-67.49 | 25 |
| 67.50-67.99 | 40 |
| 68.00-68.49 | 20 |
| 68.50-68.99 | 14 |
| 69.99-69.49 | 11 |
| 69.50-69.99 | 7 |
| | 142 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د فریکونسي جدول تخنیکي اصطلاحات او مفاهیم:**

ځینې تخنیکي اصطلاحات او مفاهیم د فریکونسۍ د جدول په اړه شته چې لري دا مفاهیم په لاندې توګه توضیح کیږي.

- **ټولګی:** په احصائیه کې د دوو عددو په وسیله هر ټاکل شوی واټن لکه 66.00 66.49- یا 69.99-69.50 د ټولګي، صنف، پوړ یا ګروپ په نامه یادیږي.
- **د ټولګي حدود:** هغه دوه عدده چې یو ټولګی رانغاړي د هماغه ټولګي حدود نومول کیږي. د ټولګي کوچنی عدد د ښکتني حد په نوم او لوی عدد د هماغه ټولګي د پورتني حد په نوم یادیږي. لکه:

  په ټولګي کې 66.49-66.00 چې له 66.00 تر 66.49 لوستل کیږي ښکتنی حد یې 66.00 او پورتنی حد یې 66.49 ده.
- **د ټولګي سرحد:** د بحث وړ ټولګي د ښکتني حد اوسط او د مخکیني ټولګي پورتنی حد د ښکتني سرحد په نوم او همدارنګه د دې ټولګي د پورتني حد اوسط او د وروستني ټولګي ښکتنی حد د اړوند ټولګي د پورتني سرحد په نوم یادیږي. د بېلګې په ډول د 67.49-67.00 په ټولګي کې لرو چې:

$$\text{ښکتنی سرحد} = \frac{67.00+66.99}{2} = 66.995$$

$$\text{پورتنی سرحد} = \frac{67.49+67.50}{2} = 67.4955$$

- **د ټولګیو واټن:** د یوه ټولګي واټن د هماغه ټولګي د ښکتني حد او د مخکني ټولګي د پورتني حد له توپیر څخه عبارت دی. د بېلګې په ډول په دوو مخکینیو ټولګیو کې د ټولګي واټن له 0.50 یا 500 افغانۍ څخه عبارت دی. یعنې: په ټولګي کې 66.49-66.00 او 66.99-66.50 په نظر کې نیسو.

  66.00-66.50=0.5 او یا 0.5-=66.00-66.50 = دټولګي واټن

  کولای شو د ټولګیو واټن د اوسطونو تر منځ نظر توپیر ته هم سنجش کړو.
- **د ټولګي پراخ والی:** د ټولګي پراخوالی د هماغه ټولګي د پورتني سرحد او ښکتني سرحد

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترمنځ له توپير څخه عبارت دی. د بېلګې په ډول په 67.00-67.49 لرو چې:

0.5=67.995-67.495

په دې بېلګو کې د ټولګیو واټن او پراخوالی په تصادفي توګه له یو بل سره مساوي دي خو دا حالت شاید په ټولو مواردو کې صدق ونه کړي.

- **د ټولګي فریکونسي:** د یوه ټولګي فریکونسي د هغو پېښو یا واقعاتو او کتنو یا مشاهداتو له تعداد (تکرار)څخه عبارت دی چې، په هماغه ټولګي پورې اړوندیږي. لکه په ۵-۳ جدول کې د ټولګي فریکونسي 68.00-68.49 له 20 کورنیو وګړو څخه عبارت ده. یعنې د 142 سروې شوو کورنیو وګړو له جملې څخه د هغو 20 کورنیو وګړو کلنی عاید 68.00-68.49 زره افغانۍ دی.
- **د ټولګي منځ:** د یوه ټولګي وسط یا منځنی ټکی یا نقطه د هماغه ټولګي د حدودو له اوسط څخه عبارت دی. د بېلګې په ډول د ټولګي اوسط یا وسط 67.00-67.49 له 67.245 څخه عبارت دی یعنې:

$$\text{د ټولګي وسط} = \frac{67.00+67.49}{2} = 67.245$$

**د فریکونسي د وېشنې ګرافیکي څرګندونه:** د فریکونسي وېشنه کولای شو، د ګرافونو په مرسته هم څرګنده کړو. د احصائیوي اعدادو او معلوماتو ګرافیکي څرګندونه څرنګه چې په مخکني څپرکي کې مطالعه شوه په بېلابېلو بڼو او ډولونو ترسره کیږي. د فریکونسي د وېشنې د څرګندولو معمولي بڼه د بارچارت، هستوګرام یا ستوني ګراف په مرسته وي. بارګراف، پای ګراف، خط ماتی ګراف، د هغوی تصویري یا سمبولیک ګراف وي. په دې ځای کې په لنډه توګه ئې احصائیوي بڼې او د څرګندولو او انځورولو کړه وړه توضیح کیږي.

**۱- هیستوګرام:** دیوه احصائیوي ګراف یو هیستوګرام یا د فریکونسي هیستوګرام له یو شمېر مستطیلونو څخه جوړ شوی دی څرنګه چې:

a. مستطیلونه په عمودي توګه د (x) پر افقي محور باندې په دې ډول ځای پرځای شوي دي چې، د هغوی عرض د ټولګیو د واټن له اندازې سره مساوي او وسط ئې د ټولګیو په وسطي ټکي باندې وي.

b. د مستطیلونو ساحه یا مساحت د اړوندو ټولګیو له فریکونسیو سره متناسبه دي، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

حالت البته هغه وخت صدق کوي چې، د ټولګیو واټن ګډ (مشترک) وي پرته له دې باید د مستطیلونو لوړوالی (ارتفاع) برابر کړی شي.

c. د مستطیلونو شمېر د ټولګیو له شمېر سره سم د یوې فریکونسي په ویشنه کې وي.

د یوه هیستوګرام په انځور کې باید لاندې ټکي په پام کې ونیول شي.

**الف**- د فریکونسي د وېشنې هیستوګرام ۵-۳جدول په ۱-۳ شغل یا کارکې څرګند شوي دي.

د فریکونسي په دې بڼه کې ټولګي په افقي محور ( xمحور) کې وضع شوي دي او د y د محور مقیاس بندي باید له صفر څخه پیل او له قطع کېدو پرته دوام پیدا کړي.


**ب**- په افقي محور کې باید یو واټن د بشپړو ټولګیو د نیم یا یوه واټن په اندازه د مستطیل په خوا کې کېښودل شي.

**ج**- د x افقي محور باید داسې مقیاس بندي شي چې، وکړی شي د اړوندو ټولګیو د مستطیلونو پایې په وضاحت سره وښیي، د دې محور مقیاس بندي معمولاً د ټولګیو د حدودو پر اساس ترسره کیږي، که شمېرې اوړدې (متمادي) وي د یوه ټولګي پورتنی حد د وروستني ټولګي له ښکتني حد سره برابریږي. په دې صورت کې د ګراف مستطیلونه له یوبل سره نښتي وي. که چېرې شمېرې اوږدې نه وي یعنې غیر متمادي وي ښه به وي چې د ټولګیو ښکتنی حد د x په محور کې وښودل شي. په ځینو حالاتوکې یواځې د ټولګیو وسطي ټکی د افقي محور پر مخ څرګندیږي. (۲-۳)بڼه

**د**- څرنګه چې پورته اشاره وشوه د x محور باید د ټولګیو د واټن د ګډ والي په صورت کې په مساوي حد ووېشل شي. که چېرې د ټولګیو واټن له یو بل سره توپیر ولري د محور مقیاس بندي باید له هغوی سره سمه ترسره شي د بېلګې په ډول که د ټولګیو واټن توپیر ولري باید دا توپیر د افقي محور پر مخ په وضاحت سره وښودل شي. که واټن 5 او د بل یې 15,5وي په دې صورت کې د دویم ټولګي واټن د x د محور پرمخ باید د لومړني ټولګي د واټن څو برابره وي. په دې حالاتو کې د اصلي فریکونسیو پر ځای د فریکونسیو زیاتوالي یا کثرت څرګندیږي.

**هـ**- په هیستوګرام کې معمولاً د مستطیلونو اوږدوالی د هغوی له عرض څخه زیات وي. خو په ځینو مواردو کې د هغه بالعکس امکان لري یعنې په هغو حالاتوکې چې، د یوه ټولګي واټن (د وضع شوو واحدونو په اساس) د هماغه ټولګي له اړوندې فریکونسي څخه لوی وي. اړوند مستطیل د هغه له اوږدوالي څخه د زیات عرض لرونکی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





(۳-۱) بڼه په ۱۳۸۵ کال کې د ۱۴۲ کورنیو کلنی اوسط عاید په هیستوګرام

د یادونې وړ ده چې په ۱-۳ بڼه کې د هر مستطیل ساحه د ۵-۳ په جدول کې د هر ټولګي د فریکونسي له تعداد سره مساوي وي. همدارنګه د پورتنۍ بڼې مجموعي ساحه د فریکونسیو له مجموعې سره مساوي وي. په عمومي توګه د یوه هیستوګرام له انځور څخه هغه مهم ټکی، چې کیدای شي پرې پوه شو د هر ټولګي د واټن د ساحې متناسب والی پر افقي محور باندې د هماغه ټولګي د فریکونسي له ویشنې څخه ده. د هیستوګرام د دې خصوصیتونو په نظر کولای شو ووینو چې، د فریکونسي محور څرګندوي. په حقیقت کې د پېښو یا کتنو (وقوع او مشاهداتو) زیاتوالی د هر مقیاس واحد په نظر د x محور افاده کوي.

**۲- بار چارت:** د یوې فریکونسي د وېشنې د څرګندولو بله لار د بارچارت په مرسته ترسره کیږي. په دې بڼه کې د۱-۳ بڼې د مستطیلونو په ځای عمودي کرښې رسمیږي. د هرې عمودي کرښې ستنه (پایه) په افقي محور کې د ټولګي په وسطي ټکي باندې ځای پرځای کیږي چې، دهغې اړوندې فریکونسي لوړوالی (ارتفاع) ښیي.


زموږ د مطالعې وړ بیلګه بارچارت، په ۲-۳ بڼه کې څرګنده شوې ده. باید یادونه وکړو چې، بارچارت زیاتره د غیر متمادي اعدادو د ګرافیکي څرګندولو په اړه په کار اچول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





(۲-۳) بڼه په ۱۳۸۵ کال کې د ۱۴۲ کورنیو کلنی وسطي عاید بارچارت

**۳- بارګراف BAR GRAPH:** باراګراف له احصائیوي ګرافونو څخه یو ګراف دی چې، د فیصدۍ په اساس له مجموع څخه انځوریږي. د بېلګې په ډول که چېرې د کابل د ښوونې او روزنې په پوهنتون کې د ادبیاتو پوهنځي د محصلینو شمېر 48%، د طبیعي علومو د پوهنځي د محصلینو شمېر24% او د ټولنیزو علومو د پوهنځي د محصلینو شمېر16%، د اختصاصي پوهنځي د محصلینو شمېر8% او د بدني روزنې د پوهنځي د محصلینو شمېر4% وي، دا معلومات له بارګراف څخه په استفادې په لاندې شان څرګندوو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴- پای ګراف Pie graph:** پای ګراف هم د فیصدۍ په اساس له غونډ (مجموع) څخه انځوریږي، چې یوه بشپړه دایره نظر ورکړل شوو فیصدیو ته په پام کې نیول کیږي او پای ګراف نظر هماغې وېشل شوې فیصدۍ ته د دایرې پر سر انځوریږي. په دې روش کې د یو درست (کُل) تشکیل کوونکي اجزاوو فیصدي د دایرې د وړانګې (شعاع) په مرسته چې، مرکزي زاویه یې د جزء له فیصدیو سره متناسبه وي. په دې منظور د پای ګراف ورکړل شوې فیصدي په پام کې نیسو.




د ادبیاتو پوهنځی 48%

د طبیعي علومو پوهنځی 24%

د ټولنیزو علومو پوهنځی 16%

د اختصاصي علومو پوهنځی 8%

د بدني روزنې پوهنځی 4%


**۵- خط ماتی (شکسته) ګراف Broken Line Graph:** خط ماتی ګراف د متحولینو ترمنځ د اړیکو د ښکندولو لپاره په کار اچول کیږي. په دې صورت کې دا اړیکه د متحولینو د قیمتونو د مرتبو جوړو په ذریعه د ټکو په بڼه د وضعیه کمیاتو د سیستم پر مخ ښودل

(c) ketabton.com: The Digital Library


کيږي او وروسته لاسته راغلي ټکي د ټوټه کرښو په مرسته له يو بل سره نښلوو چې د ګراف بڼه په لاس راځي او هغه ګراف چې په دې ترتيب لاسته راځي د خط ماتي ګراف په نوم يادېږي.

خط ماتی ګراف معمولاً هغه وخت د استفادې وړ ګرځي چې، د يو متحول بدلونونه په زماني وقفو کې تر مطالعې لاندې نيول کيږي. لکه د زړه ګراف او داسې نور.

**۶- تصويري يا سمبوليک ګراف Picto Graph:** په تصويري ګراف کې ارقام د سمبوليکو کوچنيو تصويرونو په مرسته ښودل کيږی. د هر تصوير او سمبول کچه په رقم پورې اړونديږي. لکه د ۱۶ تنو، ۱۱۶، ۱۳۷، ۱۶۴ تنو ارقام کولای شو د مکعباتو په بڼه نظر کوچنيو او لويو ارقامو ته په لاندې توګه وښيو.




سمبوليک ګراف




خط ماتی ګراف

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نسبي او متراكمې (مجموعي) فريكونسي ګانې**

**نسبي فريكونسي:** د يوه ټولګي نسبي فريكونسي د هماغه ټولګي د فريكونسي نسبت د ټولو ټولګيو د فريكونسي له مجموع څخه عبارت دی او معمولاً په فيصدۍ ښکاره کيږي، مثلاً د لومړي ټولګي نسبي فريكونسي په لاندې معلوماتو کې عبارت ده له:

د صعودي (زياتېدونکې) متراکمې فريكونسۍ جدول

| X | F | متراکمه فريكونسي زياتېدونکې |
|---|---|---|
| 34-45 | 10 | 10 |
| 45-55 | 15 | 25 |
| 55-65 | 12 | 37 |
| 65-75 | 17 | 54 |
| 75-85 | 12 | 66 |
| 85-95 | 5 | 71 |
| 95-105 | 10 | 81 |
| مجموع | $\sum F = 81$ | |

د لومړي ټولګي نسبي فريكونسي $= \frac{10}{81}.100 = 12.34\%$

**متراکمه (مجموعي) فريكونسي:** د متراكمو يا مجموعي فريكونسي ګانو وېشنه کولای شو په دوو لارو وشيو، يعنې د صعودي (زياتېدونکو) متراکمې فريكونسي وېشنه او د ټيټېدونکې(متناقصې) متراکمې فريكونسي وېشنه.

**الف- صعودي (زياتېدونکې) متراكمه فريكونسي:** په دې فريكونسي کې له لومړنۍ فريكونسي يا د ټولګي له کوچنۍ فريكونسي څخه پيل شوې. په ترتيب سره د هر ټولګي له فريكونسي سره جمع او د اړوند ټولګي په وړاندې ځای پرځای شوي دي، مثلاً د لومړي ټولګي متراكمه فريكونسي په پورته مثال کې 10 دويم ټولګی 25، دريېم ټولګی 37، څلورم ټولګی 54 او په همدې ترتيب تر اووم ټولګي 66، 71 او 81 دي او يا اووم ټولګی له لومړي څخه تر اومه پورې د ټولو فريكونسي ګانو مجموع ده.

**ب- ټيټېدونکـې (متناقصـه) متراكمه فريكونـسي:** د متناقصو متراكمـو فريكونسي ګانو په ترتيبولـو کې يـا د فريكونسي ګانو مجمـوع د لومړي ټولګي په وړانـدې ځای په ځای شـوي دي او پـه ترتيب سره د هـر ټولګي فريكونسي د پاتې شـوو لـه مجموع څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تفریــق او د اړوند ټولګي په وړاندې لیکل شــوي دي. مثلاً: د لومړي ټولګي ټیټېدونکې متراکمــه فریکونسي 81 یعنې د فریکونسي ګانو مجموع او د فریکونسي ګانو له مجموع څخه وروســته، د لومړي ټولګي فریکونسي منفي د دویم ټولګي د متراکمې مجموع په فریکونسي کې لیکل کیږي او په همدې ډول تر اووم ټولګي پورې دوام پیدا کوي.

د متناقصې (ټیټېدونکې) متراکمې فریکونسي جدول

| X | F | زیاتېدونکې متراکمه فریکونسي |
|---|---|---|
| 34-45 | 10 | 81 |
| 45-55 | 15 | 71 |
| 55-65 | 12 | 56 |
| 65-75 | 17 | 44 |
| 75-85 | 12 | 27 |
| 85-95 | 5 | 15 |
| 95-105 | 10 | 10 |

**د دریېم څپرکي د مطالبو لنډیز:**

- **د پېښېدو (وقوع) بیا وېشنه (د فریکونسي وېشنه):** که چېرې اعداد نظر د هغوی کچې او کمیت ته ترتیب او توضیح شي دغه عملیه د پېښېدو بیا وېشنې یا د فریکونسي وېشنې په نوم یادوي.
- **د اعدادو راټولونه:** د فریکونسي په وېشنه کې د لومړنیو اعدادو توحید او انسجام معمولاً په مستقیم او غیر مستقیم ډول په اتفاقي او خپور (پراګنده) توګه تر سره کیږي. اعداد له راټولونې وروسته ترتیب، توحید او خلاصه کیږي تر څو تحلیل او نتیجه ګیري آسانه شي.
- **د اعدادو تصنیف:** که چېرې اعداد لږ یا د نمونې کچه کوچنۍ وي د اعدادو ترتیب نسبتاً آسانه دی، که چېرې اعداد زیات او نمونه نسبتاً لویه وي د اعدادو ترتیب په جدول کې آسانه کار نه دی، زیات وخت غواړي او محدوده ګټه ورڅخه اخستل کیږي.

نو څکه اعداد په هغه بڼه چې ترتیب، تصنیف او څرګندیږي د بیا پېښېدو جدول (د فریکونسۍ جدول) په نوم یادیږي.

**د فریکونسي جدول تخنیکي اصطلاحات او مفاهیم**

**ټولګی:** په احصائیه کې هر ټاکل شوی واټن د دوو عددو په وسیله لکه 66.00-66.49 د ټولګي په نوم یادیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ټولګـــي حـــد او حدود:** هغه دوه عدده چـــې يو ټولګی رانغـــاړي، د ټولګي حد او حدود يادېږي. کوچنی عدد د ښکتني حد او لوی عدد د پورتني حد په نوم يادېږي.
**د ټولګي سر حد:** د بحث وړ ټولګي د ښکتني حد اوسط او د مخکني ټولګي پورتنی حد، د ښـــکتني سرحد په نوم، او د نظر وړ ټولګي پورتني حد او د وروســـتني ټولګي ښکتنی حد د پورتني سرحد په نوم يادېږي.
**د ټولګـــي واټـــن:** د هماغه ټولګي د ښـــکتني حد او د مخکني ټولګي دښـــکتني حد توپير د ټولګي واټن دی.
**د ټولګـــي پراخ والی:** د ټولګي پراخوالی د هماغه ټولګي د پورتني سرحد او ښـــکتني سرحد ترمنځ توپير دی.
**د ټولګي فريکونسي:** د هغو پېښـــو او کتنو (واقعاتو او مشـــاهداتو) له تعداد (تکرار) څخه عبارت دی چې په هماغه ټولګي پورې اړونديږي.
**د ټولګي وسط:** د يوه ټولګي منځنۍ برخه د هماغه ټولګي د حدودو له اوسط څخه عبارت دی.
د فرېکونـــسي د وېشـــنې ګرافيکي څرګندونه:کولای شـــو دځينو ګرافونو لکه: هيســـتوګرام، باراګراف، پای ګراف، خط ماتې او تصويري ګراف يا سمبوليک ګراف په وسيله څرګند کړو.

## د دريم څپرکي پوښتنې

١- د فريکونسي د وېشنې مفهوم په لنډه توګه توضيح کړئ؟
٢- په هغه کې لاندي ورکړل شوي معلومات

66.00-66.49

66.50-66.99

67.00-67.49

67.50-67.99

الف- د ټولګي حد او حدود وټاکئ؟
ب- د ټولګي ښکتنی او پورتنی سرحد وټاکئ؟
ج- ټولګی تشخيص کړئ؟
د- د ټولګيو پراخ والی وټاکئ؟
هـ- د ټولګيو اوسط تشخيص کړئ؟
٣- د يوې کورنۍ کلني لګښتونه ورکړل شوي دي، دا لګښتونه د بارګراف او پای ګراف د احصائيوي ګراف په بڼه څرګند کړئ؟
4- د ټولګي واټن څه شی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

## مرکزي (اوسط) میلان مقیاس

**ټولیزه موخه:**

د اوسطونو په مفهوم پوهېدل او د هغوی د ځانګو بنې.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې باید محصلین د حساب د ځانګې د اوسطونو مفهوم تعریف او توضیح کړای شي.

١- حسابي اوسط

٢- هندسي اوسط

٣- هارمونیکي اوسط

۴- مربعي اوسط

- مود (د فریکونسۍ زیاتوالی) د هغو اوسطونو په مفهوم پوهېدل چې، وسطي موقعیت لري.
- میدیان (د فریکونسي اوسط)
- د کارتیلونو، سانیلونو او دسیلونو په سنجش او مفهوم پوهېدل

**اوسطونه:** یو شمېر احصائیوي مقیاسونه شتون لري چې، د اوسطونو په توګه په کار اچول کیږي. اوسطونه د هغوی د ریاضي اړخونو له پلوه په دوه ګروپونو باندې وېشل کیږي.

هغه شمېرې چې د حساب د سنجش له نظره د عدد د اوسط په توګه راوځي او دویم ګروپ چې منځنی موقعیت لري.

**لومړی ګروپ:** په لومړني ګروپ کې حسابي اوسط، هندسي اوسط، مربعي اوسط او هارمونیکي اوسط شامل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دويم گروپ:** میديان (د فريکونسي وسط) مود ( د فريکونسي زياتوالى) او داسې نور رانغاړي. بايد ووايو چې په زياتره ځايونو کې يواځې يو مقياس يا تشريحي مشخصې ته اړتيا لرو، تر څو نظر هغه ته د بلې لړۍ شمېرې مطالعه کړو. دا عدد بايد له هغو ټولو اعدادو څخه استازيتوب وکړي چې، د هغې په وسيله تشريح کيږي. په دې منظور نوموړى عدد بايد تمايل يا ميلان همدارنګه د لړۍ د شميرو ويشنه د يوه مرکزي يا وسطي ارزښت په خواکې وښيي. له دې پلوه استازى عدد د مرکزي ميلان مقياس يا معمولاً د اوسط په نوم ياديږي.

يا په بل عبارت د يوې لړۍ يا سلسلې اوسط د يوه ارزښت يا يوه عدد څخه دى، چې له ټولو اعدادو څخه استازيتوب وکړي او څرنګه چې دا عدد د لړوالي له پلوه د اړوندو شمېرو د لړۍ يا سلسلې په وسط يا مرکز کې ځاى پرځاى کيږي، ځينې وخت د مرکزي ګذارش مقياس په نوم هم نومول کيږي.

څرنګه چې مو وويل مرکزي تمايل يا د مرکزي ميلان مقياس د بېلا بېلو ځانګو لرونکي دي چې زيات معمولي يې عبارت دي له:

1- **حسابي اوسط:** د ورکړل شوو اعدادو د ټولو ارقامو حاصل جمع د هغوى پر تعداد باندې له تقسيم څخه عبارت دى. که چېرې دحسابي وسط په $\overline{X}$ او ورکړل شوي شمېرې يا ارقام په $X_1$ ، $X_2$، $X_3$ ..... $X_n$ وښودل شي نو حسابي اوسط مساوي کيږي په:

$$\overline{X} = \frac{X_1 + X_2 + X_3 \ldots X_n}{n} = \frac{\sum_{n=1}^{n} X_1}{n}$$

د ($\Sigma$) (زيګما) علامه (د يوناني لوى توري سيګما يا زيګما) معمولاً د مجموع يا جمع کولو په مفهوم په کار اچول کيږي.

د بېلګې په ډول که 10 عدده ولرو او هر يو يې په $x_1$ (i=1,2,…10) افاده کړو او وغواړو د دغو اعدادو مجموعه پيدا کړو کولاى شو وليکو.

$$X_1+X_2+\ldots\ldots+X_{10}=\sum_{i=1}^{10} X_1$$

**بېلګه:** د ارقامو حسابي اوسط 3,11,12,13,14,16,17,18 عبارت دى له:

$$\overline{X} = \frac{3+11+12+13+14+16+17+18}{8} = \frac{104}{8} = 13$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بېلګه:** که اوه عدده، 2، 7، 8، 5، 13، 15، 20 ولرو د هغه حسابي اوسط به عبارت وي له:

$$\overline{X}=\frac{15+2+7+8+5+13+20}{7}=\frac{70}{7}=10$$

له مؤثر اوسط څخه يو د استفاده کولو خصوصي حالات په هغه حالت کې دی چې، د څو سټونو آمارو يا ارقامو عمومي اوسط د هر سټ د اوسطونو په مرسته مطلوب وي. لکه که چېرې $X_1$ اوسط $n_1$ عدد، $X_2$ اوسط $n_2$ په همدې ترتيب بالاخره $X_n$ اوسط $n_k$ عدد وي ترڅو شرايطو لاندې عمومي اوسط مساوي دی له:

$$\overline{X}=\frac{\sum_{i=1}^{k}n_1\overline{X_1}}{\sum_{i=1}^{k}n_1}$$

**بېلګه:** د يوه ټولګي د 26 تنو اوسطې نمرې 74.7 د همدې ټولګي د 32 تنو نورو اوسطې نمرې85.2 او د همدې ټولګي د پاتې 35 تنو اوسط 71.5 دی. د ټولګي اوسطه نمره محاسبه کړئ.

$$\overline{X}=\frac{26(74.7)+32(85.32)+35(71.5)}{26+32+35}=77.12$$

**بېلګه:** يو هټۍ وال 28 کيلوګرامه چای، يو کيلو ګرام په120000 افغانۍ، 18 کيلوګرامه چای يو کيلوګرام په 130000 افغانۍ او 48 کيلوګرامه چای، يو کيلو ګرام په 13500 افغانۍ خرڅ کړ، د هر يو کيلو ګرام چای اوسط قيمت معلوم کړئ.

$$\overline{X}=\frac{28(120000)+18(130000)+48(135000)}{28+18+48}=129545.5Af$$

**الف- د اوږدې يا متمادي لړۍ حسابي اوسط (ډلبندي شوي اعداد):** د اوږدو تصنيف شوو اعدادو اوسط ځای کولای شو له لاندې درېو لارو لاسته راوړو.

a- مستقيم ميتود

b- غير مستقيم ميتود يا فرضي اوسط

c- د پړاويز (مرحله اي) انحراف ميتود

**a-** په مستقيم ميتود کې د يوې اوږدې لړۍ د حسابي اوسط سنجش لپاره کولای شو له لاندې فورمول څخه ګټه واخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$X=\frac{\sum fn}{\sum f}$$

چې په هغه کې X اوسط، m د ټولګي وسطي ټکی، f د ټولګيو اړونده فريکونسي ښيي.

**بېلګه:** د سلو تعاوني مغازو د خرڅلاو د اندازې په اړه لاندې معلومات په لاس کې شته، د خرڅلاو وسطي اندازه يا کچه معلومه کړئ.

د خرڅلاو اندازه (زر افغانۍ)

| X | f | M | Fm |
|---|---|---|---|
| 5-15 | 10 | 10 | 100 |
| 15-25 | 20 | 20 | 400 |
| 25-35 | 30 | 30 | 900 |
| 35-45 | 25 | 40 | 1000 |
| 45-55 | 10 | 50 | 500 |
| 55-65 | 5 | 60 | 300 |
| | | | $\sum fm=3200$ |

$$X=\frac{\sum fn}{\sum f}$$

$$X=\frac{3200}{100}$$

X=32زرافغانۍ

**b- د فرضي اوسط په طريقه:** له لاندې فورمول څخه ګټه اخيستل کيږي.

$$X=A+\frac{\sum fd}{\sum f}$$

چې په هغه کې A فرضي اوسط او $\sum d$ مساوي دی له d=m-A سره.

**بېلګه:** پورتنی تمرين په پام کې نيسو، د وسطي خرڅلاو اندازه د دې ميتود په مرسته پيدا کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرض کړئ چې A یا  فرضي اوسط مساوي له 30 سره وي.

| X | F | M | d=m-A | Fd |
|---|---|---|---|---|
| 5-15 | 10 | 10 | 10-30=-20 | -200 |
| 15-25 | 20 | 20 | 20-30=-10 | -200 |
| 25-35 | 30 | 30 | 30-30=0 | 0 |
| 35-45 | 25 | 40 | 40-30=10 | 250 |
| 45-55 | 10 | 50 | 50-30=20 | 200 |
| 55-65 | 5 | 60 | 60-30=30 | 150 |
| | $\sum f = 100$ | | | $\sum fd = 200$ |

$$X=A+\frac{\sum fd}{\sum f} \Rightarrow X = 30 + \frac{200}{100} = 32$$ زره

**C- د مرحله يي انحراف میتود:** په دې روش کې د سنجشونو د آسانۍ لپاره د ټولګیو ګډ واټن سنجول کیږي او د هغه نتیجه په ګډ واټن کې ضربیږي چې، فورمول یې په لاندې ډول دی.

$$X=A+\frac{\sum fd}{\sum f}.C$$

چې په هغه کې d=m-A او C د ټولګیو ګډ واټن ښیي فرض کوو چې، A د فرض اوسط مساوي له 40 سره وي.

د مخکینۍ بېلګې ارقام په پام کې ونیسئ. د وسطي خرڅلاو  اندازه د پورتني فورمول په مرسته سنجش کړئ. د خرڅلاو اندازه (په زر افغانۍ).

| X | F | M | m-A=d | d? $\frac{d}{c}$ | Fd? |
|---|---|---|---|---|---|
| 5-15 | 10 | 10 | -30 | -3 | -30 |
| 15-25 | 20 | 20 | -20 | -2 | -40 |
| 25-35 | 30 | 30 | -10 | -1 | -30 |
| 35-45 | 25 | 40 | 0 | 0 | 0 |
| 45-55 | 10 | 50 | 10 | 1 | 10 |
| 55-65 | 5 | 60 | 20 | 2 | 10 |
| | 100 | | | | $\sum fd' = -80$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

A=40

C=10

$$X=A+\frac{\sum fd'}{\sum f}.C$$

زر $X=40+\frac{-80}{100}.10=40-8=32$

**۱ـ هندسي اوسط:** هندسي اوسط د m له جذر د n له حاصل ضرب، له کتنې او یا ارزښتونو څخه عبارت دي. که په یوه لړۍ کې دوه عدده شتون ولري، د هغه مربع جذر او که درې شمېرو لرونکی وي، مکعب جذر او په همدې ترتیب د لړۍ د ارقامو له تعداد سره سم د هغه جذر اخیستل کیږي. په سمبولیک ډول هندسي اوسط د لاندې فورمول په مرسته لاسته راځي:

$$GM=\sqrt[n]{X_1.X_2.X_3....X_n}$$

چې په هغه کې $X_1$، $X_2$، $X_3$، $X_n$ او داسې نور د لړۍ بېلا بېل اقلام ښيي. که چېرې د لړۍ اقلام درې یا له دریو څخه زیات وي د ارزښتونو ضرب کول او د هغه د جذر لاسته راوړل ډېر ستونزمن کار دی، د سنجش د ساده کولو لپاره له لوګاریتم څخه استفاده کیږي.

**د یواځې (منفردو) کتنو هندسي اوسط سنجش:** د یواځې (انفرادي) کتنو د هندسي اوسط سنجش لپاره له لاندې فورمول څخه ګټه اخیستل کیږي. $GM\ \frac{\sum \log x}{N}$

**بېلګه:** د لاندې کتنو هندسي اوسط پیدا کړئ.

N=5 $\qquad GM=\frac{11.31}{5}=2.26$

| X | Log X |
|---|---|
| 125 | 2.09 |
| 275 | 2.43 |
| 300 | 2.47 |
| 185 | 2.26 |
| 115 | 2.06 |

$$\sum \log x = 11.31$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بېلګه:** د 45 او 90 او 180 اعدادو هندسي اوسط او حسابي اوسط پیدا کړئ.

**حل:** $GM=\sqrt[3]{45.90.180}=\sqrt[3]{729000}=90$ هندسي اوسط

$Am=\frac{45+90+180}{3}=105$ حسابي اوسط

**بېلګه:** د درې شمېرو 2، 4 او 8 هندسي او حسابي اوسط عبارت دی له:

$$G=\sqrt[n]{X_1.X_2.X_3....X_n}$$

$$G=\sqrt[3]{(2)(4)(8)}=64=4$$

$$\overline{X}=\frac{2+4+8}{3}=\frac{16}{3}=4.7$$

په عمومي توګه د مثبتو اعدادو د هرې لړۍ یا سلسلې حسابي اوسط د هغه له هندسي اوسط څخه لوی وي. یا دا چې د لړۍ ټول اعداد له یوبل سره مساوي وي او که چېرې د لړۍ اعداد ټول یو شان برابرې وي. د نوموړې لړۍ حسابي اوسط او هندسي اوسط هم له یو بل سره مساوي وي. او که چېرې پورتنی فورمول د لوګاریتم په بڼه افاده کړو د هندسي اوسط سنجش په مراتبو آسانه کیږي یعنې:

$$G=(X_1.X_2.\ ...\ X_n)^{\frac{1}{n}}$$

$$Log\ G=\frac{1}{n}\log(X_1.X_1...X_n)=\frac{1}{n}(\log x_1+\log x_2...+\log x_n$$

$$G=\frac{\sum \log x}{n}$$

**بېلګه:** د 3، 5، 6، 6، 7، 10 او 12 هندسي اوسط پیدا کړئ.

**حل :**

$$G=\sqrt[n]{(X_1)(X_2)...(X_n)} \quad G=(X_1)(X_2)(X_n)^{\frac{1}{n}}$$

$$Log\ G=\frac{\sum \log x}{n}$$

$$G=\sqrt[7]{(3)(5)(6)(6)(7)(10)(12)}=\sqrt[7]{453600}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\text{Log G}=\frac{1}{7}\log 453600$$

G=6.43

**او یا کولای شو ولیکو:**

$$\text{Log G} = \frac{1}{7}(\log3+\log5+\log6+\log7+\log10+\log12)$$

G=6.43

**b: د لنډې (غیر متمادي) لړۍ هندسي اوسط سنجش:** د لنډې (غیر متمادي) لړۍ د هندسي اوسط سنجش د لاندې فورمول په مرسته ترسره کیږي:

$$\text{GM}=\frac{\sum f\log X}{\sum f}$$

**بېلګه:** په یوه احصائیوي تحقیق یا څېړنه کې په ۹۳ کورنیو کې کلنی عاید په لاندې ډول لاسته راغلی دی.

| X | F | LogX | flogX |
|---|---|---|---|
| 10000 | 1 | 4 | 4 |
| 800 | 50 | 2.9 | 145 |
| 400 | 25 | 2.6 | 65 |
| 7500 | 2 | 3.87 | 7.74 |
| 1000 | 3 | 3 | 9 |
| 1500 | 4 | 3.17 | 12.68 |
| 1200 | 3 | 3.07 | 9.21 |
| 600 | 5 | 2.77 | 31.85 |
| | $\sum f=93$ | | $\sum f\log X=266$ |

$$\text{GM}=\frac{\sum f\log X}{\sum f}=\frac{266}{93}=2.9$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د اوږدې (متمادي) لړۍ هندسي اوسط سنجش:** د اوږدې (متمادي) لړۍ د هندسي اوسط د سنجش لپاره له لاندې فورمول څخه ګټه اخیستل کیږي:

$$GM=\frac{\sum f \log m}{\sum f}$$

په دې ځای کې m د ټولګیو وسطي ټکی دی.

**بېلګه:** د 50 تنو محصلینو د یوه ځانګړي مضمون د نمرو په برخه کې لاندیني معلومات ورکړل شوي دي، وسطي نمره د هندسي له اوسط څخه په استفادې پیدا کړئ.

| نمرې X | د محصلینو شمېر F | M | Log m | F Log m |
|---|---|---|---|---|
| 0-10 | 8 | 5 | 0.69 | 5.52 |
| 10-20 | 12 | 15 | 1.17 | 14.04 |
| 20-30 | 20 | 25 | 1.39 | 27.8 |
| 30-40 | 6 | 35 | 1.54 | 9.24 |
| 40-50 | 4 | 45 | 1.65 | 6.6 |
| | $\sum f=50$ | | | $\sum f\log m=63.53$ |

$$GM=\frac{\sum f \log m}{\sum f}=\frac{63.53}{50}=1.27$$

**د هندسي اوسط د استعمال خاص موارد:** هندسي اوسط د خرڅلاو، تولیداتو، نفوسو، او د اقتصادي او تجارتي نورو وسیلو د زیاتوالي د وسطي فیصدۍ د پیدا کولو لپاره د استفادې وړ ګرځي. د بېلګې په ډول که فرض کړو چې له 1359 کال څخه تر 1367 کال پورې قیمتونه په ترتیب سره 5%، 15% او 18% د قیمت کلنی وسطي زیاتوالي 11% د حسابي اوسط په مرسته وي البته دا دقیقه نه ده بلکې 15.9% د هندسي اوسط په مرسته لاسته راغلې.

۲- هندسي اوسط د شاخصونو د منځ ته راتلو لپاره ډېرښه اوسط دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- په هغو مواردو کې چې کوچني اقلام د ستر ډېر دروندوالي لرونکي او لوی اقلام د کوچني لږ دروندوالي لرونکي وي ډېر مناسب اوسط، هندسي اوسط دی.

**هارمونيکي اوسط:** هارمونيکي اوسط يو ډول اوسط دی چې د استعمال محدود موارد لري او زياتره وخت په خاصو ځايونو کې د احصائيوي اشتباهاتو د مخنيوي لپاره ورڅخه ګټه اخيستل کيږي. له دې اوسط څخه معمولاً په ورځ او يا په ساعت کې د توليد شوو محصولاتو د قيمتونو د لړۍ په تحليل کې ګټه اخيستل کيږي. د هارمونيک اوسط د يواځې (منفرد) کتنو حسابي اوسط د معکوس په توګه محاسبه کيږي.

په دې ترتيب د هارمونيک اعدادو د يوې لړۍ، هارمونيک اوسط عبارت دي له:

$$X = \frac{\sum X}{N} \Leftrightarrow Hm = \frac{N}{\sum \frac{1}{Xn}}$$

$$H = \frac{\dfrac{1}{\frac{1}{X_1} + \frac{1}{X_2} + \frac{1}{X_3} \ldots + \frac{1}{X_n}}}{n}$$

$$H = \frac{1}{\dfrac{\sum \frac{1}{x}}{n}} = \frac{N}{\sum \frac{1}{X}}$$

د بېلګي په ډول د دريو اعدادو 2 او 4 او 8 هارمونيک اوسط پيدا کړئ.

$$H = \frac{1}{\dfrac{\frac{1}{2} + \frac{1}{4} + \frac{1}{8}}{3}} \; \frac{1}{\dfrac{\frac{7}{8}}{3}} = \frac{3 \times 8}{7} = \frac{24}{7} = 3.43$$

**بېلګه:** يوه موټر 100 کيلومتره واټن له 20 کيلومتره سرعت سره، 100 کيلومتره له 25 کيلومتره سرعت سره او 100 کيلومتره له 50 کيلومتره سرعت سره په يوه ساعت کې وهلی دی، د هغه متوسط سرعت محاسبه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**حل:** موټر 300 کیلومتره واټن په بېلا بېلو سرعتونو سره وهلي دي، چې اړوند وختونه عبارت دي له:

$$t_1=\frac{100}{20}=5h$$

$$t_2=\frac{100}{25}=4h$$

$$t_3=\frac{100}{50}=2h$$

**او متوسط سرعت عبارت دی له:**

$$\overline{V}=\frac{100+100+100}{5+4+2}=\frac{300}{t_1+t_2+t_3}$$

$$=\frac{300}{\frac{100}{20}+\frac{100}{25}+\frac{100}{50}}=\frac{3}{\frac{1}{20}+\frac{1}{25}+\frac{1}{50}}$$

$$=\frac{3}{\frac{5+4+3}{100}}=\frac{3}{\frac{11}{100}}=\frac{300}{11}=27.2$$

له هارمونیک اوسط څخه معمولاً د وسطي سرعت د پیدا کولو لپاره چې، عین واټن په بېلا بېلو سرعتونو سره وهي استفاده کیږي.

د یواځې (منفردو) کتنو د هارمونیک اوسط سنجش: د هارمونیک یواځې (منفرد) اوسطونو په یوه لړۍ کې له لاندې فورمول څخه په استفادې سنجش کیږي چې، په هغه کې $X_1$، $X_2$ او $X_3$ .... $X_n$، د X د متحولونو بېلا بېل اقلام وي او N د کتنو یا مشاهداتو تعداد ښیي.

$$H_m=\frac{N}{\sum\frac{1}{XN}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بېلګه:** د لاندې کتنو (مشاهداتو) هارمونیک اوسط پیدا کړئ.

| X | $\frac{1}{X}$ |
|---|---|
| 2 | $\frac{1}{2}$ |
| 4 | $\frac{1}{4}$ |
| 8 | $\frac{1}{8}$ |
| 5 | $\frac{1}{5}$ |
| 10 | $\frac{1}{10}$ |

N=5

$$HM=\frac{N}{\sum\frac{1}{X_m}}$$

$$HM=\frac{5}{\frac{47}{10}}=4.25$$

$$\sum\frac{1}{X}=\frac{47}{40}$$

**د لنډې (غیر متمادي) لړۍ هارمونیک اوسط سنجش:** په لنډې (غیرمتمادي) لړۍ کې د

هارمونیک اوسط د $HM=\frac{\sum f}{\sum\frac{f}{x}}$ فورمول په مرسته په لاس راځي.

**بېلګه:** د 120 تنو محصلینو نمرې په لاندې ډول ورکړل شوې دي د هغه هارمونیک اوسط پیدا کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| F | $\frac{f}{X}$ | $\frac{f}{X}$ |
|---|---|---|
| 20 | $\frac{20}{10}$ | 2 |
| 30 | $\frac{30}{20}$ | 1.5 |
| 50 | $\frac{50}{25}$ | 2 |
| 15 | $\frac{15}{40}$ | 0.37 |
| 5 | $\frac{5}{50}$ | 0.1 |
| $\sum f=120$ | $\sum \frac{f}{x}$ | $\sum \frac{f}{x}=5.97$ |

N=120

$$HM=\frac{\sum f}{\sum fx}$$

$$HM=\frac{120}{5.97}=20.10$$

**د اوږدې (متمادي) لړۍ هارمونیک اوسط سنجش:** د اوږدې لړۍ د هارمونیک اوسط سنجش لاره لکه د لنډې (غیرمتمادي) لړۍ په شان ده. یواځینی توپیر یې دا دی چې، په X کې د ټولګیو وسطي ټکي یعنې m د استفادې وړ ګرځي او د هغه فورمول په لاندې ډول دی.

$$HM=\frac{\sum F}{\sum \frac{f}{m}}$$

**بېلګه:** د لاندې معلوماتو هارمونیک اوسط پیدا کړئ.

| X | F | M | $\frac{f}{m}$ |
|---|---|---|---|
| 10-20 | 4 | 15 | $4/15=0.26$ |
| 20-30 | 6 | 25 | $6/25=0.24$ |
| 30-40 | 10 | 35 | $10/35=0.28$ |
| 40-50 | 7 | 45 | $7/45=0.15$ |

$$HM=\frac{\sum f}{\sum \frac{f}{m}}$$

$$HM=\frac{30}{0.98}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 50-60 | 3 | 55 | $3/55=0.05$ | |
| | $\sum = 30$ | | $\sum \frac{f}{m} = 0.98$ | HM=30.6 |

**بېلګه:** د لاندې کتنو (مشاهداتو) هارمونیک اوسط پیدا کړئ.

| X | F | M | $\frac{f}{m}$ |
|---|---|---|---|
| 25-35 | 10 | 30 | $\frac{10}{30}$ |
| 35-45 | 5 | 40 | $\frac{5}{40}$ |
| 45-55 | 15 | 50 | $\frac{15}{50}$ |
| 55-65 | 20 | 60 | $\frac{20}{60}$ |
| 65-75 | 25 | 70 | $\frac{25}{70}$ |
| | $\Sigma f=75$ | | $\Sigma \frac{f}{m}=1.448$ |

$$HM=\frac{\sum f}{\sum \frac{f}{m}} \Rightarrow \frac{75}{1.448}=5.79$$

**مربعي برخه (بخش):** د مربعاتو د حسابي اوسط مربع جذر ته د هغوی د څو عددونو مربعي اوسط ویل کیږي. په بل عبارت د $X_1,X_2,X_3....X_n$ اعدادو مربعي اوسط عبارت دی له:

$$QM=\overline{X}^2=\sqrt{\frac{\sum X^2}{n}}=\sqrt{\frac{X_1^2+X_2^2+...X_n^2}{n}}$$

**بېلګه:** د 1,3,4,5,7 اعدادو مربعي اوسط پیدا کړئ.

$$X^2=\sqrt{\frac{(1)^2+(3)^2+(4)^2+(5)^2+(7)^2}{5}}=\sqrt{\frac{100}{5}}=\sqrt{20}=4.4$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ کولای شو مربعي اوسط هم په بېلو څانګو کې تر بحث او څېړنې لاندې ونیسو.

**a- د یواځې (منفردې) لړۍ مربعي اوسط یعنې:**

$$X^{-2}=\sqrt{\frac{\sum X^2}{N}}$$

**بېلګه:** د لاندې یواځې (منفردو) اعدادو مربعي اوسط لاسته راوړئ.

| X | $X^2$ |
|---|---|
| 2 | 4 |
| 3 | 9 |
| 4 | 16 |
| 5 | 25 |
| 6 | 36 |
| | $\sum X^2=90$ |

$$X^{-2}=\sqrt{\frac{90}{5}}=\sqrt{18}=4.2$$

**b- د لنډې (غیرمتمادې) لړۍ مربعي اوسط:** د لاندې فورمول په مرسته لاسته راځي.

$$X^{-2}=\sqrt{\frac{\sum fX^2}{\sum f}}$$

**بېلګه:** د 20 تنو محصلینو نمرې په لاندې ډول ورکړل شوې دي د هغوی مربعي اوسط لاسته راوړئ.

| X | f | $X^2$ | $FX^2$ |
|---|---|---|---|
| 5 | 6 | 25 | 150 |
| 10 | 5 | 100 | 500 |
| 15 | 4 | 225 | 900 |
| 20 | 3 | 400 | 1200 |
| 25 | 2 | 625 | 1250 |
| | $\sum f=20$ | | $\sum fX^2$ |

$$\overline{X}^2=\sqrt{\frac{4000}{20}}=\sqrt{200}=14.14$$

**b- په یوه اوږده (متمادي) لړۍ کې مربعي اوسط:** په یوه اوږده (متمادي) لړۍ کې مربعي اوسط د لاندې فورمول په مرسته لاسته راځي.

$$X^2=\sqrt{\frac{\sum fm^2}{\sum f}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بېلګه:** د مخکینۍ بېلګې ارقام په نظر کې ولرئ په لاندې اوړدې (متمادي) لړۍ کې د هغه مربعي اوسط پیدا کړئ.

| X | f | $m^2$ | $Fm^2$ |
|---|---|---|---|
| 5-15 | 6 | 10=100 | 600 |
| 15-25 | 5 | 20=400 | 2000 |
| 25-35 | 4 | 30=900 | 3600 |
| 35-45 | 3 | 40=1600 | 4800 |
| 45-55 | 2 | 50=2500 | 5000 |
| | $\sum f=20$ | | $\sum fm^2=16000$ |

$$X^{-2}=\sqrt{\frac{\sum fm}{\sum f}} \Rightarrow \sqrt{\frac{1600}{20}}=\sqrt{800}=28.28$$

**میدیان (د فریکونسي وسط)**

تر اوسه پورې چې کوم اوسطونه مورد مطالعه کړل هغه سنجش شوي اوسطونه دي چې، د یوې نمونې نظر ټولو اعدادو یا کتنو (مشاهداتو) ته د مشخصو فورمولونو په لړۍ کې محاسبه کیږي. په خلاف د دې په ځینو مواردو کې د وېشل شوو اوسطونو په ځای د اعدادو یا کتنو (مشاهداتو) وسطي موقفونو ته لکه میدیان (د فریکونسي وسط) یا مود (د فریکونسي زیاتوالی یا کثرت) چې وروسته به مطالعه شي اړتیا پیدا کیږي.

د یوې لړۍ اعدادو میدیان چې د هغوی د کمیت په نظر ترتیب شوي، نوموړې لړۍ له وسطي (منځني) عدد څخه عبارت دی، په بل عبارت میدیان د هغه عدد له ارزښت څخه عبارت دی چې، اړونده لړۍ په دوو برخو داسې ویشي چې، لږ تر لږه د لړۍ پنځوس فیصده اجزاء لږ یا مساوي په هغه یا لږ تر لږه پنځوس فیصده د لړۍ اجزاء مساوي یا له هغه څخه لوی وي.

د یوه آمار منځ (وسط) یا ډلبندي (صنف بندي) شوي اعداد د اندازې (صعودي یا نزولي) په ترتیب په لاندې بڼه په لاس راځي.

۱- که چېرې د آمار یا ارقامو اندازه تاق وي په دې صورت کې د هغوی منځ (میانه) له هغه منځني رقم یا عدد څخه عبارت دی چې، د هغه دواړو خواوو ته په مساوي بڼه ارقام ځای په ځای کیږي. مثلاً د اعدادو منځ (میانه) په نزولي بڼه12 ، 13، 14، 15، 16، 17، 18، 19 او 20 څخه عبارت دي. د 16 عدد یعنې پنځم عدد منځنی (میانه) دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او یا که د 5 تنو عاید په ترتیب سره2500، 2800، 3200، 3400 او 4000 افغانۍ وي. د میدیان عاید عبارت له 3200 افغانۍ څخه دی.

دا باید څرګند کړو چې، د میدیان تثبیت باید له ټولو نه مخکې اعداد ترتیب کړي.

**بېلګه:** د لاندې اعدادو میدیان پیدا کړئ.

10، 3، 5، 4، 8، 8، 4، 8 او6

پورتني اعداد له ترتیب څخه وروسته په لاندې ډول دي.

3، 4، 5، 6، 8، 8، 8 او10

د دې اعدادو میدیان له 6 څخه عبارت دی.

که چېرې د یوې لړۍ د اجزاوو تعداد جفت وي، د هغه میدیان د هغو دوو عددونو له وسط څخه عبارت دی چې، د اړوندې لړۍ په وسط کې واقع شوې ده.

بېلګه: د لاندې اعدادو د لړۍ میدیان پیدا کړئ.

5، 18، 5، 15، 7، 12، 9 او11

له ترتیب څخه وروسته لرو:

5، 5، 7، 9، 11، 12، 15 او18

په دې بېلګه کې تعداد د ۸ اجزاوې دي او د هغوی په وسط کې یو واحد عدد شتون نه لري بلکې دوه عدده ۹ او ۱۱ ځای پرځای شوي. په دې حالت کې د میدیان ارزښت د هغو دوه عددونو له اوسط څخه عبارت دی چې، د لړۍ په وسط کې واقع شوي دي.

$$\text{Med}=\frac{9+11}{2}=10$$

**بېلګه:** د لاندې لړۍ میدیان پیدا کړۍ.

2500، 2800، 3200، 3400، 4000 او4300

د دې لړۍ میدیان عبارت دی له:

$$\text{Med}=(3200+3400)\div2=3300$$

**د یواځې (منفردو) کتنو د میدیان سنجش**

په لومړي سر کې به ورکړل شوې کتنې یا اعداد ترتیب کړو. په یوه ګروپ کې د اعدادو شمېر د (۱) له عدد سره جمع او د هغوی حاصل جمع په (۲) وېشل کیږي د شمېرې خارج قسمت ښیي چې، په هغه پورې اړوند ارزښت د میدیان له ارزښت څخه عبارت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثلاً که د یوې کتنې (مشاهدې) د اعدادو شمېر 15 وي د (1) عدد له 15 عدد سره جمع کیږي او پر 2 وېشل کیږي او خارج قسمت یعنې 8 شمېرې ښیي چې، د هغه اړوند ارزښت له میدیان څخه عبارت دی.

د لوی ګروپ د ګروپونو د سنجش لپاره له همدغه روش څخه ګټه اخیستل کیږي. په یوه ګروپ کې چې، د 2099 کتنو یا مشاهدو لرونکی وي د هغه میدیان به د 1050 اړوندې کتنې یا مشاهدې له ارزښت څخه عبارت وي 1050=2÷(1+2099)، چې د هغه فورمول په لاندې ډول دی.

$$Med\,\frac{N+1}{2}\Rightarrow\frac{2099+1}{2}=\frac{2101}{2}=1050$$

**بېلګه:** که چېرې د 7 تنو کارګرانو معاش په ورځ کې 100 افغانۍ، 150 افغانۍ، 80 افغانۍ، 160 افغانۍ، 90 افغانۍ، 200 افغانۍ او 104 افغانۍ وي، د هغوی د میدیان معاش سنجش کړئ.

حل:

N=7

| | X |
|---|---|
| 1- | 80 |
| 2- | 90 |
| 3- | 100 |
| 4- | 104 |
| 5- | 150 |
| 6- | 160 |
| 7- | 200 |

$$\frac{N+1}{2}\Rightarrow\frac{7+1}{2}=\frac{8}{2}=4$$

**4 د میدیان شمېره ده.**

د 2 میدیان شمېره او د دې لړۍ میدیان چې، په څلورمې شمېرې پورې اړوندیږي له 104 عدد څخه عبارت دی یعنې د اوو تنو د معاش میدیان له 104 افغانیو سره برابر دی.

بېلګه: د لاندې اعدادو په لړۍ کې د هغه میدیان پیدا کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

N=10

$$\frac{N+1}{2} \Rightarrow \frac{10+1}{2} = \frac{11}{2} = 5.5$$

X

1- 381

2- 391

3- 407

4- 522

5- 591

6- 672

7- 753

8- 777

9- 1490

10- 2488

11-

څرنګه چې ليدل کيږي 5.5 شمېره يعني د 5 او 6 کتنو (مشاهدو) ترمنځ موقعيت دی. نو د ميديان ارزښت د 5 او 6 شمېرو د وسطي ارزښتونو له ارزښت سره برابر دی او کولای شو هغه په لاندې بڼه په لاس راوړو.

$$\frac{591+672}{2} \Rightarrow 631.5$$

څرګنديږي چې 50% ياده شوې لړۍ مساوي يا له 631.5 څخه لږ ارزښت لري او پاتې 50 مساوي يا له 631.5 څخه زيات ارزښت لري.

**د لنډې (غير متمادي) لړۍ د ميديان سنجش:** د لنډې (غيرمتمادي) لړۍ د سنجش لپاره لاندې ټکي په پام کې نيول کيږي.

۱- لومړی دې د لړۍ اعداد ترتيب شي.

۲- بايد متزايده متراکمه فريکونسي پيدا کړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- د $\frac{\sum F+1}{2}$ ارزښت دې پیدا شي.

۴- د متراکمې فریکونسي په خانه (ستون) کې هغه مجموعه چې له $\frac{\sum F+1}{2}$ سره مساوي یا هغه رانغاړي پیدا او د هغه اړوند متحول ارزښت دې وټاکل شي، دغه ارزښت د میدیان قیمت ښیي.

**بېلګه:** لاندې معلومات په لاس کې شته د هغه میدیان پیدا کړئ.

| متزایده متراکمه فریکونسي | د وګړو تعداد | ورځنی عاید |
|---|---|---|
| X | F | CF |
| 80 | 16 | 16 |
| 100 | 24 | 40 |
| 150 | 26 | 66 |
| 180 | 30 | 96 |
| 200 | 20 | 116 |
| 250 | 6 | 122 |
| | $\sum f=122$ | |

$$\frac{\sum f+1}{2} \Rightarrow \frac{122+1}{2}=61.5$$

نو لیدل کیږي چې د هغې متزایدې فریکونسي 66 عدد چې مجموع $\frac{\sum f+1}{2}$ یعنې 61.5 رانغاړي او 66 متحول ارزښت له 150سره برابر دی چې همدغه 150 د 122 تنو د ورځني عاید میدیان دی.

**C- د اوږدې (متمادي) لړۍ د میدیان سنجش:** د اوږدې لړۍ د میدیان سنجش لپاره له لاندې فورمول څخه ګټه اخلو.

$$\text{Med}= L+\frac{\frac{\sum f}{2}-CF}{Fmed}.I$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې فورمول کې L د ټولګي ښکتنی حد دی چې، میدیان په کې واقع شوی. CF د متزایدې متراکمو فریکونسي ګانو مجموع مخکې د ساده فریکونسۍ میدیان له ټولګي څخه، د میدیان ټولګی او I د میدیان د ټولګي ګډ (مشترک) واټن ښيي که چېرې ټولګی ګډ واټن لرونکی نه وي د میدیان د ټولګي پراخ والی(وسعت) په کار اچول کیږي.

**بېلګه:** د 281 تنو میاشتنی عاید په لاندې ډول ورکړل شوی دی، میدیان یې سنجش کړئ.

د میدیان د ارزښت د پیدا کولو لپاره باید لاندې عملیې په ترتیب سره ترسره کړو.

۱- متزایده متراکمه فریکونسي ترتیبوو.

۲- د فریکونسي ګانو نیمه مجموعه یا $\frac{\sum f}{2}$ په لاس راوړو.

۳- د متزایدو متراکمو فریکونسي ګانو خانې (ستون) ته مراجعه کوو او له پورته څخه مخ ښکته متزایده متراکمه کوچنۍ فریکونسي چې د $\frac{\sum f}{2}$ مجموع چاپېروي او یا له هغه سره مساوي ده، ټاکو. دا فریکونسي زموږ د مطالعې په اړونده بېلګه کې 174 ده.

۴- د متزایدې متراکمې فریکونسۍ له ټاکلوڅخه وروسته چې، $\frac{\sum f}{2}$ رانغاړي د هغه اړوند ټولګی یعنې د میدیان ټولګی تثبیتوو زموږ د پام وړ په بېلګه کې دا ټولګی ۱۳۰۰-1100 او ټیټنی حد یې یعنې L=1100 دی.

۵- له میدیان څخه د مخکې ټولګي متزایدې متراکمې فریکونسي مجموع مشخصوو او زموږ د پام وړ په بېلګه کې CF=114 دی.

۶- د میدیان د ټولګي ساده فریکونسي ټاکو چې، زموږ په بېلګه کې د 60 عدد دی.

۷- د ټولګیو ګډ واټن سنجش کوو چې، زموږ په بېلګه کې د ټولګیو ګډ واټن له 200 سره مساوي دی.

۸- پورتني په لاس راغلي معلومات په اړوند فورمول کې وضع کوو او د میدیان ارزښت پیدا کوو.

| عاید | F | CF | |
|---|---|---|---|
| | | | L=1100 |
| 300-500 | 1 | 1 | I=200 |
| 500-700 | 16 | 17 | CF=114 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

Famed=60

| | | |
|---|---|---|
| 700-900 | 39 | 56 |
| 700-1100 | 58 | 114 |
| 1100-1300 | 60 | 174 |
| 1300-1500 | 46 | 220 |
| 1500-1700 | 22 | 242 |
| 1700-1900 | 15 | 257 |
| 1900-2100 | 15 | 272 |
| 2100-2300 | 9 | 281 |
| | 281 | |

د میدیان ټولګي ساده فریکونسي

$$Med=L+\frac{\frac{\sum f}{2}-CF}{Famed}.I$$

$$Med=1100+\frac{\frac{281}{2}-114}{60}200$$

$$Med=1100+\frac{26.5}{60}.200$$

Med=1100+0.44.200

Med=1100+88

Med=1188.3

یعنې %50 کارمندان مساوي یا له 1188څخه لږ او %50 نور کارمندان مساوي او له 1188 څخه زیات اخلي.

**مود (د فریکونسۍ زیاتوالی):** مود د اعدادو په یوه لړۍ کې له هغه عدد یا ارزښت څخه عبارت دی چې، له بل هر عدد یا ارزښت څخه زیات څرګندیږي. په بل عبارت مود له هغه ارزښت څخه عبارت دی چې زیاتره معمول وي. په ځینو لړیو کې امکان لري یو یا څو موده شتون ولري یا حتی پرته له مود څخه وي. لکه د

7، 6، 5، 4، 3، 2 او1

په لړۍ کې مود د (4) عدد دی ځکه چې له نورو اعدادو څخه زیات څرګند شوی دی په دې ځای کې یو مود شتون لري، ځکه چې د اعدادو په لړۍ کې:

18، 11، 11، 10، 9، 9، 7، 5، 4، 3 او2

په پورته لړۍ کې دوه موده شتون لري چې له 9 او 11 څخه عبارت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لاندې لړۍ کې:

21، 17، 12، 10، 8، 5 او3

په پورته لړۍ کې مود شتون نه لري ځکه چې هر عدد يواځې يوځل ځرګند شوی دی.

مود په تجارتي مسايلو او اقتصادي مسايلو کې د کتنې وړ رول لري، د بېلګې په ډول د بوټ جوړونې په سرچينو يا شرکتونو کې، د ګنډلو د قالبونو په طرح او ډيزاين کې اړين دي چې د پښو د تلې د سور (عرض)، د کورۍ جګوالی په متناسب ډول او د دوی په ډول نور مناسب شاخصونه په پام کې ونيول شي. له دې نه پرته نوموړی شرکت يا فابريکه د پښو د نمرو او نورو مشخصاتو ته د نه پام له امله له نقص او تاوان سره مخامخ کيږي. له لاندې فورمول څخه په استفادې کولای شو مود د دفعاتو په يوه وېشنه کې محاسبه کړو.

$$Mode = L + \frac{Fm - F_1}{(Fm - f_1) + (fm - f_{2)}}.i$$

**په دې ځای کې:**

L : له پوړ (طبقې) څخه ښکتنی واقعي حد چې، په هغه کې مود ځای لري.

Fm: هغه فريکونسي چې مود په هغه کې ځای لري.

$F_1$ : د ښکته پوړ فريکونسي، هماغه پوړ چې په هغه کې مود ځای لري.

$F_2$ : د پورتني پوړ فريکونسي، هماغه پوړ چې په هغه کې مود ځای لري.

i : د ټولګي توپير دی.

د مود له دې فورمول څخه په استفادې د لاندې دفعاتو وېشنه پيدا کوو.

| | | |
|---|---|---|
| 90-99 | 20 | L=59.5 |
| 80-89 | 25 | Fm=304 |
| 70-79 | 211 | $F_1=190$ |
| 60-69 | 304 | $F_2=211$ |
| 50-59 | 190 | i=10 |
| 40-49 | 87 | $\text{Mode}=L+\frac{fm-f_1}{(fm-f_1)+(fm-f_2)}$ |
| 30-39 | 8 | $\text{Mode}=59.5+\frac{304-190}{(304-190)+(304-211)}$ |

$$59.5+\frac{1140}{207} \Rightarrow 59.5+5.5=65$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

او يا د تصنيف شوو اعدادو مود د لاندې فورمول په مرسته لاسته راتلای شي.

$$\text{Mode}=L_1+\left(\frac{\Delta 1}{\Delta 1+\Delta 2}\right).c$$

په دې ځای کې نومورې نښې يا علايم عبارت دي له:

$L_1$ : د مود د ټولګي ښکتنی سرحد

$\Delta_1$: دمود ټولګي د فريکونسي توپير د هغه د مخکني ټولګي له فريکونسي سره

$\Delta_1$: د مود د فريکونسي توپير د هغه د وروستني ټولګي له فريکونسي سره (پرته له اشارې څخه).

C: د مود د ټولګي د واټن کچه

دغه فورمول د 142 کورنيو د کلني عايد د وېشنې د فريکونسي په جدول کې تطبيق کوو.

لومړی بايد د مود ټولګی په اړونده وېشنه کې وټاکو، د مود ټولګی په يوه وېشنه کې له هغه يوه څخه عبارت دی چې، د ډېرې زياتې فريکونسي لرونکې وي.

دا څرګنده ده چې زموږ په بېلګه کې څلورم ټولګی دی چې، د لوېې فريکونسي يعنې د 40 کورنيوار لرونکی دی.

| کورنيو ار تعدادF | کلنی وسطي عايد (زر افغانۍ) |
|---|---|
| 11 | 66.00-66.49 |
| 15 | 66.50-66.99 |
| 24 | 67.00-67.49 |
| 40 | 67.50-67.99 |
| 20 | 68.00-68.49 |
| 14 | 68.50-68.99 |
| 11 | 69.00-69.49 |
| 7 | 69.50-69.99 |
| 142 | |

د جدول د مطالعې له مخې د مود په ټولګي کې يعنې 40 د هغه ښکتنی سرحد 67.495 زره افغانۍ دي. د مود د ټولګي د فريکونسۍ توپير له متجانس ټولګي سره 16 کورنيواره دی، 16=(40-24) همدارنګه د مود د ټولګي د فريکونسي توپير د هغه له وروستني ټولګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره 20 دی. د مود د ټولګي واټن کچه 0.50 زره افغانۍ ده د دې ارزښتونو تطبيق په فورمول کې په لاندې توګه څرګندېږي.

$L_1=67.495$

$\Delta_1=40-24=16$

$\Delta_2=40-20=20$

$C=0.50$

$$\text{Mod} = L_1+\left(\frac{\Delta_1}{\Delta_1+\Delta 2}\right).c$$

$$\text{Mod}=67.495+\left(\frac{16}{16+20}\right)0.50 = 67.72$$

د مود ارزښت دا رسوي چې په هماغه کال کې هره کورنۍ زياته اندازه د 67.72 زره افغانۍ کلنې عايد لرونکې ده..

**د کارتيلونو، د سيلونو او پرسانتيلونو سنجش**

د ميديان تر څنګه نور مقياسونه هم شتون لري چې، يوه لړۍ په مساوي برخو وېشي چې، له هغوی څخه يې ډېر مهم کارتيلونه، دسيلونه او پرسانتيلونه دي.

**کارتيلونه(Q):** له هغه متحول ارزښت څخه عبارت دي چې مجموعي فريکونسي په څلورو برخو ويشي.

**دسيلونه(D):** له هغه متحول ارزښت څخه عبارت دي چې مجموعي فريکونسي په لسو برخو ويشي.

**پرسانتيلونه(P):** له هغه متحول ارزښت څخه عبارت دي چې مجموعي فريکونسي په 100 برخو ويشي.

په هماغه ډول چې د يوې لړۍ يو ټکی په دوو برخو ويشي، د هغې درې ټکي په څلور برخو ويشي. 9 ټکي يې په 10 برخو ويشي او د هغه 99 ټکي په 100 برخو ويشي او په پايله کې يوه لړۍ 3 کارتيله، 9 دسيله او 99 پرسانتيله لري. د1، 2، 3 او ... ارقام چې د هغوی تر څنګ ليکل کيږي هغه مشخص ارزښت چې، سنجش په هغه پورې اړونديږي ښيي يعنې $Q_1$ لومړی کارتيل $D_7$ اووم دسيل $P_{80}$ اتيايم پرسانتيل ښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کارتیلونو، دسیلونو او پرسانتیلونو د سنجش لاره د میدیان د سنجش په شان ده چې، په لنډه توګه توضیح کیږي.

د دسیلونو د سنجش لاره د کارتیلونو په څېر د میدیان له برخې سره ورته والی لري یوازې هغه توپیر چې شتون لري دا دی چې، په هغه کې لړۍ په 10 مساوي برخو وېشل کیږي. که د هغوی $\frac{1}{10}$ مطالعه شي د لومړي دسیل په نوم یادیږي، که د هغوی $\frac{2}{10}$ مطالعه شي د دویم دسیل په نوم یادیږي.

**د کارتیلونو سنجش:** څرنګه چې میدیان یوه لړۍ په دوو مساوي برخو ویشي. کارتیل یوه برخه په څلورو مساوي برخو ویشي او له هرې برخې څخه یې موږ ته معلومات راکوي. که چېرې یوه مستقیمه کرښه د خپلو معلوماتو په توګه په پام کې ولرو. کارتیلونه هغه د درې ټکو په مرسته په څلورو مساوي برخو ویشي، څرنګه چې لومړی کارتیل 25% څرګندوي او د Q په توري ښودل کیږي او K د کارتیل شمېره ښيي.

دویم کارتیل 50% معلومات څرګندوي.

دریم کارتیل 75% معلومات څرګندوي.

کارتیلونه د Q په توري ښودل شوي او هغه شمېره چې د هغه په وړاندې لیکل کیږي د کارتیل شمېره ښيي. لکه $Q_1$ لومړی کارتیل او $Q_3$ دریم کارتیل ښيي.

د فورمول په اساس د هغه د وېشلو طریقه کټ مټ لکه د میدیان سنجش دی.

$$Q=L+\frac{K\frac{(\sum f)}{4}-cf}{FQK}.I$$

K په دې مساوي کې 1 او 2 تر 3 دي K=1, 2, 3


L د ټولګي ښکتنی حد چې کارتیل په هغه کې واقع شوی.

$C_F$ د کارتیل له ټولګي څخه د مخه د متزایدې متراکمې فریکونسي مجموعه.

FQ د کارتیل د ټولګي فریکونسي

I د کارتیل د ټولګي ګډ واتن

(c) ketabton.com: The Digital Library




**بېلګه:** د درېيم کارتيل لاندې ورکړل شوي معلومات پيدا کړئ.

| X | فريکونسي f | CF |
|---|---|---|
| 10-20 | 10 | 10 |
| 20-30 | 12 | 22 |
| 30-40 | 13 | 35 |
| 40-50 | 7 | 42 |
| 50-60 | 18 | 60 |
| 60-70 | 20 | 80 |
| 70-80 | 2 | 82 |
| | $\sum f=82$ | |

K=1,2,3

L=60

Cf=60

$FQ_3=20$

I=10

$$Q=L+\frac{3\left(\frac{\sum f}{4}\right)-cf}{FQ_3}$$

$$Q=\frac{3(82)}{4}-61.5$$

$$Q_3=60+\frac{3\left(\frac{82}{4}\right)-60}{20}.10$$

$$Q_3=60+\frac{61.5-60}{20}.10$$

$$Q_3=60+\frac{1.5}{20}.10=60.75$$

$$Q_3=60.75$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بېلګه:** د پورته معلوماتو په پام کې نيولو سره لومړی کارتيل سنجش کړئ.

$$Q_1 = L + \frac{(\sum \frac{f}{4}) - cf}{FQ_1}.I$$

$$Q = \frac{\sum f}{4} \Rightarrow \frac{82}{4} = 20.5$$

L=20

$FQ_1$=12

I=10

$$Q_1 = 20 + \frac{20.5 - 10}{12}.10 = 27.5 \Rightarrow 20 + \frac{10.5}{12}.10 \Rightarrow 20 + 0.875.10 \Rightarrow 20 + 8.75 = 28.75$$

$Q_1$=28.75

**د ديسيل سنجش:** دسيلونه داسې مرکزي ارزښت دی چې يوه لړۍ په 10 مساوي برخو ويشي او له هرې برخې څخه يې د معلوماتو لپاره څرګندونې کوي. فورمول يې په لاندې ډول دی. د D توری د ديسيل په مفهوم دی او K د ديسيل شمېره ښيي.


$$D_K = L + \frac{K(\frac{\sum f}{10}) - cf}{FD_k}.I$$

D د ديسيلونو سنجش

K د ديسيلونو شمېرې زموږ لپاره څرګندوي

FDK د ټولګي ساده فريکونسي ده

د ديسيلونو په برخه کې، $D_1$ لومړی دسيل %10 معلومات، $D_2$ دويم دسيل %20 معلومات او $D_3$ دريم دسيل %30 معلومات په همدې توګه $D_9$ نهم دسيل %90 معلومات څرګندوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**بېلګه:** لاندې معلومات په پام کې ولرئ د هغه اووم ډیسیل سنجش کړئ.

K=7

| X | F | CF |
|---|---|---|
| 35-45 | 10 | 10 |
| 45-55 | 15 | 25 |
| 55-65 | 12 | 37 |
| 65-75 | 17 | 54 |
| 75-85 | 12 | 66 |
| 85-95 | 5 | 71 |
| 95-105 | 10 | 81 |
| | $\sum f=81$ | |

$$D_7=L+\frac{7\left(\frac{\sum f}{10}\right)-cf}{FD_7}.I$$

$$L=7\left(\frac{81}{10}\right)=56.7$$

$$D_7=75+\frac{56.7-54}{12}.10$$

L=75

$$D_7=75+\frac{2.7}{12}.100$$

Cf=54

$$D_7=77.25$$

$FD_7=12$

I=10

**بېلګه:** پورتني معلومات په پام کې ونيسئ. 40% معلومات څو بيه لري.

K=4

| X | F | CF |
|---|---|---|
| 35-45 | 10 | 10 |
| 45-55 | 15 | 25 |
| 55-65 | 12 | 37 |

$$D_4=L+\frac{4\left(\frac{\sum f}{10}\right)-cf}{FD_4}$$

D=55

$$D_4=4\left(\frac{81}{10}\right)=32.4$$

L=55

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| 65-75 | 17 | 54 | CF=25 |
| 75-85 | 12 | 66 | $FD_4=12$ |
| 85-95 | 5 | 71 | |
| 95-105 | 10 | 81 | $D_4=55+\frac{32.4-25}{12}.10$ |
| | $\Sigma f=81$ | | $D_4=55+6.16=61.16$ |

**د پرسانتیلونو سنجش:** یوه لړۍ په 100 مساوي برخو ویشي او د لړۍ له هرې برخې څخه معلومات لاسته راځي د P توری د پرسانتیل په مفهوم دی او K د پرسانتیل شمېره ښیي.
د هغه فورمول عبارت دی له:

$$P_k=L+\frac{k(\frac{\sum f}{100})-CF}{FP_k}$$

**بېلګه:** لاندې معلومات په نظرکې ولرئ د هغه 85 پرسانتیل پیدا کړئ.

K=85

| X | F | CF |
|---|---|---|
| 35-45 | 10 | 10 |
| 45-55 | 15 | 25 |
| 55-65 | 12 | 37 |
| 65-75 | 17 | 54 |
| 75-85 | 12 | 66 |
| 85-95 | 5 | 71 |
| 95-105 | 10 | 81 |
| | $\sum f=81$ | |

$$P_{85}=L+\frac{85(\frac{\sum f}{100})-CF}{FP_{85}}.I$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$P=85\left(\frac{81}{100}\right)=68.85$$

L=85

I=10

$FP_{85}=5$

$$P_{85}=85+\frac{68.85-66}{5}.10$$

$P_{85}=90.7$

**د څلورم څپرکي لنډيز:**

**د مرکزي ميلان مقياسونه:** د يوې لړۍ اوسط له يوه ارزښت يا يوه عدد څخه عبارت دی چې له ټولو اعدادو څخه استازيتوب کوي او څرنګه چې دا عدد د کميت له نظره د اړوندو اعدادو د لړۍ په مرکز يا وسط کې ځای په ځای کيږي ځينې وخت د مرکزي ميلان د مقياسونو په نوم يادېږي.

**1- حسابي اوسط:** د ټولو ورکړل شويو اعدادو يا ارقامو حاصل جمع تقسيم د هغوی پر تعداد باندې له حسابي اوسط څخه عبارت دی.

$$\bar{X}=\frac{\sum X}{N}$$

د اوږدې (متمادي) لړۍ حسابي اوسط د موندلو طريقه دوې لارې لري.

**a- مستقيم ميتود:** د هغه فورمول په دې ډول دی. $X=\frac{\sum fm}{\sum m}$

**b- فرضي اوسط ميتود:** د هغه فورمول په دې ډول دی. $X=A+\frac{\sum fd}{\sum f}$

**c- دمرحله يي انحراف ميتود:** د هغه فورمول په دې ډول دی. $X=A+\frac{\sum fd}{\sum f}$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**2- هندسي اوسط:** هندسي اوسط د n ام له جذر د n له حاصل ضرب، له کتنې او يا ارزښتونو څخه عبارت دي.

$$GM=\sqrt[n]{X_1.X_2.X_3...X_n}$$

**a- د يواځې (منفردو) کتنو د هندسي اوسط سنجش:** د هغه فورمول په دې ډول دی.

$$GM=\frac{\sum \log X}{N}$$

**b- د لنډې (غيرمتمادي) لړۍ دهندسي اوسط سنجش:** د هغه فورمول په دې ډول دی.

$$GM=\frac{\sum f \log X}{\sum f}$$

**c- د اوږد (متمادي) هندسي اوسط سنجش:** د هغه فورمول په دې ډول دی.

$$GM=\frac{\sum f \log X}{\sum f}$$

**3- هارمونيکي اوسط:** هارمونيکي اوسط يو ډول اوسط دی چې د استعمال محدود موارد لري او د منفردو کتنو د حسابي اوسط معکوس په توگه معکوس شوې محاسبه کيږي او فورمول يې:

$$HM=\frac{1}{\frac{\frac{1}{X_1}+\frac{1}{X_2}...\frac{1}{X_n}}{N}} \text{ و يا } HM=\frac{N}{\sum \frac{1}{xn}}$$

**a- د يواځې (منفردو) کتنو د هارمونيک اوسط سنجش:** د هغه فورمول په دې ډول دی.

$$HM=\frac{\frac{N}{1}}{\sum Xn}$$

**b- د لنډې (غيرمتمادي) لړۍ دهارمونيک اوسط سنجش:** فورمول يې په دې ډول دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$HM=\frac{\sum f}{\sum \frac{f}{x}}$$

**c- د اوږدې (متمادي) لړۍ د هارمونيک اوسط سنجش:**

$$HM=\frac{\sum f}{\sum \frac{f}{m}}$$

**مربعي اوسط:** د مربعاتو د حسابي اوسط مربع جذر ته د هغو د څو عددو مربعي اوسط ویل کیږي او یا د $X_1,X_2,...X_n$ اعدادو مربعي اوسط عبارت دی له:

$$QM=\overline{X}^2=\sqrt{\frac{X_1^2+X_2^2+...X_n^2}{n}}\Rightarrow\sqrt{\frac{\sum X^2}{n}}$$

**a- د يواځې (منفردې) لړۍ د مربعي اوسط سنجش:** فورمول يې په دې ډول دی.

$$\overline{X}^2=\sqrt{\frac{\sum X^2}{n}}$$

**b- د لنډې (غير متمادي) لړۍ مربعي اوسط:** فورمول يې په دې ډول دی.

$$\overline{X}^2=\sqrt{\frac{\sum fX^2}{\sum f}}$$

**c- په يوې اوږدې (متمادي) لړۍ کې مربعي اوسط:** فورمول يې په دې ډول دی.

$$\overline{X}^2=\sqrt{\frac{\sum fm^2}{\sum f}}$$

**ميديان (د فريکونسۍ وسط):** ميديان د هغه عدد له ارزښت څخه عبارت دی چې اړونده لړۍ په داسې ډول په دوو برخو وويشي چې، لږ ترلږه د لړۍ اجزاء پنځوس فيصده لږ يا له هغه سره مساوي، لږ تر لږه د دريو اجزاء پنځوس فيصده مساوي او يا له هغه څخه لوړ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**a- د يواځې (منفردو) کتنو د ميديان سنجش:** فورمول يې په دې ډول دی: $\frac{N+1}{2}$

**b- د لنډې (غيرمتمادي) لړۍ د ميديان سنجش:** فورمول يې په دې ډول دی: $\frac{\sum f+1}{2}$

**c- د اوږدې (متمادي) لړۍ د ميديان سنجش:** فورمول يې په دې ډول دی:

$$med = L + \frac{\frac{\sum f}{2} - cf}{fmed}$$

**مود (دفريکونسي زياتوالی):** مود په يوه لړۍ اعدادو کې له هغه عدد يا ارزښت څخه عبارت دی چې له بل هر عدد يا ارزښت څخه زيات څرګنديږي او يا مود له هغه ارزښت څخه عبارت دی چې زيات معمول وي. مود د دفعاتو په يوه وېشنه کې داسې محاسبه کيږي.

$$\text{Mod} = \text{L} + \frac{Fm - f_1}{(fm - f_1) + (fm - f_2)}$$

$$\text{Mod} = \text{L} + \left(\frac{\Delta_1}{\Delta_1 + \Delta_2}\right)C$$

**د کارتيلونو سنجش:** له هغه متحول ارزښت څخه عبارت دی چې مجموعي فريکونسي په څلورو (4) برخو ويشي.

**د ديسيلونو سنجش:** له هغه متحول ارزښت څخه عبارت دی چې مجموعي فريکونسي په لسو (10) برخو ويشي.

**د پرسانتيلونو سنجش:** د هغه متحول له ارزښت څخه عبارت دی چې مجموعي فريکونسي په سلو (100) برخو مساوي تقسيم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځلورم څپرکي پوښتنې

۱- دوه تنو زده کوونکو په ورځنۍ آزموینه کې 3، 4، 5، 5، 5، 6، 7، 8، 8 او 9 نمرې ترلاسه کړي دي.

a. د پورتنیو نمرو حسابي اوسط پیدا کړئ؟

b. د هغه میدیان او مود پیدا کړئ ؟

که پورتنۍ هره نمره د 5 له عدد سره ضرب شي د نوو (جدیدو) نمرو حسابي اوسط معلوم کړئ؟

۲- د حسابي اوسط ورکړل شوي لاندې معلومات، د مستقیمو طریقو او فرضي اوسط په مرسته تقسیم کړئ که چېرې A=70 فرض شي؟

| X | F |
|---|---|
| 50 | 15 |
| 70 | 5 |
| 80 | 10 |
| 100 | 18 |
| 110 | 6 |
| 150 | 5 |

۳- د لاندې کتنو هندسي اوسط پیدا کړئ؟

| X | F |
|---|---|
| 20000 | 15 |
| 15000 | 18 |
| 10000 | 2 |
| 25000 | 12 |
| 18000 | 17 |
| 12000 | 13 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- د لاندې لړۍ هارمونیک اوسط پیدا کړئ؟

| X | F |
|---|---|
| 25-35 | 10 |
| 35-45 | 5 |
| 45-855 | 15 |
| 55-65 | 20 |
| 65-75 | 25 |

۵- لاندې ورکړل شوي معلومات په 32 پرسانتیل، اووم دیسیل، 2 کارتیل پیدا کړئ؟

| X | F |
|---|---|
| 10-20 | 10 |
| 20-30 | 12 |
| 30-40 | 13 |
| 40-50 | 7 |
| 50-60 | 18 |
| 60-70 | 20 |
| 70-80 | 2 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

## د انحراف یا خوربدو (پراګندګۍ) مقیاسونه

**ټولیزه موخه:**

د انحراف یا خوربدو(پراګندګۍ) په مفاهیمو پوهېدل

**د زده کړې موخې:** په دې څپرکي کې به زده کوونکي له لاندې موضوعاتو سره آشنایي پیدا کړي.

۱- انحراف یا خوربدل(پراګندګي) او د هغه په مفهوم پوهېدل.

۲- د پراختیا (وسعت) په مفهوم پوهېدل.

۳- د کارتیلونو (مربعي انحراف) په نظر د انحراف په مفهوم پوهېدل.

۴- د وسطي انحراف په مفهوم پوهېدل.

۵- د انحراف په سر ضریب کې شامل د نسبي انحراف په مفهوم پوهېدل.

**انحراف یا خوربدل (پراګندګي):**

په تېر څپرکي کې د اوسطونو په اړه اوږد بحث ترسره شو، په هغه ځای کې څرګنده شوه چې اوسطونه په یواځیتوب سره نه شي کولای په مناسبه توګه د دفعاتو یوه وېشنه (فریکونسي) تعبیر او هغې ته بدلون ورکړي ځکه چې اوسطونه د دفعاتو په مرکزي برخه کې واقع شوي وي او نه شي کولای ووایي چې ټمرې نظر اوسطونو ته په خپل منځ کې په کوم ترتیب سره واقع شوي دي، د څو ډولونو اوسطونو د سنجش سربېره نه شي کولای پرته له زیاتو معلوماتو د خوربدو (پراګندګۍ) د څرنګوالي په اړه قضاوت وکړي. د بېلګې په ډول د ښوونځي دوه ډلو زده کوونکو خپلې آزموینې تېرې کړي چې له زده کوونکو څخه د هرې ډلې د دفعاتو وېشنه په جداګانه توګه ترتیب شوي دي، څرنګه چې د دواړو ډلو زده کوونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نمرو حسابي اوسط 67 دی. د لومړي دفعاتو د وېشنې لوړه نمره 72 او ټیټه نمره یې 62 ده د دویمو دفعاتو د وېشنې لوړه نمره 107 او ټیټه نمره یې 25 ده. د لومړۍ وېشنې د نمرو پراختیا (وسعت) 11 او د دویمې وېشنې د نمرو پراختیا (وسعت) 83 دی. د دې لپاره چې د دفعاتو د وېشنې یو بشپړ انځور مو څرګند کړی وي د مرکزي موقعیت کچې او د نمرو یوې خورېدو ته اړتیا لرو.

د وسطي ارزښت موندل د اعدادو د خورېدو یا اندازې له پوهېدو پرته نظر هغه ته د لږ علمي مفهوم لرونکي دي. سربېره په اوسطونو ښه ده د تحول او خورېدو درجه او کچه نظر هغوی ته مطالعه شي.

البته د اعدادو د تحول او خورېدو (پراګندګۍ) د سنجش ډېرې زیاتې لارې شتون لري په عمومي توګه اړوند مقیاسونه په دوه ګروپونو وېشل کیږي.

- مطلقه انحراف یا خورېدل(پراګندګي)
- نسبي انحرافونه یا خورېدل (پراګندګي)

خورېدل یا مطلقه انحراف د لومړني مقیاس په واحد چې په وېشنه کې په کار اچول شوې افاده کیږي، څرنګه چې نسبي انحراف یا خورېدل معمولاً د نسبتونو یا فیصدۍ په بڼه څرګندیږي.

په دې څپرکي کې څلور ډوله مطلقه انحراف یا خورېدل مقیاس معرفي کیږي، د انحراف پراختیا (وسعت) نظر کارتیلونو ته، وسطي انحراف او معیاري انحراف، وروسته درې ډوله مقیاسونه د انحراف ضریب یا نسبي خورېدو مطالعه کیږي. د انحراف ضریب، د معیاري انحراف ضریب او د انحراف ضریب نظر کارتیل ته.

**پراختیا:** د خورېدو (پراګندګۍ) ډېره ساده اندازه پراختیا (وسعت)ده، پراختیا د اعدادو په یوه لړۍ کې د لوړې نمرې او ټیټې نمرې ترمنځ له تفاضل یعنې ښه والي څخه عبارت دی، چې په سمبولیکه بڼه په دې ډول ښودل کیږي.

$R=X_h-X_L$

په دې رابطه کې R پراختیا (وسعت)، $X_N$ لوړه نمره او $X_L$ ټیټه نمره ښیي. که چېرې د یوې آزموینې نمرې د دفعاتو د وېشنې په بڼه راپور ورکړل شوی وي. په دې صورت کې د نمرو پراختیا (وسعت) د ټیټې او لوړې وېشنې تر منځ له ښه والي (تفاضل) څخه عبارت دی. پراختیا (وسعت) لکه نورې اندازې د واټن خورېدل ښیي مثلاً پراختیا (وسعت) د 2، 3، 5، 7، 11، 29 او 35 په اعدادو کې عبارت دي له 2-35=33 څخه. پراختیا (وسعت) په تصنیف

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوو اعدادو کې د کوچني ټولګي د ښکته حد او د لوړ ټولګي د پورتني حد ترمنځ توپير څخه عبارت دی. د بېلګې په ډول د 142 کورنيو د کلني عايد پراختيا په 1385 کال کې نظر جدول ته له 3.99=69.99-66.0 څخه عبارت دی يعنې3.99 افغانۍ دي.

پراختيا (وسعت) نظر لاندې څو دليلونو ته لږ د استعمال وړ دی.

۱- د پراختيا (وسعت) برخه يواځې په دوه اعظمي او اصغري ارزښت پورې اړونديږي، چې د اعدادو خورتيا په ښه توګه نه شي توضيح کولای.

۲- د پراختيا(وسعت) ارزښت په زياتره اعدادو يا په غير عادي ارزښتونو کې شديداً متأثره کيږي لکه په دوو لاندې لړيو کې:

3,5,6,7,10,12,15,18

3,8,8,8,99,9,18

د 3-18=15 پراختيا (وسعت) څرنګه چې لړۍ يې له ځانه لري د بېلابېلو خوربدلو لرونکې دي.

۱- د پراختيا (وسعت) ارزښت نظر د نمونې اندازې ته له حده وتلی (فاحش) بدلون پيدا کوي، په پورته يادو شوو دوو لړيو کې که چېرې دوه وروستي يا انتهايي عددونه حذف کړو پراختيا (وسعت) په لومړۍ لړۍ کې 5-15=10 او په دويمه لړۍ کې 8-9=1 دي.

د کارتيلونو په نظر انحراف (ربعي انحراف): د دريېمې ربعې د ټکو تر منځ نيمايي توپير (75%) او د لومړۍ ربعې تر منځ 25% ربعې انحراف دی، که چېرې دريېمه ربع په $Q_3$ وښيو بايد تعريف $Q=\frac{Q_3-Q_1}{2}$ داسې نه وي او يا دا چې په يوه توزيع يا وېشنه کې د کارتيلونو ترمنځ پراخوالی د دريم او د هغه د لومړي کارتيل ترمنځ له توپير څخه عبارت دی. د بېلګې په ډول د 142 کورنيو د کلني عايد په وېشنه کې لرو:

$Q_1$ (لومړی کارتيل) =67.20

$Q_3$ (دريېم کارتيل) = 68.41

او د کارتيلونو پراخوالی په دې حالت کې عبارت دی له:

$Q_3-Q_1=68.41-67.20=1.21$ زر افغانۍ

يعنې که د 50% ، 142 کورنيو ارو کلنی وسطي عايد چې د وېشنې په منځ (وسط) کې واقع شوي دي د 1.21 زرو افغانيو په اندازه تحول وکړي. (د 1.21 زره افغانيو په اندازه انحراف شتون لري).

(c) ketabton.com: The Digital Library

ربعي ټکي د نمرو په معيار باندې درې ټکي وي چې د نمرو وېشنه يا توزيع په څلورو مساوي برخو ويشي او هره برخه، د نمرو د مساوي تعداد لرونکي دي. ربعي ټکي د $Q_3$، $Q_2$ او $Q_1$ سمبولونو په مرسته ښودل کيږي چې د 75% ، 50% او 25% په ترتيب دي.

د Q د محاسبې لپاره لومړی بايد $Q_1$ او $Q_3$ محاسبه شي او بيا دې د $Q_2$ قيمت وټاکل شي. $Q_1$ او $Q_3$ کټ مټ لکه 50% او يا $Q_2$ محاسبه کېداى شي يواځې کوم توپير چې شتون لري هغه دا دی چې په منځنۍ يا ميانه محاسبه کې د $\frac{N}{2}$ پرځاى او $\frac{N}{4}$ د $Q_1$ د محاسبې لپاره او $\frac{3N}{4}$ د $Q_3$ د محاسبې لپاره په کار اچول کيږي يعنې:

$$Q_1=L+\frac{\frac{n}{4}-F}{f}.i$$

$$Q_3=L+\left(\frac{\frac{3n}{4}-F}{f}\right).i$$

په پورتني فورمول کې د هماغې طبقې تر ښکتني حده د دفعاتو وېشنه ده چې ربع د هغه په د ننه کې ځاى لري. I د طبقې د واټن اندازه ده. F د دفعاتو د جمع حاصل تر هغې طبقې پورې چې ربعې په هغې کې ځاى لري او f د طبقې اصلي دفعات دي چې ربعې په هغې کې شتون لري.

**وسطي انحراف:**

وسطي انحراف يا انحراف نظر اوسط ته څرنګه چې له نوم څخه يې ښکاري د يوې لړۍ د انحراف حسابي اوسط يا د اعدادو مطلقه توپير نظر يو وسطي ارزښت ته لکه له حسابي اوسط يا ميديان څخه عبارت دی. که څه هم په عمل کې حسابي اوسط زياتره د يو وسطي ارزښت په توګه په کار اچول کيږي خو د تيورۍ له پلوه د اعدادو د انحراف مجموع نظر ميديان ته لږه اندازه ده، (البته مطلقه توپير) ښه ده چې په سنجش کې انحراف استعمال شي. په هر حال هغه ډول اوسط چې د وسطي انحراف په سنجش کې په کار اچول کيږي بايد څرګند شي.

وسطي انحراف په تصنيف شوو اعدادو کې په هغه صورت کې چې $\overline{X}$ وسطي ارزښت وي د لانديني فورمول په مرسته وېشل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$MD=\frac{\sum\left|X-\overline{X}\right|}{n}=\frac{\sum\left|X\right|}{n}=\frac{\sum\left|d\right|}{n}$$

په دې ځای کې MD وسطي انحراف، x د يوې لړۍ يا سلسلې اعداد، $\overline{X}$ حسابي اوسط، n د اعدادو يا کتنو (مشاهداتو) اندازه او d يا $X=X_1-\overline{X}$
عمودي کرښې (خطوط) مطلقه ارزښت (پرته له اشارې څخه) افاده کوي.
بېلګه: د2,3,6,8,11 اعدادو وسطي انحراف پيدا کړئ.
لومړی : بايد د شمېرو حسابي اوسط سنجش شي:

$$\overline{X}=\frac{\sum X}{n}=\frac{2+3+6+8+11}{5}=\frac{30}{5}=6$$

وروسته د اعدادو مطلقه انحراف نظر اوسط ته محاسبه کوو.

$$MD=\frac{\left|2-6\right|+\left|3-6\right|+\left|6-6\right|+\left|11-6\right|+\left|8-6\right|}{5}$$

$$MD=\frac{14}{5}=2.8$$

يعنې ورکړل شوي اعداد د 2.8 په اندازه له حسابي اوسط څخه انحراف لري، وسطي انحراف کولای شو نظر ميديان ته هم سنجش کړو:

$$AD=\frac{\sum\left|X-Med\right|}{n}$$

**مثلاً:** په پورته اعدادو کې ميديان 6 دی څرنګه چې $\overline{X}=Med$ په دې مثال کې دواړه ډوله وسطي ارزښت مساوي دي.
همدارنګه وسطي انحراف په تصنيف شوو اعدادو کې کولای شو د لاندينيو فورمولونو له جملې څخه د يو فورمول په مرسته سنجش کړو.

$$MD=\frac{\sum f\left|X-\overline{X}\right|}{f}=\frac{\sum f\left|d\right|}{\sum f}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$MD=\frac{\sum f|X-med|}{\sum f}=\frac{\sum f|d|}{\sum f}$$

په دواړو پورتنيو فورمولونو کې f د ټولګيو فريکونسي، X د ټولګي وسط، $\overline{X}$ او med په ترتيب سره  حسابي اوسط او د اړوندې وېشنې ميديان دي.
د وسطي انحراف سنجش نسبتاً ساده او عام فهمه دی اما د استعمال موارد يې محدود دي. د وسطي انحراف استعمال د کوچنيو نمونو په اړه  په هغه صورت کې چې دقيق او جامع تحليلونو ته اړتيا نه وي ګټور دي په تصنيف شوو اعدادو او لويو نمونو کې په ندرت سره استعماليږي.

**معياري انحراف يا استندرد انحراف:**

معياري انحراف د نمرو د خورېدنې (پراګندګۍ) د درجې له ډېرو مهمو او استعمال شوو مشخص کوونکو څخه دی چې په خپلواکه توګه د ټولګي (جمعيت) خورېدنه (پراګندګۍ) د نمونې د خورېدنې له پوهې څخه دا چې له هغه څخه ټولګی (جمعيت) غوره کړل شوی دی را ايستلای شي.
معياري انحراف د بل مهم مقياس مربع جذر يعنې وريانس څخه عبارت دي او يا معياري انحراف د انحرافاتو مربع جذر دی.
معياري انحراف او وريانس په يو سلسله اعدادو کې د لاندې فورمولونو په مرسته سنجش کيږي.

$$G^2=\frac{\sum\left(X-\overline{X}\right)^2}{n}$$

$$G^2=\sqrt{\frac{\left(X-\overline{X}\right)^2}{n}}$$

په دې فورمول کې G (د يونان د ژبې کوچنی توری د سيګما په نوم) معياري انحراف او $G^2$ واريانس افاده کوي، د بېلګې په ډول د 2,3,6,8,11 اعدادو واريانس او معياري انحراف په لاندې ډول لاسته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\overline{X}=\frac{\sum X}{n}=\frac{30}{5}=6$$

$$G^2=\frac{(2-6)^2+(3-6)^2+(6-6)^2+(11-6)^2+(8-6)^2}{5}=\frac{54}{5}=10.8$$

$$G=\sqrt{G^2}=\sqrt{10.8}=3.29$$

**دویمه بېلګه:** په یوه صنفي آزموینه کې زده کوونکو لاندې نمرې لاسته راوړې دي.
4,6,8,10,12

د دغو نمرو د معیاري انحراف محاسبه څرګنده ده، د نومړو نمرو انحرافي محاسبه په لاندیني جدول کې ښودل شوې ده.

| X | X=X-X² | X² | |
|---|---|---|---|
| 12 | 12-8=4 | 16 | |
| 10 | 2 | 4 | |
| 8 | 0 | 0 | $\overline{X}=\frac{40}{5}=8$ |
| 6 | -2 | 4 | |
| 4 | -4 | 16 | |
| ΣX=40 | ΣX=0 | ΣX²=40 | |

که چېرې د $\Sigma X^2$ او N قیمتونه د معیاري انحراف په فورمول کې وضع کړو نو وبه لرو.

$$S=\sqrt{\frac{\sum X^2}{N}}$$

$$S=\sqrt{\frac{40}{5}}=\sqrt{8}=2.814$$

د تصنیف شوو اعدادو معیاري انحراف هم کولای شو په څو لارو سنجش کړو په هغه صورت کې چې د ټولګي وسط او اړوندې فریکونسي ګانې په کار واچوو، کولای شو له لاندیني فورمول څخه استفاده وکړو.

$$G=\sqrt{\frac{\sum f(X-\overline{X})}{\sum f}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ځای کې f فریکونسي، X د ټولګي وسط او $\overline{X}$ د اړوندې وېشنې حسابي اوسط دی، $d=X-\overline{X}$ وضع شوی دی.
که چېرې د اعدادو انحراف د A د یو فرضي اوسط په توګه وسنجول شي یعنې d=X-A وي نو و به لرو.
او که انحراف د ټولګیو د موقعیت په نظر یعنې د ټولګي د واټن په واحدونو څرګند کړو د ټولګیو د ګډ واټن په صورت کې لیکو چې:

$$G=\sqrt{\frac{\sum fd'^2}{\sum f}-\left(\frac{\sum fd'}{\sum f}\right)^2}$$

په دې ځای کې d د ټولګي د واحد واټن په نظر انحراف او C د ټولګیو ګډ واټن دی.
پورتنی فورمول د تصنیف شوو اعدادو د معیاري انحراف د موندلو لنډه او اغېزمنه لار ده. په لاندیني جدول کې د 142 کورنیو ارو د کلني عاید په وېشنه کې پورتنی فورمول د ټولګي د واټن په واحدونو په لنډه طریقه تطبیق کړو.

| کلنی وسطي عاید زر افغانۍ | فریکونسي f | d› | Fd› | Fd›$^2$ |
|---|---|---|---|---|
| 66.00-66.49 | 11 | 3 | 33 | 99 |
| 66.50-66.99 | 15 | 2 | 30 | 60 |
| 67.00-67.49 | 24 | 1 | 24 | 24 |
| 67.50-67.99 | 40 | 0 | 0 | 0 |
| 68.00-68.49 | 20 | 1 | 20 | 20 |
| 68.50-68.99 | 14 | 2 | 28 | 56 |
| 69.00-69-49 | 11 | 3 | 33 | 99 |
| 69.50-69.99 | 7 | 4 | 28 | 112 |
| مجموع | 142 | | 22 | 470 |

$$G=C.\sqrt{\frac{fd'2}{f}-\left(\frac{fd'}{f}\right)^2}$$

$$=0.5\sqrt{\frac{470}{142}-\left(\frac{22}{142}\right)^2}\Rightarrow 0.5(1.81)-0.15$$

(زر افغانۍ)=0.83

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نسبي انحراف:** کولای شو دوه یا زیاتې لړۍ (سلسلې) د اړوندو لړیو د اعدادو د خورېدنې (پراګندګۍ) د څرنګوالي د پوهېدو په غرض چې د پوره یا تقریباً ورته اوسطونو لرونکي وي پرتله (مقایسه)کړو، په ځینو حالاتو کې بېلا بېلې وېشنې بېل یا متفاوت اوسطونه لري او یا په بېلا بېلو واحدونو باندې څرګندیږي. په دې حالت کې د هغوی د معیاري انحراف پرتلنه نا ممکنه وي د بېلګې په ډول د طب د ډاکترانو د کلني عاید د وېشنې معیاري انحراف 1500 افغانۍ او د پوهنتون د استادانو 1000 افغانۍ وي په دې به دلالت ونه کړي چې انحراف د طب د ډاکترانو په عاید کې د 150 سلنې په اندازې، انحراف د پوهنتون د استادانو په کلني عاید کې وي یواځې په هغه حالت کې کولای شو تعبیرکړو چې په دواړو ګروپونو کې د کلني عاید اوسط مساوي وي. که د لومړني ګروپ د کلني عاید اوسط مثلاً 75000 او د دویمې 36000 وي د استادانو په عاید کې نسبي انحراف نظر د طب د ډاکترانو عاید ته زیات دی. په حقیقت کې د انحراف د دوو مطلقه ارزښتونو په منځ کې توپیر له متفاوته اوسطونو سره په یواځیتوب (تنهایي) سره د پرتلنې اساس نه شي کېدای. د مقیاسونو په دې حالت کې باید مطلقه انحراف په نسبي انحراف تبدیل شي، تر څو د اړوندو وېشنو د پرتلنې امکان میسر شي.

په دې ځای کې درې ډوله د نسبي انحراف مقیاس مطالعه کیږي.

دانحراف ضریب – د وسطي انحراف ضریب – د کارتیلونو د انحراف ضریب

د نسبي انحراف له مقیاسونو څخه یو مقیاس چې په عمل کې زیات په کار اچول کیږي د نسبي انحراف ضریب دی، دا ضریب معمولاً په V افاده کیږي او پر حسابي اوسط باندې د معیاري انحراف له نسبت څخه عبارت دی یعنې:

$$V = \frac{\text{معیاري انحراف}}{\text{حسابي اوسط}} = \frac{G}{X}$$

**بیلګه:** د طب د ډاکترانو او د پوهنتون د استادانو د کلني عاید په اړه د انحراف ضریبونه عبارت دي له:

$$V_1 = \frac{1500}{75000} = 0.02 \text{ یا } 2\%$$

$$V_2 = \frac{1000}{36000} = 0.028 \text{ یا } 2.8\%$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بلې خورېدنې نسبي مقیاس چې ډېر زیات معمول دی د وسطي انحراف د ضریب په نوم یادیږي چې لاندې په $V_a$ باندې اعاده شوی دی چې پر حسابي اوسط باندې له وسطي انحراف څخه عبارت دی.

$$V_a = \frac{\text{وسطي انحراف}}{\text{حسابي اوسط}} = \frac{MD}{\overline{X}}$$

په یوه وېشنه کې د $\overline{X}$ حسابي اوسط او د MD وسطي انحراف د هغو طریقو په اساس چې مخکې مطالعه شوي پیدا کړو. د ($V_a$) د وسطي انحراف ضریب هم په هغوی کې وېشو او په نسبت یا معمولاً په فیصدۍ یې څرګندوو د بېلګې په ډول په 11,8,6,3,2 پنځو عددونو کې څرنګه چې مو مخکې ولیدل.

$$\overline{X} = 6$$

MD=2.8

**د وسطي انحراف ضریب:** په دې اعدادو کې عبارت دي له:

$$V_a = \frac{MD}{\overline{X}} = \frac{2.8}{6} = 0.0466 \text{ یا } 46.6\%$$

دانحراف ضریب نظر کارتیلونو ته چې لاندې په $V_q$ باندې افاده شوی د هغوی په مجموعې باندې د دریم کارتیل او لومړي کارتیل د توپیر له نسبت څخه عبارت دی یعنې:

$$V_q = \frac{Q_3 - Q_1}{Q_3 + Q_1}$$

د بېلګې په ډول د 142 کورنیوارو وسطي کلني عاید په وېشنه کې.

$Q_3$=68.41

$Q_1$=67.21

$$V_q = \frac{68.41 - 67.21}{68.41 + 67.21} = \frac{1.20}{135.62} = 0.009 = 0.9\%$$

په لنډه توګه باید ووایو چې دوه یا زیاتې وېشنې د انحراف او خورېدنې له پلوه یواځې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وخت پرتله کولای شو چې د کتې متې اوسط یا تقریباً د کتې متې اوسط لرونکی وي او په ورته (مشابه) واحد باندې افاده شوی وي پرته له دې باید د نسبي انحراف مقیاسونه په کار واچول شي.

د وېشنو د پرتلنې (مقایسې) پر وخت باید خپله مقیاس په کار واچول شي او نشو کولای V یوه وېشنه یا $V_a$ او $V_q$ له بلې وېشنې سره پرتله کړو.

**د پنځم څپرکی دمطالبو لنډیز**

$$\frac{\sum\left|X-\overline{X}\right|}{n}=\frac{\sum\left|X\right|}{n}=\frac{\sum\left|d\right|}{n}$$

معیاري انحراف (ستندرد انحراف): معیاري انحراف د بل مهم مقیاس مربع جذر یعنې وریانس څخه عبارت دي او یا معیاري انحراف د انحرافاتو مربع جذر دی.

واریانس $G=\sqrt{\frac{(X-\overline{X})^2}{n}}$

$$G^2=\frac{\sum\left(X-\overline{X}\right)^2}{n}$$

**نسبي انحراف:** د نسبي انحراف ضریب درې ډوله مقیاسونه په لاندې ډول دي:

**۱- د نسبي انحراف ضریب:** پر حسابي اوسط باندې د نسبي انحراف له نسبت څخه عبارت دی.

$$V_q=\frac{\text{نسبي انحراف(معیاري)}}{\text{حسابي اوسط}}=\frac{G}{\overline{X}}$$

**۲- د وسطي انحرافي ضریب:** پرحسابي اوسط باندې له وسطي انحراف څخه عبارت دی.

$$V_{ش}=\frac{\text{وسطي انحراف}}{\text{حسابي اوسط}}=\frac{MD}{\overline{X}}$$

**۳- د انحراف ضریب نظر کارتیلونو ته:** د هغوی په مجموع باندې د دریم کارتیل او لومړي کارتیل د توپیر له نسبت څخه عبارت دی.

$$V_q=\frac{Q_3-Q_1}{Q_3+Q_1}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پنځم څپرکي پوښتنې

۱- نسبي مطلقه انحراف څه شی دی او په څو ډوله سنجش کیږي؟

۲- د نسبي انحراف ضریب په څو ډوله دی، هر یو یې له فورمول سره واضح کړئ ؟

۳- انحراف یا خوربدل په یو لړۍ (سلسله) اعدادو کې څه مفهوم لري واضح یې کړئ؟

۴- معیاري انحراف تعریف کړئ او په څو طریقو سنجش کیږي؟

۵- انحراف نظر کارتیلونو ته واضح کړئ ؟

۶- د وسطي انحراف فورمول په تصنیف شوو اعدادو کې په هغه صورت کې چې $\overline{X}$ وسطي ارزښت وي، ولیکئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویمه برخه

## احتمالات

### مقدمه

پر امکاناتو، یقین او باور نه لرل هغه مفاهیم دي چې انسانان تل له هغه سره سر او کار لري او هر انسان د خپل د راتلونکي او پېښو (حوادثو) او اتفاقاتو په اړه چې د هغه په چاپېریال کې به ورپیښ شي، ذهن کې اندیښنې اوفکرونه لري.

نو ځکه د احتمال مفهوم او د هغه په کار اچونه په ورځنیو اجرااتو کې د بشریت له تاریخ او تمدن سره تړاو لري او له احتمال څخه د ګټې اخیستلو یو له مواردو څخه په لوبو کې دی او له دې چې لوبې (3500) کاله مخکې له میلاده سابقه لري او د هماغه یوځایي لوبو له پیل څخه د برې او ناکامي له احتمال څخه یو لوري ته خبرې شوي او همدارنګه د لرغوني یونان د ستر پوه ارسطو په لیکنو کې د احتمال کلمه استعمال شوې ده.

خو د احتمال تیوري په ننۍ بڼه د پاسکال او فرما له کارونو څخه پیل شوې ده، څرنګه چې پاسکال د ترکیباتو د تیوري د لومړنیو اصولو (ترکیبي آنالیز) بنسټ کېښود او د فرما په مرسته یې هغې ته پراختیا ورکړه او د احتمالاتو په مسایلو کې یې په ضمني توګه په کار واچاوه. وروسته دا ډګر د قدر وړ علماوو لکه کاردان، ګالیله، چیشیف، برنولي او لاپلاس له لوري اندازه شوي دي. د احتمال د تیوري تطبیق د کلموګروف په مرسته د احتمال د تیوري په نوم په کال 1933کې بشپړ شوې چې د احصایې د علماوو د منلو وړ وګرځېد.

د نن ورځې د احتمال تیوري په ډېرو مسلکي او تخصصي ځانګو کې لکه انجنیري، منجمنت او د نفوس په شمېرنه کې د استعمال موارد لري چې د موضوع د اهمیت پر اساس احتمال د تخنیکي او مسلکي زده کړو د بېلا بېلو ځانګو په تعلیمي پلانونو کې لکه د کمپیوټر تکنالوژي او هم د ادارې او حسابدارۍ انستیتوت په موجوده ځانګو کې شاملې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې برخې د تدوين او ټولونې موخه د اړينو او لازمو معلوماتو او اطلاعاتو رسول هغو محصلينو ته دي چې د دولسم ټولګي له فراغت څخه وروسته د ادارې او منجمنت په برخه کې يو دوه کلنه تعليمي دوره تېروي، تر څو و کولای شي د يو منيجر او د اداري امورو د فعال کارمند په توګه په دولتي او خصوصي برخو کې دنده تر سره کړي.

دا يو څرګند حقيقت دی چې دا اداري کارمند او منيجر د وخت له غوښتنو او هوکړو سره سم مکلف دي تر څو د ارقامو په ټولونه او تدوين کې د احصايې د بشپړولو او يا د پراختيايي (انکشافي) پلانونو د طرحې لپاره ځانګړې دندې سرته رسوي او د کارونو وروستي پرمختګونه او تکاملي لارې د ورځنيو دندو د سرته رسولو پر وخت په پام کې لري چې دغو موخو ته رسېدل په مسلمه او قطعي توګه د احتمالاتو د عمومي تيورۍ په زده کړه او د هغه په تطبيق باندې مکلف دي.

څرګنده ده چې د احتمالاتو په تيوري کې يو پراخ مبحث او زيات شمېر موضوع ګانې او مطلبونه شامل دي چې په دې لنډيز کې د ټاکل شوو  ساعتونو  په پام کې نيولو سره به د ټولو يا لړو مطلبونو تشريح او توضيح کول نا ممکنه وي، نو ځکه هڅه شوې ده تر څو هرڅه چې زيات او له ټولو څخه اړين وي او د ادارې او منجمنت د څانګو محصلينو لپاره ګټور دي په موجوده پروګرام کې شامل شي.

د دې برخې عمومي موخه :

د اداري کارکوونکو له خوا د احتمالاتو د تيوري تطبيق په اقتصادي او ټولنيزو اتفاقاتو کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## د احتمالاتو مفاهیم

**ټولیزه موخه:**

د احتمالاتو د موخو او مفاهیمو تعریف او توضیح.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې له محصلینو څخه هیله کیږي ترڅو:

- د پدیدو احتمالات توضیح کړي.
- د پدیدو ډولونه توضیح کړي.
- تصادفي او قطعي احتمالات دې تفکیک کړي.
- تصادفي تجربې دې توضیح کړي.
- په احتمالاتو کې دې ځینې مهم او اساسي مفاهیم توضیح کړي.

د احتمال کلمه په عامیانه ژبه کې د ګمان او اټکل ښکاره کول او غالباً د ممکن په معنا په کار وړل کیږي او نظري او غیر عملي اړخ لري، لکه نن امکان لري یا احتمال د دې دی چې باران و اوري او یا د ارجنټاین د ټیم لپاره د بري چانس د فوټبال په نړیوالو مسابقاتو کې ٪۸۰ دی.

خو په علمي ژبه کې د احتمال کلمه د ریاضي په خاصه معنا کارول شوې ده چې د هغې معنا د یوې اتفاقي تجربې د یوې ځانګړې پایلې د ښکارېدو یا نه ښکارېدو د ډاډ یا اطمینان درجه ده. د احتمال ریاضیکي مفهوم د هغه د عامیانه مفهوم برعکس یو کمیتي مفهوم دی چې د اعدادو او ارقامو په مرسته افاده شوی او د معاصرو ریاضیاتو له میتودونو څخه په استفادې د تشخیص او ارزونې وړ ده او د ډاډ او اطمینان درجه د اتفاقي تجربو د پایلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ښکارېدو یا نه ښکارېدو څخه معمولاً د فیصدۍ په ارقامو، عام کسر او یا اعشاري کسر باندې ښودل کیږي. د پېښو (اتفاقاتو) تجربو د څرګندو شوو ارقامو پایلې تل دوه لاندې مشخصې لري.

۱- د یوې اتفاقي تجربې له ممکنه پایلو څخه د یوې پایلې د ښکارېدو یا نه ښکارېدو احتمال باید له صفر څخه لوی او له یو څخه کوچنی وي.

۲- د یوې اتفاقي تجربې له ممکنه پایلو څخه د یوې پایلې د ښکارېدو احتمال او یا نه ښکارېدو احتمال باید له یوه سره مساوي وي.

که:

(A) د یوې اتفاقي تجربې له ممکنه پایلو څخه  یوه پایله وي.

P(A) د A د پایلې د ښکارېدو احتمال وي.

P(A⍰) د A د پایلې د نه ښکارېدو احتمال وي.

نو

1) $0 \le P(A) \le 1$

2) P(A)+P(A⍰) = 1

که چېرې د A د پایلې د ښکارېدو چانس او یا نه ښکارېدو چانس له یو بل سره مساوي وي، نو کولای شو د A د پایلې د ښکارېدو او یا نه ښکارېدو احتمال په کمیتي توګه په لاندې ډول افاده کړو:

P(A)=P(A⍰)

P(A)=P(A⍰)= $\frac{1}{2} = 0.5 = 50\%$

له پورته مطلب څخه نتیجه اخیستل کیږي که چېرې د پېښو (اتفاقاتو) د ښکارېدو او یا نه ښکارېدو لپاره مساعد او نامساعد حالات شتون ولري، نو په دې اساس د دې پېښو (اتفاقاتو) له پېښېدو څخه هر یو نامساعده حالت و نه لري د هغه د مساعد والي احتمال (۱) دی او که حادثه مساعد حالت و نه لري د حادثې د مساعد والي احتمال صفر دی.

**بېلګه:** که چېرې په یوه قطي کې 10 سپینې مرۍ، 5 تورې مرۍ او 3 سرې مرۍ موجودې وي او یوه مرۍ په اتفاقي توګه له قطي څخه وباسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف- د تورې مرۍ احتمال $P(B)=\frac{5}{18}$

ب- د سرې مرۍ احتمال $P(R)=\frac{3}{18}$

ج- د سپينې مرۍ احتمال $P(W)=\frac{10}{18}$

د- د شنې مرۍ احتمال $P(G)=\frac{0}{18}$

د احتمال احصائيوي اوکلاسيک مفاهيم د هغه له رياضيکي مفهوم سره فرق کوي ځرنګه چې:

۱- که چېرې د A د يوې اتفاقي پېښې د ښکارېدو احتمال په P(A)، د A د اتفاقي پېښې د مساعدو پايلو تعداد په N(A) او د A د اتفاقي پېښې د ممکنه پايلو تعداد په N(S) وښيو، نو کولای شو د احتمال کلاسيک مفهوم د لاندې فورمول په مرسته څرګند کړو.

$$P(A)=\frac{N(A)}{N(S)}$$

له دې فرضيې سره سم که چېرې يو ټولګی (جمعيت) تر احصائيوي مطالعې لاندې راځي بايد محد ود وي او د اتفاقي تجربو له پايلو څخه هر يو بايد د ښکارېدو مساوي چانس ولري او اما له دې چې:

۲- په زياتره وختونو کې هغه ټولګي (جمعيتونه) چې تر احصائيوي مطالعې لاندې راځي د هغوی د عناصرو تعداد غير محدود او يا ډېر زيات وي، نو ځکه د ټولګي (جمعيت) د جوړو شوو عناصرو د ښکارېدو قواعد غير ممکن وي او پوره معلومات د هغه د ښکارېدو يا نه ښکارېدو په اړه په واک يا اختيار کې نه وي چې د يوې اتفاقي پېښې د ښکارېدو يا نه ښکارېدو دا رنګه حالات د هغه د کلاسيک په مفهوم توضيح کېدلای نه شي. د A د اتفاقي پېښې د ښکارېدو يا نه ښکارېدو احتمال په دې حالت کې د نسبي فريکونسي په مرسته تشخيص کيږي. که د A د اتفاقي پېښې مطلقه فريکونسي په F(n) او د A د اتفاقي پېښې نسبي فريکونسي په F(A) څرګنده کړو. نو کولای شو د A د اتفاقي پېښې نسبي فريکونسي د رياضي له پلوه په لاندې ډول افاده کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$F(A)=\frac{F(A)}{n}$$

که چېرې د n نمونې حجم  ورو ورو لوی شي او په پای کې لایتناهي ته نږدې شي، د A د اتفاقي پېښې نسبي فریکونسي ورو ورو یو سرحدي ارزښت ته نږدې کیږي چې که هغه د A د اتفاقي پېښې د ښکارېدو احتمال یو اټکلي ارزښت ومنو په لاندې ډول یې افاده کوو.

$$\lim_{n\to\infty} f(A)=\frac{F(A)}{n}=P(A)$$

پورتنی فورمول د احتمال اقتصادي مفهوم توضیح کوي.

**بېلګه:** د ادارې او حسابدارۍ انستیتوت په یوه ټولګي کې 100 تنه محصلین دي، که 60 تنه نجونې او پاتې نور هلکان وي او یو تحصیلي بورس دې ټولګي ته ورکړل شوی وي او یو تن محصل په اتفاقي توګه نوموړي بورس ته معرفي شي څومره احتمال لري چې:

الف- په دې بورس کې یوه نجلۍ کاندیده شي.

ب- یوه نجلۍ په دې بورس کې کاندیده نه شي.

ج- د ټولګي اول نمره دې په دې بورس کې کاندید شي.

**حل :** د احتمال د کلاسیک مفهوم سره سم موږ لرو:

الف-

N(S)

N(A)

N(B)

N(A)

$$\Rightarrow \quad P(B)=\frac{N(B)}{N(S)}=\frac{60}{100}=0.6=60\%$$

ب-

$$P(B')=1-P(B)=1-0.6=0.4=40\%$$

ج-

$$N(A_1)=\frac{N(A_1)}{N(S)}=\frac{1}{100}=0.01=1\%$$

**بېلګه:** یوې فابریکې د برق سامان او لوازم تولید کړی او وړاندې له دې چې تولیدات یې بازار ته وړاندې شي، د تخنیکي کیفیت له پلوه تر احصائیوي آزمایښت لاندې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه نمونه د 1200 سایزو په واحد د تصدۍ له ورځنیو تولیداتو څخه په اتفاقي توګه پورته شوي، داسې ښيي چې 1100 واحده یې له نمونې سره سم او 100 واحده یې د ټاکل شوي نورم سره سم نه دي. په تولیداتو کې له نورم سره سم 200 واحده یې لومړۍ درجه تولیدات، 300 واحده یې دویمه درجه تولیدات او پاتې نور یې دریمه درجه تولیدات دی

که چېرې یو واحد په اتفاقي توګه پورته شي او تر احصائیوي کتنې (مشاهدې) لاندې راشي څومره احتمال لري چې:

الف- تولید له نورم سره سم ښکاره شي.

ب- نمونه له تولیداتو سره د نورم په خلاف پېښېږي.

ج- اخیستل شوی واحد د لومړۍ درجې تولیداتو څخه وي.

د- نمونه په دویمه درجه تولیداتو باندې پېښ شي.

هـ- نمونه په دریمه درجه تولیداتو باندې پېښ شي.

**حل:**

$n=1200$

$F(A)=1100$

$F(A?)=100$

$F(A_1)=200\ ,\ F(A_2)=300$

$F(A_3)=600$

**حل:** عمومي فورمول $F(A)=\dfrac{F(A)}{n}$

الف- $F(A)=\dfrac{1100}{1200}=0.91=91\%$

ب- $F(A?)=\dfrac{100}{1200}=0.09=9\%$

ج- $F(A_1)=\dfrac{200}{1200}=0.16=16\%$

د- $F(A_2)=\dfrac{300}{1200}=0.25=25\%$

هـ- $F(A_3)=\dfrac{600}{1200}=0.5=5\%$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تصادفي تجربه:** د ځینو تجربو پایلې له مخکې څخه په پوره ډول په ګوته شوي وي، مثلاً کله چې یوه ډبره وغورځوو دا ډبره په ځمکه لویږي او یا که یوه اندازه اوبو ته حرارت ورکړو، کله چې د اوبو د حرارت درجه د سانتي ګرېډ سلو درجو ته ورسیږي اوبه په بخار بدلیږي خو د دې په وړاندې نورې تجربې شتون لري چې، موږ نه شو کولای د هغوی پایلې مخکې له مخکې په دقت سره وټاکو او یواځې له تجربې وروسته د هغوی پایله په ګوته کیږي او دا ډول تجربو ته تصادفي تجربې وايي، لکه:

۱- که چېرې د پیسو یوه سکه هوا لور ته واچوو دا سکه د ښکته کېدو پر وخت پر مخ یا پر شا (شېر او خط) کښيني. په بل عبارت د سکې په غورځولو کې امکان لري دوې نتیجې لاسته راشي شېر یا خط چې دا مطلب یواځې وروسته د سکې له ناستې څخه د سطحې پرمخ کولای شو ووایو چې سکه پر مخ ناسته ده او یا په شا، نو ځکه ویلای شو چې:

د تصادفي تجربو مطالعه چې ممکنه نتایج ښیي، د احتمالاتو د تیوري د بنسټ په اندازې پېژندل شوې ده او همدارنګه د مطلب د ساده کېدو لپاره فرض کیږي چې، د لاسته راغلو پایلو تعداد به د متناهي (محدودو) تصادفي تجربو څخه وي.

نمونه يي فضاء: که چېرې $a_1,a_2,a_3$............ $a_n$ له یوې تصادفي تجربې څخه ممکنې پایلې وي.

$S=( a_1,a_2,a_3,\dots\dots a_n)$ Set

نوم او نمونه يي فضاء لوستل کیږي، له S څخه هر عنصر له نمونه يي فضاء څخه یو ټکی یاځای نومول کیږي د بېلګې په ډول:


**بېلګه:** یوه سکه هوا ته اچول کیږي. دا سکه په ښکته راتلو کې د (R) پر مخ یا د (P) پر شا کښيني، مجموعه: $S=\{P,R\}$

ټولې ممکنې مجموعې چې دا تجربه ښیي د تصادفي تجربې د نمونه يي فضاء په نوم نومول کیږي او د R او P له عناصرو څخه هر یو د نمونه يي فضاء د یو ټکي په نوم لوستل کیږي.

**نوټ:** یو متناهي ست د حقیقي اعدادو د انټروالونو په بڼه، د ترلې نمونې د هندسي احجامو او اشکالو د نمونې فضاء جوړوي.

**بېلګه:** یو مکعب چې شپږ مخه لري د ناستې پر وخت به له یوه څخه تر شپږ مخه ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library




SET: S={1,2,3,4,5,6} چې د دې تجربې ټولې ممکنې نتیجې ښيي د دې تجربې د نمونه يي فضاء په نوم لوستل کيږي. دا مجموعه شپږ عنصره لري

**تصادفي پېښه (پيش امد):** څرنګه چې مخکې مو وليدل د يو مکعب په توېدو سره د نمونې فضاء برابره ده له:

S={1,2,3,4,5,6}

که چېرې په دې تجربه کې له دوو اړخونو څخه د يوه پر مخ کېدل چې د هغې پر مخ جفت عدد ليکل شوی وي. زموږ مطلوب وي د A={2,4,6} مجموعه چې د مطلوب ټولې پايلې ښيي د يوې تصادفي پېښې (پيش امد) په نوم لوستل کيږي څرنګه چې:

$A \subset S$

نو ويلای شو چې هر فرعي ست له نمونه يي فضاء څخه يوه پېښه (پيش امد) ده. په بل عبارت، که چېرې S د تصادفي تجربې د نمونې فضاء وي، A يوه تصادفي پېښه (پيش امد) لوستل کيږي يواځې او يواځې. $A \subset S$

**تعريف:** په يوه تصادفي تجربه کې د فرعي ست تصادفي پېښه (پيش امد) عبارت د هغې تجربې له نمونه يي فضاء څخه ده. په بل عبارت، که چېرې S د تصادفي تجربې د نمونې فضاء وي، A يوه تصادفي پېښه (پيش امد) لوستل کيږي، يواځې او يواځې $A \subset S$


او همدارنګه ويلای شو چې:

که له يوې تصادفي تجربې څخه يوه پېښه (پيش امد) ټاکل شوی وي، د دې تجربې په هر ځل سرته رسولو سره ويل کيږي چې د A پېښه واقع شوې ده کله چې نتيجه لاسته راغله د A غړی (عضو) دې وي.

**لکه:** يوه سکه دوه ځله هواته اچول کيږي، نمونه يي فضاء او تصادفي پېښه (پيش امد) چې د مخ ښکارېدل په دوه واره اچولو کې يا د شا ښکارېدل په دوه واره اچولو کې عبارت دي وليکئ.

**حل:** دا سکې د ناستې په وخت کې له دې بڼو څخه به يوې بڼې ته مخ ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





که چېرې د سکې د مخې د راتګ نتیجه په R او د شا د راتګ نتیجه په P وښیو. د پایلو مجموعه د هر ځل اچولو لپاره برابره ده له:

A={R,P}

هغه څه ته په پام سره د دیکارتي په حاصل ضرب کې د A یوه مجموعه په خپله دې کې ویل شوې ده بېلا بېل حالات چې سکه په دوه ځله کې ممکنه ده له یو بل سره پر ځمکه کښېني او یا په بل عبارت د دې تجربې نمونه یي فضاء برابره ده له:

S={(R,R),(R,P),(P,R),(P,P)}

د نمونه يي فضاء د لاسته راوړلو لپاره کولای شو د قایم د مختصاتو له سیستم څخه هم استفاده وکړو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې تجربه کې د A تصادفي پېښه (پېش امد) يعنې دوه ځله په مخ راتګ يا دوه ځله په شا راتګ عبارت دی له:

د A پېښه د S له نمونه يي فضاء څخه فرعي ست دی چې په پورته بڼه کې ښودل شوې ده.

**احتمال:** له مخکينيو توضيحاتو سره سم اوس کولای شو احتمال په دقيقه او مشخصه توګه تعريف کړو. که چېرې تصادفي پېښې ته کوم عدد نسبت ورکړل شي او د هغه په مرسته د هغې پېښې د پېښيدو چانس وسنجوو، لومړی فرض کيږي چې د نمونې د فضاء د عناصرو تعداد متناهي وي او همدارنګه دا عناصر بېل وي او د نمونه يي فضاء د ټولو عناصرو د ښکارېدو چانس برابر وي. د بېلګې په ډول:

۱- د يوې سالمې سکې  په اچولو سره نمونه يي فضاء عبارت ده له:

S=(R, P)

د دې نمونه يي فضاء د عناصرو تعداد متناهي دی او مساوي په 2  دی له بل پلوه دا عناصر بېل دي او د دې عناصرو د ښکارېدو چانس له يو بل سره مساوي وي او د نمونه يي فضاء د ټولو عناصرو د ښکارېدو چانس برابر وي. د بېلګې په ډول:

۱- د يوې سالمې سکې  په اچولو سره نمونه يي فضاء عبارت ده له:

S=(R, P)

د دې نمونه يي فضاء د عناصرو تعداد متناهي دی او مساوي په 2  دی له بل پلوه دا عناصر بېل دي او د دې عناصرو د ښکارېدو چانس له يو بل سره مساوي وي.

۱- د يوه سالم مکعب په اچولو کې نمونه يي فضاء شپږ غړي لري.

S= {1, 2, 3, 4, 5, 6}

او له عناصرو څخه د هر يو عنصر د ښکارېدو چانس مساوي دی.

د نمونه يي فضاء او د تصادفي پېښو د مفهوم په څرګندېدو سره کولای شو احتمال تعريف کړو.

**تعريف:** که د نمونه يي فضاء د عناصرو تعداد محدود وي او د دې عناصرو د ښکارېدو چانس مساوي وي د هرې تصادفي پېښې احتمال لکه A چې په P(A) سره ښودل کيږي مساوی دی په:

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$P(A)=\frac{n(A)}{n(S)}=\frac{\text{د A عناصرو شمېر}}{\text{د S عناصرو شمېر}}$$

(د هرې پېښې د پېښېدو احتمال)(P(A)،

څرنګه چې $0 \le nA \le n(S)$
او $0 \le P(A) \le 1$ وي به.
يعنې د هرې پېښې احتمال د صفر او يوه ترمنځ عدد دی يا په بل عبارت:

$$P(A)=\frac{n(A)}{n(S)}=\frac{\text{دمساعدو حالتونو تعداد}}{\text{د ممکنه حالتونو تعداد}}$$

(د A د پېښې د پېښېدو احتمال)

**بېلګه:** يو مکعب يو ځل غورځوو که د B پېښه (پېش امد) د طاق عدد له ښکارېدو څخه عبارت وي موږ لرو:

S={1,2,3,4,5,6}

B={1,2,5}

$$P(B)=\frac{n(B)}{n(S)}=\frac{3}{6}=\frac{1}{2}$$

**بېلګه:** د {a,b,c} د مجموعې ټول درې توريز ترکيبات دې د بېلا بېلو کارتونو پر مخ وليکل شي، داسې چې هر يو ترکيب د يو کارت پر مخ وي له ګډولو ورسته، يو کارت د قرعې په توګه پورته کوو. احتمال د دې چې د b توری د دې کارت پرمخ وي څه دی.

**حل :** د {a,b,c,d} د مجموعې درې توريز ترکيبات عبارت دي له:

S= {abc,acd,abd,bcd}

که چېرې A مطلوبه پېښه (پېش امد) وي موږ لرو:

A= {abc,abd,bcd}

په پايله کې احتمال يې برابر دی له $P(A)=\frac{n(A)}{n(S)}=\frac{3}{4}$

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لومړي څپرکي د مطالبو لنډيز

د احتمال کلمه د يوې اتفاقي تجربې د ښکاريدو يا نه ښکاريدو د ډاډ د درجې په معنا ده او احتمال په مطابقت کې د کمياتو او مشخصه اعدادو په مرسته د معاصره رياضياتو په فورمولونو سره ځرګندولای شو.

ځرنګه چې د يوې ممکنه نتيجې د ښکاريدو يا نه ښکاريدو احتمال تل له صفر څخه لوی او له يوه څخه کوچنی وي. په واقعيت کې د مساعده او نا مساعده حالاتو د اتفاقاتو د پېښيدو امر د احتمال (probability) په نوم يادېږي. د کلاسيک له مفاهيمو سره سم احتمال د ممکنه نتايجو پر تعداد باندې له مساعدو نتايجو او تعداد څخه عبارت دی يعنې

$$P(A)=\frac{N(A)}{N(S)}$$

خو احتمال له احصائيوي مفهوم سره سم، د يوې حادثې نسبي فريکونسي مساوي کيږي د حادثې د مطلقه فريکونسي د دفعاتو له تعداد سره.

د احتمالاتو په تيوري کې د قطعي او ثابتو پديدو او تصادفي پديدو له مفاهيمو سره مخامخ کيږو، که چېرې د هرې حادثې نتيجې له مخکې څخه معلومې وي د قطعي پديدو په نوم يادېږي او که د يوې حادثې د تجربې نتيجې له مخکې څخه معلومې نه وي د پديدې يا تصادفي تجربې په نوم يادېږي.

د تصادفي تجاربو مطالعه د احتمالاتو د تيوري بنسټ جوړوي. د يوې تجربې له نتايجو څخه مجموعه (ست) د نمونې د فضاء په نوم يادېږي. ځرنګه چې د يوې نمونې د فضاء هر فرعي ست د يوې تصادفي پېښې (پيش امد) ښکارندوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لومړي څپرکي پوښتنې

۱- د لوبو یو درجن قطعي په نظر کې نیسو چې (52) پاڼې ولري. که د خښتې رنګ A ونوموو په اتفاقي توګه د یوې پاڼې د انتخابولو په اثر د (A) ښکاره کېدل عبارت دي له:

۲- په یو ټولګي کې له سل تنو محصلینو څخه آزموینه اخیستل کیږي چې په نوموړي ټولګي کې (35) تنه یې نجونې او پاتې نور یې هلکان دي، د یوه محصل د آزموینې پارچه په اتفاقي توګه پورته کوو احتمال د دې چې پارچه په چاپوري اړوندیږي څومره دی؟

a. په یوه جنۍ پورې؟

b. یو تن هلک پورې؟

۳- په یو پاکټ کې دوه د سلو افغانیو نوټونه، څلور د پنځوسو افغانیو نوټونه، لس د شلو افغانیو نوټونه او شل د لسو افغانیو نوټونه په غیر منظمه توګه ځای په ځای شوي دي، د هغوی له جملې څخه یو نوټ په اتفاقي توګه غوره کیږي.

۴- یوه کورنۍ درې اولاده غواړي، احتمال د دې چې:

c. درې واړه اولاده هلکان وي څو دی؟

d. په دریو اولادو کې یو هلک وي څو دی؟

۵- په یوه کڅوړه کې ۵ سرې مرۍ او درې شنې مرۍ شتون لري، موږ دوه مرۍ پر له پسې له کڅوړې څخه وباسو (پرته دځای له ټاکلو) معلوم کړئ چې:

e. احتمال د دې چې دوه مرۍ سرې وي څو دی؟

f. احتمال د دې چې د لومړنۍ رنګ سور او د دویمي رنګ شین وي څو دی.

لارښوونه $n(s)=C_1^8.C_1^7 \Leftarrow P(A)=\dfrac{n(A)}{n(S)},\ \text{P(B)}=\dfrac{n(B)}{n(S)}$

۶- په یوه کڅوړه کې ۵ سرې مرۍ او درې شنې مرۍ شتون لري، له دې کڅوړې څخه دوه مرۍ پرله پسې وباسو (د ځای له ټاکلو سره) معلوم کړئ چې احتمال د دې چې:

g. دواړه مرۍ سرې وي څو دی؟

h. لومړنۍ مرۍ سره او دویمه شنه وي څو دی؟

$$\text{n(S)}=\begin{bmatrix}8\\1\end{bmatrix}\begin{bmatrix}8\\1\end{bmatrix}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دويم څپرکی

## د احتمالاتو د سنجش بنسټيز قواعد

**ټوليزه موخه:**
د خپلواکه او مشروطه اتفاقاتو په محاسبه کې د جمع او ضرب له قاعدې څخه ګټه اخيستل.

**د زده کړې موخې:** زده کوونکي بايد د دې څپرکي په پای کې وکولای شي تر څو:

- د جمع قاعده تعريف کړي.
- د ضرب قاعده تعريف کړي.
- خپلواک حوادث محاسبه کړي.
- مشروط حوادث محاسبه کړي.

د بېلا بېلو برخو په څېړنو کې لکه په اتفاقي حادثاتو پورې اړوند د احصائيې مسايل، د ښکارېدو يا نه ښکارېدو احتمال يواځې يوه اتفاقي حادثه د بحث وړ نه ده بلکې په زياتره مواردو کې د ښکارېدو يا نه ښکارېدو احتمال دوه يا څو اتفاقي حادثې هم د علاقې وړ وي.

هغه قواعد چې د هغه په مرسته د دوه يا څو اتفاقي حادثو د ښکارېدو احتمال سنجش کيږي، د اتحاد د قواعدو (د جمع قاعدې) په نوم او هغه قواعد چې د هغې په مرسته د يو ځای ښکارېدو يا څو اتفاقي حادثو احتمال سنجش کيږي، د احتمال د تقاطع قواعد (د ضرب قاعدې) په نوم يادېږي او دواړه قاعدې د نوې رياضي د نښو (علايمو) او سمبولونو (ستونو) په اساس فورمول بندي کيږي.

په احتمالاتو کې د جمع قاعده: مخکې له دې چې د جمع قاعده توضيح شي ضروري ګڼل کيږي تر څو د اتفاقي حادثو په مفهوم پوه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خپلواکه (مستقله) اتفاقي حادثې:** خپلواکه ناڅاپي پېښې هغه پېښې دي چې د يوې ناڅاپي پېښې څرګندېدنه د بلې ناڅاپي پېښې په څرګندېدو پورې تړلې نه وي. په بل عبارت د يوې پېښې د څرګندېدو احتمال د بلې پېښې د څرګندېدو احتمال متأثره نه کړي د بېلګې په ډول .که په يوه لوښي کې (۱۰) دانې مردکۍ په بشپړه توګه يو له بل سره ورته (مشابه) موجودې وي، که چېرې دوه مردکي په اتفاقي توګه پورته کړل شي، د دې احتمال چې په لومړي ځل دويم نمبر مردکی او په دويم ځل پنځم نمبر مردکی پورته کړل شوي مساوي دي. که د دويم نمبر مردکي ښکارېدل د A د اتفاقي حادثې په توګه او د پنځم نمبر مردکي ښکارېدل د B د اتفاقي حادثې په توګه ومنو نو د A د اتفاقي حادثې او د B د اتفاقي حادثې احتمال د رياضي له پلوه تر پورتنيو شرايطو لاندې په لاندې بڼه افاده کيږي.

$$P(A)=\frac{N(A)}{N(S)}=\frac{1}{10} \qquad P(B)=\frac{N(B)}{N(S)}=\frac{1}{10}$$

**په خپلواکه (مستقله) اتفاقي حادثه کې د جمع قاعده:** که چېرې A او B دوه اتفاقي او خپلواکه حادثې له يو بل څخه داسې وي چې د دواړو حادثو ښکارېدل د امکان وړ نه وي په دې صورت کې احتمال د دې چې يو له دغو دوو اتفاقي حادثو څخه ښکاره شي عبارت دي له:

$$(AVB)\Leftrightarrow P(A\cup B)=P(A)+P(B)$$

که چېرې خپلواکه اتفاقي حادثې له دوو حادثو څخه زياتې وي په دې صورت کې د نومړو حالاتو اتحاد په لاندې توګه معلوميږي.

$$P(A_1VA_2VA_3\ldots A_n)\Leftrightarrow P(A_1\cup A_2\cup A_3\ldots\cup A_n)$$
$$=P(A_1)+P(A_2)+P(A_3)+\ldots P(A_n)$$

او دا مطلبونه هغه وخت د امکان وړ دي چې A,B دوه اتفاقي حادثې وي، چې د هغوی يوځای ښکارېدل د امکان وړ وي. په داسې مواردو کې احتمال د دې چې په يوه اتفاقي تجربه کې لږ تر لږه يو له دوو اتفاقي حادثو څخه A يا B ښکاره شي عبارت دي له:

$$P(AVB)\Leftrightarrow P(A\cup B)=P(A)+P(B)-P(A\cup B)$$

يا په لنډه توګه وليکو: $P(AVB)1-P(A\square\cap B\square)$:

که چېرې درې غير خپلواکې اتفاقي حادثې په نظر کې وي، پورتنی فورمول په لاندې بڼه بدليږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

$P(AVBVC) \Leftrightarrow P(A \cup B \cup C)$

$=P(A)+P(B)+P(C)-P(A \cap C)- P(A \cap B)+(A \cap B \cap C)$

یا په لنډه توګه کولای شو ولیکو: $P(AVBVC)+1-P(A' \cap B' \cap C')$

**بېلګه:** که $P(A)=\frac{1}{3}$ , $P(B)= \frac{1}{5}$ , $P(A \cap B)=\frac{1}{8}$ معلوم کړئ چې:

a- $P(A')=?$

b- $P(B')?$

c- $P(A' \cup B')$

d- $P(A' \cap B')$

a) $P(A)=1-P(A)=1-\frac{1}{3}=\frac{2}{3}$

b) $P(B')=1-P(B)=1-\frac{1}{5}=\frac{4}{5}$

c) $P(A \cup B)=P(A \cap B)=1-P(A \cap B) =1-\frac{1}{8}=\frac{7}{8}$

d) $P(A' \cap B')=P(A \cup B')=1-P(A \cap B)$

$=1-P(A \cup B)=1-\left[P(A)+P(B)-P(A \cap B)\right]=$

$1-(\frac{1}{3}+\frac{1}{5}-\frac{1}{8})=\frac{71}{120}$

**په احتمالاتو کې د تقاطع (ضرب) قاعده:**

a- دوه حادثو ته خپلواکه (مستقل) وايي که چېرې د يوې پېښې د بلې پېښې په احتمال کې کومه اغيزه ونه لري په دې صورت کې کولای شو ولیکو چې:

$P(A \cap B)=P(A)P(B)$

**بېلګه:** فرض کړئ د يو تن محصل د کامیابۍ احتمال د ۱۳ ټولګي د دويم سمستر د رياضياتو په مضمون کې (A حالت) ۴۰ فيصده او د همدغه محصل د کامیابۍ احتمال د اقتصادي جغرافيې په مضمون کې (B حالت) ۸۰ فيصده وي، څومره احتمال لري چې په دواړو مضمونو کې کامياب شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

$P(A \Lambda B) \Leftrightarrow P(A \cap B) \Rightarrow P(A) \times P(B) = 0.4 \times 0.8 = 0.32 = 32\%$

**یادونه:** که چېرې د خپلواکه حادثو تعداد له دوو حادثو څخه زيات وي د ضرب د قاعدې فورمول په لاندې توګه پراختيا پيدا کوي.

$$P(A_1 \Lambda A_2 \Lambda A_3 \ldots \Lambda A_n) \Leftrightarrow P(A_1 \cap A_2 \cap A_2 \ldots \cap A_n)$$
$$P(A_1) \times P(A_2) \times P(A_3) \ldots P(A_n)$$

b- په ځينو مواردو کې د حوادثو او واقعاتو پېښېدنه له يو بل څخه خپلواکه نه دي بلکې د يوې حادثې پېښېدنه د بلې حادثې په پېښېدنې پورې تړلې (مقيده) او مشروطه وي، يا په بل عبارت د A حالت هغه وخت پيښيږي چې يو بل حالت لکه (B) پېښه شوي وي. د A د حادثې د پېښېدنې احتمال د B حالت په پېښېدنې مشروط ګڼې او د P(A/B) د نښې په مرسته يې څرګندوي دغه احتمال د مشروط يا (Conditional Probability) په نوم يادوي او ليکي.

$$P(A/B) = \frac{n(A \cap B)}{n(B)} \text{ يا } P(A/B) = \frac{P(A \cap B)}{P(B)}$$

اما د شرطي احتمال د محاسبې لپاره له لاندې فورمول څخه ګټه اخيستل کيږي.

$$P(A/B) = P(B).P(A/B) \text{ يا } P(A/B) = \frac{P(A \cap B)}{P(B)}$$

په همدې ترتيب $\Rightarrow P(A \cap B) = P(A).P(\frac{B}{A})$

**بېلګه:** په يوه پاکټ کې څلور دانې د سرو زرو (طلا) سکې او دوه دانې د سپينو زرو (نقرې) سکې ايښودل شوي دي، که يوه سکه په اتفاقي ډول وټاکل شي د دې احتمال چې نومورې سکه به طلا وي $\frac{4}{6}$ وي، فرض کوو چې نومورې سکه طلا وي $\frac{4}{6}$ به وي، او د دويم ځل لپاره پاکټ ته نه غورځول کيږي او دويمه غوره کړل شي د دې احتمال چې دويمه هم طلا وي له $\frac{3}{6}$ څخه عبارت دی، په نتيجه کې د دې احتمال چې د شپږو نومورو سکو له جملې څخه لومړی او دويم دواړه طلا وي عبارت دي له:

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$P(A_1 \cap A_2)=P(A_1).P(\frac{A_2}{A_1})=\frac{4}{6}.\frac{3}{5}=\frac{2}{5}=0.4$$

**بېلګه:** د لوبو د قطعو له یو درجن څخه ۳ پاڼې یو پر بل پسې ټاکل کیږي او د دویم ځل لپاره د قطعې منځ ته غورځول کیږي، د دې احتمال چې لومړی، دویمه او دریمه به طوس وي څومره دی؟

$$P(A_1 \cap A_2 \cap A_3)=P(A_1).P(A_2).P(A_3)=\frac{4}{52}.\frac{3}{51}.\frac{2}{50}$$

**یادونه:** دوه حادثې چې د هغوی هم مهاله پېښېدنه امکان و نه لري نا سازګاره حادثې ورته ویل کیږي.

**د دویم څپرکي د مطالبو لنډیز:**

هغه قواعد چې د هغې په مرسته د دوو یا څو اتفاقي حادثو د ښکارېدو احتمال سنجش کیږي د جمع د قواعدو په نوم او هغه قواعد چې د هغې په مرسته د یو ځای د ښکارېدو د دوو یا څو اتفاقي حادثو احتمال سنجش کیږي د احتمالي ضرب د قواعدو په نوم یادیږي چې، دواړه قاعدې د نوې ریاضي د نښو او سمبولونو (د ست د تیوري) په اساس فورمول بندي کیږي.

که چېرې د یوې اتفاقي حادثې ښکارېدل د بلې اتفاقي حادثې په ښکارېدو تړلې (مقیده) نه وي د خپلواکه اتفاقي حادثې په نوم یادیږي چې، په داسې حالاتو کې د مطالعې وړ پدیدو ښکارېدل، د نورو حادثو ښکارېدل نه اغېزمن کوي.

اما په ځینو ځایونو کې د حادثو او واقعاتو پېښېدنه له یو بل څخه خپلواکه نه وي بلکې د یوې حادثې پېښېدنه د بلې حادثې په پېښېدنه باندې تړلې (مقیده) او مشروط وي، نو که د A د حادثې پېښېدنه د B د حادثې په پېښېدنه مشروط وي، دا ډول احتمال د مشروط احتمال په نوم یادیږي.

د دوو حادثو پېښېدنه چې هم مهاله امکان و نه لري ناسازګاره حوادث جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دویم څپرکي پوښتنې

۱- ثابت کړئ چې $n!.n!=(n^2)!$

۲- په یوه صندوقچه کې (۳۰) دانې مردکي شتون لري چې، د هغوی له جملې څخه (۱۰) دانې یې سره، (۵) دانې یې شنه او (۱۵) دانې یې سپین دي. احتمال یې داسې پیدا کړئ چې له صندوقچې څخه د یوه مردکي په ایستلو کې به مردکی کوم رنګ وي.

۳- ممتحن د (۲۵) پوښتنو له جملې څخه درې پوښتنې غوره کوي، کوم احتمال به شتون ولري چې محصلین به د کومو دریو پوښتنو په اړه له (۲۰) پوښتنو څخه حدس ووهي.

۴- د دوه قطیو په منځ کې د برق یو شمېر ګروپونه شتون لري، خرنګه چې په لومړي قطي کې د (۱۲) ګروپونو له جملې څخه یو دانه یې ناقص او همدارنګه په دویم قطي کې د (۱۰) دانو له جملې څخه یو دانه یې هم ناقص دی. احتمال یې په هغه صورت کې پیدا کړئ چې، که له لومړي قطي څخه په کیفي ډول یو ګروپ واخیستل شي او په دویم قطي کې کېښودل شي، هم ناقص دی.

د دویم قطي لارښوونه $P(B)=\frac{11}{12}$ و $P(B?)=\frac{1}{12}$

۵- ٪۵۰ تولې پرزې چې د یوې دستګاه په مرسته تولیدیږي او په هغه کې یو فیصد زیان شتون لري، ٪۳۰ فیصده یې چې د دویمې دستګاه په مرسته تولیدیږي دوه فیصده زیان لري او ٪۲۰ فیصده چې د دریمې دستګاه په مرسته تولیدیږ په هغه کې ٪۵.۱ فیصده زیان شتون لري. مساوي احتمال به څو وي که پرزه له دستګاه څخه زیانمنه تولید شي.

$$P(A)=P(B_1).P_{B1}(A)+P(B_2)P_{B2}(A)+P(B_3)P_{B3}(A)$$

۱- د لوبو د ۳۶ قطعو له منځ څخه په کیفي توګه درې قطعې اخیستل کیږي، احتمال یې په هغه صورت کې پیدا کړئ چې د درې اخیستل شوو قطعو له جملې څخه لږ تر لږه یو له هغه څخه طوس وي.

لارښوونه: $P(A)=1-P(A)\ ,\ P(A)=\frac{C_{32}^{3}.C_{3}^{0}}{C_{36}^{3}}$

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درېیم څپرکی

## د ترکیباتو تیوري

**ټولیزه موخه:**

پېش بیني شوو موخو ته د رسېدو په غرض د پدیدو ترکیب، بدلون او ترتیب.

**د زده کړې موخې**: هیله کیږي تر څو زده کوونکي د دې څپرکي په پای کې وکړای شي:

۱- د بدلیدو یا تبدیل مفهوم توضیح کړي او د بحث وړ پدیدې دې په مناسبه توګه تبدیلې کړي.

۲- د ترتیب مفهوم دې توضیح کړي او د بحث وړ پدیدې دې په مناسبه توګه ترتیب کړي.

۳- ترکیب دې د احتمالاتو له تیوري سره سم توضیح او د پدیدو حوادث دې ترکیب کړي.

د ترکیباتو د محاسبې لپاره د احتمالاتو دوه عمده او بنسټیز اصله شتون لري چې، د جمع له قواعدو (د اتحاد قاعده) او ضرب قاعدې (تقاطع) څخه عبارت دی چې په دویم څپرکي کې په لنډه توګه توضیح او تشریح شوې دي، خو دا قواعد په شمېرلو کې د ضرب له اصل سره او په شمېرلو کې د جمع له اصل سره توپیر لري، ځکه د اتحاد او تقاطع قواعد پر حوادثو او اتفاقي احتمالاتو تړلي دي چې، پر له پسې متصل یا منفصل وي، خو د شمېرلو او ضرب لپاره د جمع په قواعدو کې مور له موجوده او مشخصه پدیدو او واقعیتونو سره سر او کار لرو چې هغوی ته له خپلې غوښتنې او ارادې سره سم نظم او ترتیب ورکولای شو.

په شمېرلو کې د جمع اصل: که چېرې n د خپلواکې عملیې جمله په $P_1, P_2, P_3, \ldots,$ $P_n$ بېلا بېلو بڼو سر ته رسېدای شي او عملیه چې مقصد یې د دغو عملیاتو له جملې څخه د یوې پېښېدنه وي په $P=P_1+P_1+\ldots P_n$ په بېلا بېلو بڼو تر سره کېدای شی.

بېلګه: له څلور رنګه ټوکر (تور، سپین، سور او شین) څخه کولای شو څو بیرقه جوړ کړو داسې چې هر بیرق له دوو رنګونو څخه لږ رنګ ونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**حل:**

د دوه رنگه بیرقونو تعداد $P_1=4.3=12$

د درې رنگه بیرقونو تعداد $P_2=4.3.2.1=24$

د څلور رنگه بیرقونو تعداد $P_3=4.3.2.1=24$

د ټولو بیرقونو تعداد $P= P1+P1+P3$

په شمېرلو کې د ضرب اصل: که چېرې د n عملیه د $P_1,P_2,P_3,...P_n$ په بېلا بېلو بڼو پېښې شي دغه عملیې په هم مهاله توگه د $P=P1.P2.P3....Pn$ په بېلا بېلو بڼو ترسره کېدای شي.

بېلگه: له څلور تنو انگلیسانو، پنځه تنو فرانسویانو او دوه تنو مصریانو څخه څو درې کسیزه کمیسیونونه چې د نوموړو استازو لرونکي وي جوړېدای شي.

**حل:** د کمیسیونونو تعداد:

$P=4.5.2=40$

**ترتیبونه (Arrangments):** هغه بېلا بېل حالات چې n شي، په مرتبه توگه د یو بل څنگ ته ځای په ځای کېدای شي د هغوی د بېلا بېلو ترتیبونو په نوم یادیږي او د دې ترتیبونو تعداد عبارت دی له:

$P(n,n)=n!$

په بل عبارت د ست له عناصرو څخه د هر محدود منظم ست ته ترتیب ویل کیږي.

څرنگه چې په افاده کې $n=k, A_n^k$ وضع شي نو:

$P_n=n!=A_n^k$

**بېلگه:** د a,b,c درې توري په څو بڼو د یو بل څنگ ته ځای په ځای کېدای شي.

$P=3!=3.2.1=6$

**بېلگه:** د 2،4،6 او 8 له ارقامو څخه څو څلور رقمي عدده کولای شو جوړ کړو داسې چې د اعدادو ارقام نه وي تکرار شوي.

$P(n,n)=4!=4.3.2.1=24$

**بدلونونه (Permutations):** هغه بېل حالات چې r شي، له بېلا بېل n شي څخه $(r<n)$ د یو بل په څنگ کې مرتب کېدای شي. د n شی د r په r بدلونونو په نوم یادیږي او د هغوی تعداد عبارت دی له:

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$P(n.r)=\frac{n!}{(n-r)!}$$

$$A_n^r=\frac{n!}{(n-r)!}= n(n-1)(n-2) ---- (n-r+1)$$

**بېلګه:** يو توپير لرونکی درې رنګه بيرغ په هغه صورت کې چې زموږ په لاس کې موجوده مواد له پنځو رنګونو څخه جوړ شوي وي جوړولای شو داسې چې د ټوکر درې رنګه په افقي شان د بيرغ عرض جوړوي او له رنګونو څخه سور رنګ حتمي وي.

$$A_5^3=\frac{5!}{(5-3)!}=5.4.3=60$$

(۱) يادونه- ليدل کيږي چې د خصوصي حالت ترتيب له بدلون څخه دی کله چې r=n وي.
(۲) يادونه- که چېرې n شی د دايرې پر مخ مرتبه شي د دايروي بدلونونو په نوم ياديږي او د هغه ترتيبونه عبارت دي له !(n-1)

**ترکيبونه (Combinations):** هغه بېلا بېل حالات چې (r) شی، د n شی له ترتيب څخه پرته له دې چې په پام کې و نيول شي بېل ټاکل کيږي د n شی r په r ترکيبونو په نوم ياديږي او د هغوی تعداد عبارت دي له:

$$\begin{bmatrix} n \\ r \end{bmatrix}=\frac{n!}{(n-r)!r!}=\frac{n(n-1)(n-2)...((n-r+1)}{(n-r)!r!} \qquad r<n$$

واضح ده چې $\begin{bmatrix} n \\ 0 \end{bmatrix}=1=\begin{bmatrix} n \\ n \end{bmatrix}$

د $\begin{bmatrix} n \\ r \end{bmatrix}$ د سمبول په ځای د C(n,r) او $C_n^r$ سمبولونو څخه هم ګټه اخيستل کيږي چې، په دې فورمول کې r فرعي ستونه عضوي r له يو ست څخه عضوي n ښيي.

- وروسته د پورتنيو توضيحاتو پر بنأ ويلی شو چې د r شی يو ترکيب له بېل يا متمايز n شي څخه عبارت دی د r شي غوره کول له دې ځيزونو (اشياوو) څخه پرته له دې چې په يو ځانګړي ځای کې ځای پرځای شي په مجدده توګه او پرته له دې چې د هغوی ترتيب په پام کې و نيول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو لیدل کیږي که په بدلون کې ترتیب راغلی وي، څیزونه (اشیاء) بدل کړو یو نوی حالت لاسته راځي څرنګه چې د څیزونو ځای په ځای کول په ترکیب کې نوی حالت منځ ته نه راوړي او له بل پلوه په بدلون او ترکیب کې انتخاب په نظر کې نیول کیږي. په داسې حال کې چې په ترکیب کې د انتخاب ترتیب په نظر کې نه نیول کیږي او د ترکیب مفهوم د اړیکې یا رابطې په توګه د طبیعي اعدادو ترمنځ توضیح کوي.

بېلګه: په یوه کڅوړه کې (۳) سرې مرۍ، (۵) سپینې مرۍ او (۸) شنې مرۍ دي. په څو لارو کولای شو (۲) سرې مرۍ، (۱) سپینه مرۍ او (۲) شنې مرۍ غوره کړو.

**حل:** باید دا په پام کې ولرو چې هر رنګه مرۍ له یو بل څخه توپیر لري نو مطلوبه کمیت عبارت دی له:

$$\binom{3}{2}\binom{5}{1}\binom{8}{2}=\frac{3!}{2!1!}.\frac{5!}{1!4!}.\frac{8!}{2!6!}=\frac{3.5.8.7}{1.1.2.1}=420$$

$$\binom{9}{5}=\frac{9!}{(9-5)!5!}.\frac{9!}{4!5!}=\frac{9.8.7.6.5.4.3.2.1}{4.3.2.1.5.4.3.2.1}=144$$

**تکراري ترکیبونه:** له تکرار سره ترکیب: د یوه ست د عناصرو په ټاکلو کې د ست ځینې عناصر څو ځلې تکرارېږي د بېلګې په ډول د ۱، ۳، ۴ او ۵ له اعدادو څخه څو درې رقمي عدده کولای شو ترتیب کړو. که چېرې یو یا عین عدد څو ځلې تکرار شي نو $5^3=125$ کیږي.

نو په دې اساس تکرار لرونکي ترتیبونه د $A_n^m=n^m$ د فورمول په مرسته څرګندیږي.

**بېلګه:** څو درې رقمي عدده کولای شو د ۱ او ۲ په رقمونو ولیکو.

$8=2^3$

**بېلګه:** څو بېلا بېل څلور رقمي عدده کولای شو له صفر، ۱ او ۲ اعدادو څخه ترتیب کړو که چېرې د اعدادو تکرار مجاز وي.

**حل:** له درې ورکړل شوو عددونو څخه څلور رقمي اعداد جوړولای شو په دې شرط چې هغه اعداد چې کیڼ لوري ته یې صفر ځای په ځای کیږي منفي شي.

$A_3^4-A_3^3=3^4-3^3 81-27=54$

**بدلېدل یا تکرار:** د n شی د بدلېدلو تعداد شیي، څرنګه چې په هغه کې یو د P دفعه او بل د q دفعه له څیزونو (اشیاؤ) څخه تکرار شوي وي عبارت دي له:

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\frac{n!}{P!q!} \text{ یا } P_{n_1,n_1,...n_m} = \frac{(n_1+n_1+...n_m)}{n_1!n_2!....n_n!} = \frac{n!}{n_1!n_2!....n_n!}$$

که چېرې n! بدلونونه انتخاب شي او د دې ست عناصر تکراري وي، بدلون له تکرار سره له n! څخه کوچنی دی.

**بېلګه:** د کلمې بېلا بېل څو توري کولای شو له هغو تورو څخه چې د (Matematuka) کلمه جوړه شوې ده واخلو.

**حل:** $n_1=2$ (m توری)، $n_2=3$ (a توری)، $n_3=2$ (t توری)، $n_4=1$ (e توری)، $n_5=1$ (u توری)، $n_6=1$ (k توری)

نو لرو:

$$P(n_1,n_2,n_3,n_4,n_5,n_6)=\frac{10!}{2!3!2!1!1!1!}=151200$$

**بېلګه:** د کلمې څو توري کولای شو د BABBY له کلمې څخه جوړه کړو.

**حل:** په دې ځای کې 5!=120 د $B_1,A,B_2,B_3,y$ له تورو څخه تبدیل لرو چې په هغو کې درې B بېل یا متمایزشوي دي چې شپږ لاندې بدلونونه جوړولای شو.

$B_1B_2B_3Ay, B_1B_3B_3Ay, B_2B_1B_3Ay, B_2B_3B_1Ay, B_3B_1B_2Ay, B_3B_2B_1Ay$

$$P_{5,3}=\frac{5!}{3!}=\frac{5.4.3.2.1}{3.2.1}=20$$

او د 6 عدد مساوي دی له 3! سره.

**ترکیب له تکرار سره:** فرض کوو د {a,b,c} ست ورکړل شوی وي او له هغه څخه (۵) عنصره ترکیب له تکرار سره جوړ کړو لکه د aabbc بڼه او د 11.11.1 سمبولیک څرګندیږي، دا څرګندېدل داسې توضیح کیږي چې، a د دویم ځل لپاره تکرار شوی دی (۱۱) وروسته له هغې چې a شتون نه لري، (۰) وروسته له صفر څخه b د ۱۱ په بڼه او همدارنګه بل b شتون نه لري او د صفر په مرسته بیلیږي. په آخر کې د C (۱) توری شتون لري.

$$P_{5,3\text{-}1}=\frac{(5+3-1)!}{5!(3-1)!}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځکه چې:**

$$C_n^m = P_{mn-1} = \frac{(m+n-1)}{m!.(n-1)!}$$

یا $C_{m+n}^m = C_{m+n}^{n-1}$

**بېلګه:** د پرچون خرڅوونکي په یوه دوکان کې لس ډوله پست کارته شتون لري، په څو ډوله کولای شو له ۱۲ او ۸ پست کارتونو څخه ترکیب جوړ کړو په دې شرط چې د پست کارت په غوره کولو کې تکرار مجاز وي.

$$C_{10}^{-12} = \frac{(12+10-1)!}{12!(10-1)!} = 293930$$

$$C_{10}^{-8} = \frac{(12+8-1)!}{8!(10-1)!} = 24310$$

**بېلګه:** په یوه ټولګي کې چې لس زده کوونکي لري، شپږ تنه یې نرینه او څلور تنه یې ښځینه دي د n طریق تعداد چې:

a- له دې زده کوونکو څخه دې یوه څلور عضوي کمېټه غوره کړي.

b- یوه څلور عضوي کمېټه، دوه نرینه او دوه ښځینه دې غوره کړي.

c- ټولګی دې وکړای شي رئیس، د رئیس مرستیال، خزانه دار او منشي غوره کړي.

**حل:**

a- $(C(10,4=\begin{pmatrix}10\\4\end{pmatrix}=910$

b- له شپږ نرینه و څخه $\begin{pmatrix}6\\2\end{pmatrix}$ طریق 2 نرینه ټاکل کیږي او 4 ښځینه $\begin{pmatrix}4\\2\end{pmatrix}$ طریق او ښځینه ټاکل کیږي نو:

$$\begin{pmatrix}6\\2\end{pmatrix}\begin{pmatrix}4\\2\end{pmatrix}=90$$

c- په دې پوښتنه کې ترکیب په نظرکې نه دی بلکې ترتیب په نظر کې دی بناً:

n=P(6,4)= $A_6^4 = 360$

**بېلګه:** $\begin{bmatrix}9\\5\end{bmatrix} = \frac{9!}{(9-5)!5!} = \frac{9!}{4!.5!} = \frac{9.8.7.6.5.4.3.2.1}{4.3.2.1.5.4.3.2.1} = 144$

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د درېيم څپرکي د مطالبو لنډيز

هغه بېلا بېل حالت چې n شی په مرتبه توګه د يو بل په څنګ کې ځای په ځای کېدای شي د هغوی د بېلا بېل ترتيب په نوم يادېږي او د ترتيبونو تعداد د فکتوريل په مرسته لاسته راتلای شي، د بېلګې په ډول کولای شو د n شی ترتيب د دې فورمول په مرسته لاسته راوړو.

$$P(n,n)=n!$$

**تبديل:** هغه توپير لرونکي حالات چې r شی، له n شي څخه (r<n) د يو بل په څنګ کې مرتب کېدای شي او د بدلونونو تعداد د لاندني فورمول په مرسته لاسته راځي.

$$P(n,r)=\frac{n!}{(n-r)!}$$

همدارنګه ترتيب له تکرار سره، تبديل له تکرار سره او ترکيب له تکرار سره په احتمالاتو کې د استعمال موارد لري.

**ترکيب:** هغه بېلا بيېل حالات چې (r) شی، د n شي له ترتيب څخه پرته له دې چې په پام کې و نيول شي بېل ټاکل کيږي د n شی، r په r ترکيبونو په نوم يادېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د درېیم څپرکي پوښتنې

۱- له ۱۱ ټوکه کتابونو څخه په څو بېلا بېلو بڼو کولای شو پنځه ټوکه یې په الماری کې مرتب کړو.

۲- د teeth له کلمې څخه څو پنځه توریزې ځمونې کولای شو ولیکو.

۳- څو یوولس توریزې ځمونې د MISSISSIPPI له کلمې څخه جوړېدلای شي.

۴- له یو دولس کسیز لست څخه څو پنځه کسیز بېل ګروپونه کولای شو غوره کړو.

۵- له یو ګروپ څخه چې له ۴ نرینه او ۵ ښځینه څخه جوړ شوی وي، څو پنځه کسیزه کمیټې چې ۳ تنه نرینه او ۲ تنه ښځینه غړي ولري، د ټاکلو وړ دي.

۶- د افغانستان د کلمې توري په څو ډوله ترتیب کېدای شي.

۷- اوه دانې منې د درې تنو ماشومانو ترمنځ داسې چې د هغوی مشر ته درې دانې او نورو هر یوه ته دوه، دوه دانې ورسیږي په څو ډوله ترتیب کېدای شي.

۸- له لس تنو محصلینو څخه څو دوه کسیز ګروپونه جوړېدای شي.

۹- که چېرې یوه سکه څلور ځلې پورته واچول شي.

a. ممکنه فضاء مطلوبه ده.

b. په څو حالته کې دوه ځلې په مخ راځي.

c. په څو حالته کې درې ځلې په مخ راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سرچينې او اخيستنې


**د احتمالاتو برخه**

۱- جلیلی مرزا، ریاضیات جدید، ۱۳۷۰
۲- غوری ، محمد انور، ریاضی عمومی، ۱۳۸٤
۳- موحد حبیب الله ، تیوری احتمالات ،۱۳۸۵
٤- پوهاند غلام سنایی و پهنیار ذکیه، حل مسایل احتمال ۱۳۸٦

**د احصايې برخه**

۱- اصیل، مراد علی، تیوری احصائیه
۲- غوری، محمد انور، ریاضی عمومی
۳- حمیدی، عبدالباقی ، احصائیه
٤- لکچرنوت پوهنحی اقتصاد، ۱۳۸٦-۱۳۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ښوونيز نصاب د پراختيا د رياست پيغام

د پوهنې وزارت د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت دښوونيز نصاب د انکشاف رياست د ټولنې دعيني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلينو او شاګردانو د درسي کتابونو په برخه کې يې تخنيکي او مسلکي رشتې درلودې او لري يې، په لومړي سرکې يې تصميم ونيو، چې په ښوونيزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بياکتنه وکړي او ورپسې بيا د شاګردانو او محصلينو د درسي کتابونو د تاليف لپاره مبادرت او کوښښ وکړي. د خدای(ج) په فضل او مرحمت سره او د ادارې او حسابدارۍ څانګې د ښوونکو په ميړانې او همت سره د ادارې او حسابدارۍ درسي کتابونه تاليف شول تر څو په وړيا ډول د شاګردانو او محصلينو په واک او اختيار کې ورکړل شي.

د علم او معرفت له ټولو لوستونکو، علاقمندانو، د ادارې او حسابدارۍ د مکاتبو له ښوونکو، ګرانو شاګردانو او د تخنيکي او مسلکي زده کړو د چارو له متخصصينو او همدا شان له ټولو څېړونکو او شنونکو څخه صميمانه هيله کيږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښوونکو او د ادارې او حسابدارۍ څانګې د مسلکي غړو له لوري تاليف او تدوين شوي دي. د مسلکي، تخنيکي او علمي مطالبو او مفاهيمو د څرنګوالي په هکله خصوصاً د هغوی املايي او انشايي اشتباهاتو په اړهمونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې وکړای شو، په همدې او نورو برخوکې ګرانو شاګردانو ته له دې څخه ښه، غوره، ګټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شان له ګرانو شاګردانو او محصلينو څخه هيله کوو ترڅو د دې کتابونو د مطالعې او استفادې پر مهال د هيواد اقتصادي ستونزې، فقر او وروسته پاتې والی په نظرکې ونيسي او د کتابونو په ساتنه کې کوښښ او زيار وباسي، ترڅو د ډېرو شاګردانو او محصلينو د ګټې وړ وګرځي.

پته: دپوهنې وزارت – دتخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت د تعليمي نصاب د انکشاف رياست – دکتابونو د تاليف او د درسي ممدو موادو د برابرولو عمومي مديريت.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**